

# سوات نامه

## د خوشحال خان خټک

د علامه عبدالحی حبیبي

د سریزي اوڅرگندونو سره

۱۳۵۸

# د خوشحال خان خټک

# سوات نامه

۱ ـ سریزه: د عبدالحی حبیبي
۲ ـ سوات نامه: متن د خوشحال خان خټک

یادونه: د متن په حاشیو کي (مر) د تاریخ مرصع چاپ شوې نسخې ته اشاره ده، چي د ښاغلي دوست محمد کامل په اهتمام په ۱۹۷٤م کال په پېښور کي یونیورستي بک ایجنسي چاپ کړې ده.

(ار) ارمغان خوشحال په نامه د ده د اشعارو هغه مجموعه ده، چي د پېښور دغي ایجنسۍ په ۱۹٦٤م کال د ښاغلي سید رسول رسا په اهتمام چاپ کړې ده.

دغه دواړه کتابونه د سوات نامې د متن په تصحیح او تحشیه کي زما تر نظر لاندي وو (حبیبي) ۲٤-٦-۱۳۵۸.

# سریزه

## (۱) سوات

د هندوکش د جګو او په واورو پټو څوکو او سر درو سلسله د افغانستان په زړه کي تیره شوې او د شمال ختیځ پلو ته، د پښتونخوا د شمالي غرونو هغه سیمې او لوړې ژوري جوړوي، چي د قره قروم او دردستان له ښکلو درو سره نښلي. او له دغو غرو څخه ځپاند سیندونه لکه کابل، کونړ، پنج کوړه، اباسین، پنجشیر، غوربند او نور را وزي، چي په ختیځه شمالي څنډه کي د پښتونخوا ختیځ شمالي برید ته د پکهلۍ د سیمي د یوه اړخ د کاشان له درې څخه د کونار رون او ځپاند سیند راوزي، او دا ګرده ژوند بخښونکي رودونه، نه یوازي د پښتونخوا شمالي برخي بلکه د پنجاب سیمې هم خړوبوي.

په دغو بهاندو او غورځندو سیندونو کي یو سوات نومیږي، چي د دردستان او بلور له لوړو سیمو څخه را بهیږي، او له اشو کالامه بیا تر هغه ځایه چي په نسته کي د کابل د سیند سره نښلي، اوږدوالی یې (٦٠) میلو ته رسي. دا یوه داسې ښکلې او د لید وړ سیمه ده چي د شمالی پښتونخوا په غرنیو برخو کي یې ښکلا او ځلا هیڅوک نه شي هېرولای.

د سوات نوم د تاریخ له پلوه هم خورا لرغونی دی. کله چي اروپایي قومونه له باختر او د هندوکش له شنو او ښایستو لمنو څخه درې زره کاله دمخه، ختیځ پلو ته وخوځېدل، نو د دوي د لرغوني کتاب ریګوید د سیندونو په سندرو کي کله چي د کابل، کورم، ګومل، اباسین نومونه ستایل کیږي، د سوات رود د سویتی Sueti په نامه یادیږي، او په یوه بله سندره کي هم دغه

سیند سواستو Suvastu بلل شوی دی[۱] او د دغو دواړو یادونو څخه دا ښه ښکاري چي د آریانو د لېږد په وخت کي دغه سمسوره سیمه ودانه وه او دغو لیږدیدونکو خلکو پیژندله او پکي میشته شوي وو.

* * *

د ریګوید تر عصر را وروسته چي اریایي قومونه د هند په شمالي خوا کي خپاره او ودان شول، د سنسکریت د ژبې لوی پوهاند او ګرامر لیکونکی پاڼی نی Panini چي د ۳۵۰ق،م شاوخوا کي د اټک پر غاړه اوسیده، دی هم وایی چي د سواستو Suvastu رود د خپله معاونه سره Gauri (پنج کوره) د ګندهارا په شمالي خوا کي له اډهیانه Uddiyana څخه را بهیږي. چي د پنډو کمبله Pandu-Kambala (پنډ+کمبله) په نامه يې شړۍ مشهوري وې.[۲]

د هند یو مشهور پوهاند اګره والا لیکی: چې د پاڼي نی په وختو کي دغه دواړه رودونه سوات او پنج کوره مشهور وو. چي د ګندهارا په لوړه څنده اډیانه کي بهیدل.[۳] د سوات دغه بهاند او فیاض رود په مها بهارته کي د بهیشمه Bhishma په نامه یاد شوی و (فصل ۹) چي اریان Arrian یوناني مؤرخ د ۱۷۵م په شاوخوا کي سواستوس Suastos بللی دی، چي د

۱. د ریګوید انګریزي ترجمه ۱\ ۵۲۲ سندره ۵-۶-۱۰ د سوات د کلمې یو حدسي او تخمیني تحلیل د دې سریزې په لسمه برخه کي ولولئ.
۲. د پاڼی نی کتاب: اشتاد هیایی (اته ویناوې) پنځم ۲، ۷۷.
۳. V.S. Agarvala, India as known to Panini, Lucknow 42, 1953

بودايي ليکوالو په قول دا د مملکت يوه سيمه وه او لرغونۍ پايتخت يې د ارشته پوره Arishtha-Pura په نامه د سوات اوسنی چار باغ و.[۱]

د سوات جغرافي موقعيت داسې و چې د پښتونخوا د شمالي څنډې د غرونو په لمنو کې د هند لويو لارو ته نږدې په يوه زرغونه او ډېره ښکلې سيمه کې پروت و، او آريايي خلکو د ريګويد د زمانې را پدې خوا، د دغو غرو او رودو سره مينه درلوده، او پکې ميشه کيدل به. دغه خلک چې د خپلو اجتماعي پړاونو تيريدلو په سلسله کې له کوچي ژونده زراعتي او کليوالي ژواک ته رسيدل، نو د دوي لپاره د سوات غرونه او سمسورې سيمې تر ګردو نورو ځايو خورا ښه هوسا تون ګڼل کېده، د کر پټي، او رشو پراخه وه، او هوا يې هم خورا په زړه پورې او د سهلو وړ وه، دا لا څه کوې ځي د جهانګيرانو او يرغلګيرانو له څپو او آزاره به لا هم خوندي وو.

د ۳۲٦ ق،م کال ژمی و چې اسکندر مقدوني فاتح د کونړ په سيمو کې د اسپيزي (يوسفزيو) سره وجنګېد او له دغه ځايه پر باجوړ او چکدره ور تېر سو، سوات يې تر مساګي پورې ونيو. وروسته د اټک له لارې پر اباسين ور واوښت او ټکسيلا يې ونيوله. د سکندر برم پر دې سيمو باندې تشه يو تيريدونکي ورا وه. خو تر ده وروسته د ده پاته شوي جنرالان په باختر او پښتونخوا کې پېړۍ پېړۍ د اقتدار ملونې په لاس حکمرانان وو. او له ختيځه پلوه د هند د موريا کورنۍ غښتلي پاچهي د چندرا ګوپتا په مخکي جوړه شوه (۳۲٤ ق،م) او د هندي کلتور اغيزې يې په پښتونخوا کې د يونانيو رشو او دودونو سره ګډې کړې، چې وروسته په ۲٦۰ ق،م مهاراجه اشوکا د بودا دين

---

۱. Nundo Lal, The Geographical Dictionary of Ancient India, p. 199, Delhi 1971

هم ور سره خپور کړ. او په دې تهذيبي اختلاط کې د سوات سيمې د ګريکوبوديک مدنيت اغيزې مومي او بيا چې د ميلادي کلونو په پيل کې د کوشاني قومونو اقتدر او مدنيت خپريده، او د کنيشکا د ژمي پايتخت پيښور، سوات ته ور څرمه و، نو د کوشاني کلتور ډير آثار تر اوسه لا هم د سوات له هره ګوټه څخه را وزي.

* * *

د ميلادي لومړيو درو څلورو پيړيو په ترڅ کې د سوات سيمه د بودايي کلتور سمسورتابه او غوړيدلو ځای و. او کله چې به له نورو ليرو هيوادو څخه بودايي بمبڼ (راهبان) د زيارت لپاره راتلل، نو په دوي د سوات بودايي مقدس مقامات هرو مرو ليدل. لکه چې درې تنه چيني بودايي راهبان په لاندې ډول سوات ته راغلي او پخپلو يون ليکونو (سفرنامو) کې يې د سوات يادونې داسې کړي دي.

په ٤٠٠م کال د چين بودايي زاير فاهيان، له چانګان څخه د بودايي مقدسو سيمو د زيارت او د ديني نايابو کتابو د ټولوني لپاره په يون پيل وکړ او تر ١٤ کالو سفرو وروسته په ٤١٤م کال نانکن ته ور ستون شو.

فاهيان له کاشغره د اباسين سيمو او ګندهارا ته راغي. بنون، هډه، جلال آباد او پيښور يې تر سواته وليدل، دي وايي: چې اوچينګ (اوديانه) د هند د شمالي برخې پيل دي او ټول خلک د منځني هند په ژبه ږغيږي، جامې او کړه وړه يې هم د منځني هند خلکو ته روته دي، د بودا دين دلته ډيره موده کړې ده او د راهبانو د هستوګنې لپاره ډيرې سنګهارامې شته، چې شمير يې پنځو سوو ته رسيږي، او د کوچني يون (هينايانه) په مذهب اړه لري او خلک وايې چې بودا د خپلی پښې يو پل (منډ) دلته پرښوولی و. چې د

لیدونکی د عقیدې سره سم به کله اوړد او کله لنډیده. دلته یوه جګه او خورا ښویه تیږه هم وه، چې بودا خپلې جامې پر غوړولې وې، او په هم دغه سوـ هوـ تو کې بودا د کوترې د نجات لپاره خپله یو ټوټه غوښه باز ته ورکړې وه او خلکو پر دغه ځای باندې یوه زرنګاره سټوپه جوړه کړې وه.[1]

بل چیني زایر چې په ٥١٧م کال یې دې سیمو ته سفر وکړ سونګ ین دی. دی وایي چې د اودیانه او بلور په درو کې یې د اوسپنې درانه او غټ ځنځیران د پلونو په توګه استعمالول او د دې ځای حکمران غوښې نه خوړې. د بوټو غذا یې خوړه، د بودا ټینګ دروړي و.

سونګ ین د سوات بودایي متبرکات یو یو ښیي او د بودا پلونو (منډونو) زیارت ته ځي، چې دمخه د فاهیان په سفر نامه کې هم ذکر شوي و. هر ځای معابد، بودتونونه او د بمبنړو ټاټوبی ویني او په سوات کې د بودایي دنیا عجایب بیانوي.[2]

تر سونګ ین یوه پیړۍ را وروسته د چین یو بل بودایي مسافر هیون څنګ دی چې په ٦٢٩ کال د لویدیځو هیوادونو په لیدنه کتنه را ووت. او په ٦٤٥ کال بیرته خپل وطن ته ستون شو. ده د بودایي غټ یون (مهایانه) ١٢٤ ټوکه کتابونه په دې سفر کې میندلی و. چې پر ٢٢ آسو بې چین ته ورسول او خپل یاداشتونه یې په یوه کتاب کې ولیکل، چې سیـیوـکی نومیږي یعنې د "لویدیځې نړې یادونې".

---

١. د فاهیان سفر نامه ١٥ د ګیلس انګریزي ترجمه د کمبرج چاپ ١٩٢٣م.
٢. سیـیوـکی پښتو ترجمه ٦٦ د کابل چاپ ١٣٥٧ش.

هیون څنګ د ۶۳۱م (۹هـ) د جنوري په لومړۍ ورځ په اودیانه کي و او له دې ځایه چي اوس یې مردان بولي سواستو Su-fa-sa-to ته د مارچ په اوله ورځ ورسید او بیا په اپریل ۶۳۱م تکسیلا ته ولاړ.

د هیون څنګ د سفر وخت په پښتونخوا کي هغه زمانه ده، چي د اسلام د دین رڼا لا دې سیمو ته نه وه را رسیدلې. د هجرت نهم کال و، او دلته د بودا د دین کوچنی او غټ مذهب خلکو مانه. ګندهار او اودیانه (مردان) او سواستو (سوات) د بودایي دین مراکز وو او په سوو سوو بودتونه د بودایې راهبانو او ستانو څخه ډک وو.

هیون څنګ چي کاپیسا ته راغي د دې ځای حکمران یو کشتریه (له لښکري ډلي) څخه ډیر هوښیار سړی و، د ده د هیواد قلمرو ۱۲۰۰ میله و، پر لسو نورو هیوادو یې حکم جاري و هر کال به یې د بودا یوه سیمیله ۱۸ فټه جګه مجسمه جوړوله، او د بودا مذهبي لویه جرګه (موکشامها پریشاد) به یې هم سره را غونډوله. سل بودتونونه په شپږو زرو بمبڼو ډک وو. تر پیښوره او اټکه یې حکم چلیده. هیون څنګ د سوات د سیند پر دواړو څنډو یوزر او څلور سوه سنګهارامې ښیي، چي د ده په وخت کي ځیني ورانې شوي وې او پخوا اتلس زره راهبان پکې اوسېدل. دې سیمې څلور پنځه ټینګ ښارونه لرل او د حکمران ناستون یې منګالا نومیده، چي اوسنۍ مینګور به وي. د دې ښار شمال ختیځي خوا ته د اپالالا ناګا ډنډ د سوات د سیند سر چینه وه، وا بیا یې لویدیزي خوا ته د بودا د پله (منډ) زیارتګاه او د چینې د وچولو تیزه او د مهاوانا بودتون او د بودا د لرغونو ژوندونو متعدد یادګارونه

او ستوپې د هیون څنګ په سفر نامه کي یاد شوی دي چي د سیمې د خلکو عقیدوي لوېدلی حالت او په خرافاتو کي غوټې وهل ښه څرګندوي.[۱]

د هیون څنګ په قول سوات ۶۰۰ لی (۱۰۰ میله) له پیښوره شمال ته پروت و چي اوچنګ ـ اودیانه یې باله او د د سنسکریټ کلمه اوجانه ده چي معنا یې لوی باغ یا خورا زرغونه او سر سبزه سیمه ده. او چاپېر یې ۵۰۰۰ لی (۸۳۳ میله) و چي تر سوات رودګرده لاندي سیمي پکي شمېرلې کېږي: لکه پنج کوره، باجوړ، سوات، بونیر. او په همدغه سیمه کي د بودا یوه د لرګي غته مجسمه ۱۰۰ لته جګه ولاړه وه چي د اشوکا د سلطنت په ۲۴۳ ق،م کي درول شوې وه.[۲]

* * *

تر اسلام دمخه د سوات شهرت او وداني او فرهنګ په لوړ ډول د هندي او نورو مقامي توکو څخه یو ګډ او مخلوط ژواک و، چي د پښتونخوا تیر تاریخ او فرهنګ کړه وړه هم کټ مټ دغسې وو. دلته د کوشان له کورنیو څخه مختلفې ډلې او له یفتلیانو څخه پاته کورنۍ د پښتونخوا په ګوټ کي د حکمران په توګه پاتې وې. لکه چي د کابلشاهانو کورنۍ له کابله تر اباسین پورې د اقتدار خاونده وه، او شمالا هم د دوی اقتدار تر سواته خپور و. او د دې مقصد لپاره اوس یو ژوندی سند هم شته، ځکه چي د سوات په بریکوټ کي یو ډبر لیک په سنسکریت او سره داناګري خط په ۱۸۹۷م پیدا شو، چي اوس د لاهور په موزیم کي دی. پر دې ډبره داسي کښلي دي:

۱. وګوری د سي ـ یو ـ کی پښتو ترجمه، دریم کتاب ۱۸۵.
۲. Cunninghan, Ancient Geography of India 83, London 1871

"د ستر حکمدار او تر ګردو شاهانو غټ، لوی پاچا سري جیه پاله دیوه په پاچهۍ کي". [۱]

دغه جیه پاله (جیپال) هغه کابلشاه دی، چي د پلار نوم یې بهیم دیوه و او د ۳۰۰هـ په شاوخوا کي یې پاچهي کوله. جیه پاله په ۳۴۹هـ، ۹۶۰م پاچا شو، او د العتبي په قول په ۳۹۳ق یې خپل ځان وسواځه[۲]. دغي کورنۍ د امیر سبکتګین د غزني د پاچا سره ډېرې ووهلې او کله چي له کابله بې کوره شو نو یې بیا د اباسین پر غاړه په ویهند (هنډ) کي دوهم پایتخت جوړ کړ، او له لغمانه تر پکهلۍ پورې د سوات په شمول د دوی مملکت و،[۳] خو د سلطان محمود یرغلونو دوی نونځه کړه، څو چي د دې کورنۍ پنځم پاچا بهیمه پاله د البیروني په قول په ۴۱۸ق (۱۰۲۶م) ووژل شو.[۴]

دا خبره هم د هیرولو نه ده چي د اسلامي عصر په شروع کي یو کابلشاه (یاوهمن مردان شاه) له زاوله تر اباسینده (حدود ۶۰۰م) حکومت لاره، چي پر سکه یې: "بګ خوتای وهمن مردان شاه" په پهلوي رسم الخط کښلی دی[۵] او ښایی چي د دې کابلشاه هیواد به هرومرو تر اباسینده پوري او ږد وو، او د سوات جنوبي سیمه به د مردان په نامه د ده په هیواد کې شامله وه. نو ځکه ده ځان (مردان شاه) ګاڼه، او دغه د اوسني مردان نوم به هم له هغه وخته پاته وي چي د سوات بهاند رود هم په دغه سیمه کي د کابل په رود ګډېږي.

---

۱. سر اولف کیرو: پټهان۱۱۲ د لندن طبع ۱۹۵۸م.
۲. تاریخ یمیني د لاهور چاپ ۱۳۰۰ق.
۳. وګورئ افغانستان بعد از اسلام ار ۷۱ تر ۱۰۴، ۱۰۷۱ تر ۱۰۸۲ د کابل چاپ ۱۳۵۷ش.
۴. کتاب الهند ۱۸\۱۲ انګلیسي ترجمه د لاهور چاپ ۱۹۶۲م.
۵. افغانستان بعد از اسلام...

دغه سیمه چي اوس يې د يوسفزو سمه يعني اواره مځکه بولي، عربو (الاهوار) بللې وه، او د اسلام رڼا هغه وخت دلته خپره شوې وه چي د کابل اسلامي فاتح عبدالرحمن بن سمره په ٤٤ق خپل سپه سالار مهلب بن ابي صفره (فارس الفرسان) دې سيمي ته را واستاوه، او ده د کابل او ملتان په منځ کي بنه او الاهوار ونيول او يوه عربي شاعر وويل:

الـم تـران الازد لـيـلة بيـتـوا     ببنه کانوا خير جيش المهلب[1]

که څه هم د بنه او الاهوار املا په خطي نسخو کي کرغيړنه شوې او په څو ډوله راغلې ده، خو زه دلته د يوسفزيی افغان ليکوال سره متفق يم، چي د البلاذري بنه بايد اوسنۍ بنه ډهيري وي، چي د مردان په توتالی کي د نهر ګوماتی څخه دوه ميله ليرې يوه د خاورو غونډۍ ده، چي د لرغون ښار وران کنډوونه هلته تر اوسه لا هم ليدل کيږي. اما د عربي الاهوار خو په ښکاره دغه پښتو نوم (هواره) ده، چي اوس يې د يوسفزو سيمه بولي.

*       *       *

اوس خو نو دا ښکاره شوه چي د اسلام رڼا د لومړۍ هجري پيړی په منځ کي دغې سيمې ته را رسيدلې وه چي د سوات او د کابل د رودو د پيوستون ځای دی. او له دې څخه هم سړی ويلای شي، چي په دريمه او څلورمه هجري پيړۍ کي به د غزنويانو د يرغلونو سره سم د اسلام دين په سوات کي هم خپور شوی وي چي لاندې خبرې هم دغه را ښيي.

حدود العالم ۳۷۲ق:

په اسلامي دوره کي تر لوړو ذکر شوو يادونو وروسته د يوه جوزجاني ليکوال ليکنه هم شته. د دې ليکوال نوم نه دی معلوم، خو خپل کتاب حدود

۱. البلاذري: فتوح البلدان ۵۳۱.

العالم من المشرق الی المغرب یې په ۳۷۲ هـ کال په دري ژبه کښلی دی. چي یوه خطي نسخه یې په شوروي اتحاد کي په ۱۹۳۰م په عکسي توګه چاپ شوه.

په دې کتاب کي د سوات ذکر، نیغ نه دي راغلي خو د شا و خوا سیمو نومونه یې راوړي دي مثلا دا اوسني سوات د شمالي غرو سوات د بلور په څرګندونه کي وایي: "بلور ناحیتیست عظیم و این ناحیت را ملکیست و چنین گویند که ما فرزند آفتابیم و تا آفتاب بر نیاید از خواب بر نخیزد و گوید که فرزند نباید که پیش از پدر خیزد و آنرا بلورین شاه خوانند و اندرین ناحیت نمک نبود، مگر آنکه از کشمیر آرند."[1]

محمد حیدر دوغلات، بلور د شرق له خوا د کاشغر او یارکند او له شماله د بدخشان سره نښلوي. لویدیځ ته یې لغمان او کابل او جنوب یې د کشمیر سیمې ګڼي.[2]

له دې څخه ښکاري چي د بلور سیمه ډېره پراخه وه. د کشمیر د غرو له لمنو څخه شروع بیا د اوسني نورستان تر کښتو درو پورې را رسیده. او اوسنی سوات ګرده پکې را نغښتی و. دا چي د دې غرنۍ سیمې حکمرانانو خپله کورنۍ په لمر پورې نښلوله هیون څنګ تر حدود العالم درې سوه کاله دمخه دا قصه اروېدلې او لیکلې ده، چي د چین یوه شهزادو (پیغله) د پوسله ـ سو (پارس) یوه پاچا ته ودوله کیده خو د یوه اړو دوړ په سبب، دلته د یوه غره پر څوکو وساتله شوه چي څوک لاس ور وانچوي مګر ماپښین له لمره یو څوک را شیوه شو او دا یې برالبه کړه، او له نسه یې دغه کورنۍ را

۱. حدود العالم، د بارتولد عکسي چاپ، لنین ګراد ۱۹۳۰م.
۲. دوغلات: د تاریخ رشیدي انګلیسي ترجمه د لندن چاپ ۳۸۵، د مینارسکی حواشی پر حدودالعالم د کابل چاپ ۲۱۶.

پیدا شوه.[۱] چي سر اورل ستین دغه ځای د پامیر اوسنی قزقرغان (قلعهٔ دختر) ګڼي.[۲]

په همدغه کتاب کي په دغه وخت کي دغه جوزجانی مؤلف د بنیر په باب لیکي:

"بنیهار: جاییست پادشاه او مسلمانی نماید و زن بسیار دارد از مسلمانان و از افغانان و از هندوان."[۳]

بل ځای د سمرقندان په بیان کي وایي چي دا لوی کلی د ماوراء النهر سرحد دی او هندوان، واخیان، تبتیان او مسلمانان پکي اوسي.[٤]

له دې ټولو شهادتونو څخه ښکاري چي د اسلام رڼا له لومړۍ پیړۍ څخه بیا تر ۳۰۰ق پورې د سوات د غرو شمالي څنډو او جنوبي سیمو ته رسیدلې وه.

د ۵۰۰ق شاو خوا کي د سوات سیمې په کشمیر پوري نښتي وې او هلته یو دغسې حکومت و، چي عناصر یې برهمني هندي+د اسلامي فرهنګ په ګډون وو. د کشمیر مورخ کلهنه پخپل کتاب راجه ترنګینی کي د هغه ځای د هندو حکمرانانو کورنۍ او احوال را ښیي. مثلا هرشه دیوه (۱۰۸٦-۱۱۰۱م) سیمها دیوه (۱۲۸٦م) وغیره چي د دوي په حکمداري کي مسلمانانو کشمیر ته مخه کړه، او له شاوخوا څخه هجرتونه ور شروع شول په (۱۳۲۰م، ۷۲۱ق) ډېر د سوات خلک د کشمیر به حکومتي چارو او اسلامي فرهنګ خپرولو کي لګیا ښکاري. یو له دغو

۱. سی-یو- کی د بیل ترجمه ۲-۲۹٦.
۲. مینارسکی: د حدود العالم حواشي ۲۱۷.
۳. حدود العالم ٤٦ د تهران چاپ ۱۹۳۲م.
٤. حدود العالم ۷۳.

سواتیانو څخه شامیر نومیده، چي د کشمیر د حکمدار ریتچن صدرالدین (۱۳۲۰-۲۳ق) وزیر و او وروسته یې له اودواینه دیوه (۱۳۲۳-۳۹م) او ملکې کوته رانی (۱۳۳۹م) څخه قدرت په لاس کي ونیو. او په (۷۳۵ق ـ ۱۳۳٤م) یې د سلطان شمس الدین په لقب (طاهر میرزا) په کشمیر کي د سواتي کورنۍ د سلطنت سته ټینګه کړه او د عدالت او مساوات پر لارو چارو یې حکومت چلاوه. د کروندو څخه یې یوه شپږمه مالیه اخیسته (وفات اګست ۲ ۱۳٤۲م).[1]

د شاه میر سواتي کورنۍ لړ تر لړه دوې پیړۍ پر ټول کشمیر پاچهي وکړه، زمباور د دغې حکمرانې کورنۍ شجره داسې راوړې ده:




۱. د هند بشپړ تاریخ ۵-۷٤۰، انګلیسي د ډهلي چاپ ۱۹۷۰م.

لکه چي تاسی ولیدل د شاه میر سواتي د اخلافو حکمراني په کشمیر کي تر هغه وخته وه چي د جلال الدین اکبر په لویه پاچهي د کشمیر سیمې هم ژر ګډې شوې خو داسي ښکاري چي د سوات او بلور، چیلاس، چترال، باجوړ، کونړ او کافرستان سیمې به د ځینو محلي سلطانانو او ملکانو تر فیوډالي نظام لاندې وې ځکه چي د دغو سیمو خلکو اوس له کوچې توبه، د کلو او بانډو ژوند هم شروع کړی، او لومړني زراعتي ژوند ته ور داخل شوي وو.

دغه سلطانان د کونړ د پیچ په دره کي اوسیدل او د اخوند درویزه په قول دوی خپل اسلاف د سکندر زوالقرنین توکم ته منسوبول. او د حکمرانۍ خند یې د کشمیر تر څنډو پورې رسیده. او یو له دغو څخه سلطان پکهل بن کهجامن بن هندو (۸۰۰ق شاوخوا) و. چي نوم یې تر اوسه د پکهل پر سیمه باندې د پښتونخوا په شرقي شمالي څنډه (ضلع هزاره) کي یادیږي. او د کونړ په درو کي یې پر غره یو ډېر لیک هم پاته دی. وایي چي تر پکهل وروسته د ده زامن په سوات کي سره ونښتل او ډیر جنګونه یې سره وکړل، خو سلطان بهرام د کهجامن بل زوی لغمان او ننګرهار ونیول او د سپین غره په لمن (پایین) کي یې ځان ته ناستیخ (پایتخت) جوړ کړ او تر کشمیره یې پر ګرده کونړ او سوات نغاره بږغیده. تر ده وروسته سلطان تومنا هم د بهرام په ټوګه پر دغو سیمو حکومت کاوه (د ۸۱۵ق شاوخوا).[۱]

---

۱. وګورئ: تذکرة البرار و الاشرار د پیښور چاپ ۱۳۰۸ق او تاریخ مختصر افغانستان ۲ ۲۲۱\ د کابل چاپ ۱۳٤٦ش.

## (۲)
## د ځينو پښتنو قبايلو وروستني هجرتونه او د دوی سره شريک اجتماعي نظام

که څه هم پښتانه په زرو کلونه دمخه د آمو او سيند تر منځ سيمو کي ميشته وو، خو په ميلادي پنځلسمه پيړۍ کي د منځنۍ آسيا او خراسان او ايران او هند اجتمعاعي او فرهنګي څيره ډيره سره ورته وه. په دې ارته جهاني سيمه کي اقتصاد، کرهڼه، سوداګري، اداره، حکمداري او هنر او ګرده نور اجتماعي توکي، تر خپلو لومړيو پوړونو تير شوي او د فيوډاليزم د پوخوالي پتې ته ور ختلي وو. ځکه نو موږ په دې سيمو کي خورا غښتلي او متمرکزي شاهنشاهۍ وينو. چي شاهزادګان او غټ زمينداران او پانګه والان (سرمايه داران) او ځيني ستانه (روحانيون) هم غټې غټې برخي پکې لري، او په مليونو بزګران په ماورا النهر او خراسان کي د خپلې کورنۍ د اقتدار څوکۍ ته رسيدلي وو. په ايران کي د آق قويونلو يعنې د سپينو رمو والو ترکمانو مشرانو پاچهي کوله، او په هند کي د افغاني لوديانو د ډهلي ستره شاهنشاهي په لاس کي وه.

په دغو پيړيو کي د اباسين او هلمند تر منځ سيمې د افغانستان په نامه بللې شوې دي لکه چي موږ د سيفي هروي په ليکونو کي د (۷۰۰ق) په شاوخوا کي دغه نوم مکرر وينو.[۱] او داسې ښکاري چي د هند مؤرخانو هم

۱. په تاريخ نامۀ هرات (طبع کلکته ۱۹۴۳م) کي ۳٦ پلا د افغانستان نوم راغلي دی اوغانستان.

دغه سيمې په همدغه نامه بللې، لکه چي د ضيا الدين برنی په ليکونو کي هم د (۷۳۵هـ) په پېښو کي دا نوم راغلی دی.[۱]

دغه افغانستان (لرغونې پښتونخوا) خو پنځه شپږ سوه کاله د غزنويانو او غوريانو په عصر کي د فيوډاليزم د نهايی پوړ يعنې شاهنشاهيو د قدرت مرکز و او د ختيځ او لوېديځ تر منځ د اقتصادي او تجارتي پيوستون او د فرهنکي او سياسي نښتون لويه لاره هم وه. خو د ٦٠٠ق په حدود کي د چنګيزيانو يرغل سره دغه اقتصادي او فرهنکي مرکزيت وران شو، او د قدرت مراکز هم نورو خواو ته ولېږدېدل.

د هند او ايران او پار دريا غښتلو پاچهيو د دې سيمې لويې لارې د اقتصادي او تجارتي ارتباط لپاره استعمالوي مرکزي ښارونه لکه پيښور، بلخ، قندهار، هرات به يې په عسکري زور پخپل لاس کي ساتل.

د پښتونخوا په غرو او رغو کي هغه پښتانه قبايل آزاد اوسيدل چي دوی کوچي ژوند کاوه، او د خپلو سپين ږيرو او مشرانو سره به په اولسي ديموکراتيکه توګه د حکومتو او شاهنشاهيو له جوغه څخه ليرې په آزادو غرو او دښتو کي په لېږد بوخت وو.

دغو پشتنو د خپل دود او ژوند ژواک سره سمې جرګې درلودې، او په دغو جرګو کي به د دوی مشران سره را ټوليدل، او د ژوندانه مشکلات به يې اسانول. دغه دودونه او ټاکلي د جرګې لاري چاري او د ژوندانه چوچ ګرده "پښتو" بلله کيده نو دغه خلک لږ لږ د متمرکز فيوډاليزم پولې ته ور نږدې کيدل، او هغه قبايل چي به هند ته ور شيوه شول دوی د يوه کلک او پاخه فيوډالي ژوندانه په څپو کي لاهو کيدل. د دغو آزادو قبايلو اقتصادي

۱. تاريخ فيروز خان شاهي (۴۸۰\۱۳) د کلکتې چاپ ۱۸۶۲م.

او معنوي پیوستون د هندوستان له لودیانو سره تر نورو زیات و. ځکه چي هر کال به په ژمي کي دوی د هند تودو او رشوګانو ته ور شیوه کیدل، او د هند لودیانو د ډهلي امپراتورانو به هم دغه قوي عناصر او تکړه غړي ور غوښتل چي د هند د یاغیانو په ایلولو او ټکولو کي له دوی څخه کار واخلي. او د دوی ګڼې ډلې په هند کي پر کروندو او پرګنو میشته کړي، او غټ غټ جاګیرونه ورکي. د لودیانو په دوره کي ډیر سوري، فرملی، جلواڼي، سرواڼي کاکړ، نیازي او نور قبایل هند ته د مهاجرو په توګه تللي، او هلته د جاګیردارانو (مقطعانو) په ډول لوی لوی درباري رجال او غټ باداران ځني جوړ شوي دی.[1]

په دغو وختو کي د پښتونو ابدالي قبایل د ترنک او ارغنداو او هلمند په ناوو کي ورو ورو د فیوډالیزم (باداری) پوړ ته ور نژدې کیدل. د دوی روابط د هرات د تیموریانو او د هند د لودیانو او سوریانو له پرتمینو دربارو سره لبړ و ډیر په وده کي وو،[2] په دوی کي ستر خانان او ملکان پیدا شول. او د قندهار د ابدالیانو لوي مشر ملک بامي پوپلزي د سلطان سکندر لودي (۸۵۵-۹۰۰ق) له درباره د قندهار د مرزبان په توګه وپیژندل شو.[3] او بیا وروسته د بامي یو کړوسی چي ملک صالح نومید له سوري شیر شاه سره دغسې پیوستون لاره او خپل ایلچیان یې د سوري دربار ته استولي وو.[4] د

۱. د تفصیل لپاره وګورئ: رضا برني تاریخ فیروز شاهي، د احمد یادګار تاریخ شاهي، د یحیی سرهندی تاریخ مبارکشاهي، د محمد کبیر افسانۀ شاهان، د عصامي فتوح السلاطین او د شیر شاه سوري تاریخونه.

۲. وګورئ: د عبدالرزاق سمرقندي مطلع سعدین او د سیفي تاریخنامه هرات او د هند د لودیانو او سوریانو تاریخونه.

۳. راوړتي: د پښتو ګرامر سریزه خطي تذکرة الملوک په حواله.

٤. راوړتي: د خطي تذکرة الملوک حواله.

۸۲۰ق ۱٤۱۷م کال د شاهرخ بن تیمور د عصر په وقایعو کي راوړي: چي د قندهار او ګرم سیر او اباسین او غزني تر منځ د قندهاري سیفل زوی او ملک محمد او خرشواني[۱] افغانان او سوریان اوسیدل او د هرات د شاهرخ له غښتلې امپراتورۍ سره یې ډغرې وهلې.[۲]

دغه افغانی تپې او قبیلې چي د سیفي هروي په قول د هلمند له ناوې او تیري څخه بیا تر مستنګ او دوکی او ساجی او تیراه پورې[۳] د کسي په غرو او د ارغسان او ماروپ او پښین په درو او ورشوګانو کي د پونده وو په تږګه پرتې وې، هره ورځ ډېریدې او نفوس یې زیاتیده. د هلمند او ارغنداو او ترنک ناوې د دوی د ورشو لپاره نه بسیدې او په اوارو سیمو کي یې چي د هرات د کورتیانو او تیوریانو او نورو غښتلو خانانو تر حکم لاندي وې، هم زراعتي ژوند نشوای کولای نو دغه پښتانه بیا د څوارلسم قرن په پای کي د کابل د ناوې زرغونو سیمو او په وښو ډکو غونډیو او د غرو لمنو ته ور وخاتل.[٤] له ۸۱۲ق څخه تر ۸۵۳ق (۱٤۰۹-۱٤٤۹م) پورې د تیموري کورنۍ څخه الغ بیګ د سلطان ابو سعید کورګان زوی پر کابل حکومت کاوه. د ده په عصر کي د پښتو کند او زمند او نور قبایل چي د ارغسان اورشو پر تنګه شوې وه، د ګومل او نورو پونده ګانو سره را وپاځیدل او کابل

۱. خرشواني Kharashavani د افغان د سړه بن قبایلو څخه و، چي مؤرخانو خوشبون لیکلی دی او کند ـ زمند ـ کاسی یې درې فرعي قبیلې دي (مخزن افغاني). دغه نوم پښتو دی: ښه+رشه ـ وان یعنی د ښه خوی خاوند=نیکخوی.

۲. مطلع سعدین ۳٥٦/۲ د لاهور چاپ.

۳. تاریخچه هرات ۳۰٥-۲۰۹-۲۲۲-۳۰۳.

٤. اخوند درویزه: تذکرة الابرار و الاشرار ۱۲٤. افضل خان خټک: تاریخ مرصع ۲۳۱. محمد هوتک: پټه خزانه ۲۱.

ناوې پر اورشوګانو باندي يې واړول. "دوی آباد شول او هغه نور اصلي اوسيدونکي پښتانه يې په نظر کي نه راوړل."[۱]

د دغو قبيلو مشران مداد، مدو، عثمان، سلطان شاه نوميدل چي مرزا الغ بيګ[۲] ګرده سره را ټول کړل او د کابل په سيانګ کي يې ووژل. يوازي ملک احمد د سلطان شاه يوسفزي وراره له دغه ناورينه وتښتيد اود يوسفزو سره يو ځای د ختيځ په لورې وليږديد او د پيښور سيمه يې تر سواته ونيوله. دلازک پښتانه يې وشړل او د کابل او سوات تر رودو لاندي کروندې يې له جمرود او ګنداوه تر اباسين پورې ونيولې.[۳] د سوات سيمه د پښتنو تر يون دمخه د سواتي خلکو په لاس کي وه. حافظ رحمت خان وايي: "قوم صواتی اگر چه در اصل از قوم افغان نيستند، اما زبان افغانان و روش افغانان دارند... از اول در ملک صوات و باجوړ سکونت ميداشتند، اما وقتی مردم يوسف زايی بحد کمال رسيده همگی ملک سم تحت الجبل را در تصوف خود آوردند، متوجه ملک صوات شدند و با اهل صوات جنگها در پيش اورده، آخرالامر آنها را مستاءصل ساخته و جلا وطن گردانيدند... و قوم صواتی از آنجا بملک پکهلی که مابين يوسفزئی و کشمير واقع است آمده و متوطن شدند... و جميع ايشان متفرق بسه گروه اند: يکی گبری، دوم مونراوی، سوم موميالی. و گويند که مردم گبری (منسوب به گبر جاهی در

۱. تاريخ مرصع ۲۳۳.

۲. اخوند درويزه دغه نوم ميرزا قلي بيګ کښلی دی (ص ۱۲٦ تذکره) خو د نورو مؤرخانو په قول الغ بيګ صحيح دی (مر ۹۰۷ق غزنی).

۳. د دغو مهاجرتو لپاره وګورئ: تاريخ مرصع ۲۳۱، تذکره البرار ۱۲٤، حيات افغانی، تواريخ حافظ رحمت خاني او مخزن او نور.

باجوړ) از اولاد سلطان اوېس و سلطان بهرام و سلطان پکهل و سلطان جهانگیرند و ایشانرا سلاطین جهانگیریه نیز میگویند." [۱]

په دغه وختو کي دغو پونده او کوچي خلکو د یوازې پونده ګلوی او کوچي ژوندانه له اقتصادي مرحلې څخه په زراعتي پوړ کي پښه کېښوه، نو د دغو نوو نیولو سیمو په کلو او بانډو کي پر کروندو او مامتو او خوړو مځکو باندې میشته شول، او په کرهڼه او فلاحت یې پیل وکړ او دغه د دوی د ژوندانه یوه نوې مرحله وه. ملک احمد یوسفزی د دغو پښتنو لېږدېدونکو قبایلو مشر و، چي په زراعتي ژوندانه کي یې د دوی مشري کوله. ده د شیخ آدم یوسفزي په کومک (چې په شیخ ملي بن یوسف مشهور و) دغه نوي په کلو او بانډو کي کښېستلي قبایل منظم کړل، او دوی ته یې یو "اجتماعي نظام" ور جوړ کړ. او په امنیت او هوسایی یې تر سواته پر کروندو میشته کړل. د خوشحال خان زوی د آدم او درخانۍ په مثنوي کي وایي:

یوسفزي په هغه دور د کوچي عالم په طور
په هر ځای کي یې میشته و ګاه په سیند ګاه په میره وه
ګاه به لاړه د غره خوا ته ګاه به بیا راغله دریا ته
حادثات په حادثات شول لاړل مشیت په سمه، سوات شول

شیخ ملي چي پوه او ستانه سړی و، او ګردو پښتنو په درنه سترګه ورته کتل د مقنن په توګه یې د (۸۲۰ق، ۱۴۱۷م) کال په شاوخوا کي په پښتو یو د اجتماعي قانون کتاب وکیښ چي خلکو د "شیخ ملي دوتر" (د فتر شیخ ملي) باله.

۱. خلاصة النساب ۱٤۷ د پیښور چاپ ۱۹۷۳م.

ځکه چي له پیښوره بیا تر اباسین او شمالا تر سواته پوري ګردې د کرهڼي مځکي دغو مهاجرو قبایلو نیولې وې، او په نوي ژوندانه یې شروع کړې وه، نو شیخ ملي د کروندو او بانډو او اورشوګانو د ویش لپاره د عدالت او مساوات پر اساس برابر په خپل دفتر کي داسې لاري چاري او قوانین وضع کړل، چي زراعتي مځکي، اوبه، ورشو او کلي یې د کورنیو د نفوسو د شمیر پر سر په مساوي ډول وویشل. او دغه ویش به د قوم جرګې هم مانه او هرو مرو به خلکو خپله ټاکلې شوي کرونده کرله او له زراعتي درآمد څخه به یې هم د شیخ ملي د دوتر د قوانینو سره سمه ګټه اخیسته.

ځکه چي د کورنیو د سړو شمیر به زیاتیده یا به کمیده نو د شیخ ملي په دفتر کي دا منلې شوې وه چي تر هرو لسو کالو وروسته به ګرده کروندې او مامتې او کلي او بانډې په "ملکیت عامه" کي داخلېدې، او بیا به د کورنیو د سړو پر سر باندې په مساوي توګه ویشلې کیدې. که به د یوې کورنۍ خلک لږ شوي وو، لږ برخه به یې اخیسته او ډیرو به د ډیرو برخه مونډله. د کروندو په ویش کي به د مځکي زراعتي استعداد او سرآب او پایان آب تر نظر لاندې و او بانډې او کلي او کورونه به هم د سړو پر سر ویشل کېدل. چي هر ویش ته یې "وار" وایه. د شیخ ملي په دوتر کي لومړۍ پلا ګرده مځکي پر سپړو تپو tapa ویشلې شوې وې:

۱ ـ د یوسفزیو تپه (د شمالي مردان سیمه او سوات)

۲ ـ د محمد زو تپه (اشنغر، چارسده)

۳ ـ د ګګیانو تپه (دوابه، باجوړ، چارمنګ...)

٤ ـ د داؤد زو تپه (کلیاڼي، بګیاړي...)

۵ ـ د خلیلو تپه (له پیښوره تر نوښاره...)

٦ـ د مومندو تپه (د پېښور شمال غربي پلو تر جنوب غربي پورې)

دغه شپږ تپې هره يوه پر دوتر، برخه، پټې وېشله کېده او د هر سرې برخه په پټې يعنې کرونده او زراعتي مځکه کې ونډ wand بلله کيده او د ځر په ځای کې اورشو ursho وه. چې د کلي جرګې به دغه ونډ او اورشو د هيسک hisk يعنې پچې په وسيله ټاکل، او په هره برخه کې به يو څه زراعتي مځکه د سيرۍ seery په نامه له ويشه څخه بيله ايښوله کيده. خو په ګډه به د هغې برخې کرونکو کرله او حاصل به يې د کلي د عامو ګټو په کارو کې لګول کيده. لکه د مسجد (مزدک) او د کلي د هلکانو د تعليم کارونه، او هم د کلي د ډم د کورنۍ خرڅ چې کار يې ډول وهل، خلک خبرول، دلاکي، پخلتګ او سندر غاړي او نور د کلي عامه خدمتونه وو. او هم به له دغه سيرۍ څخه د کلي د هوجرې (ميلمستون) او د ميلمنو د خسمانې لپاره خرڅ کيده.

د شيخ ملي په دفتر کې د هستوګنځيو او کورنو او کليو د ويش لپاره هم لارې چارې ټاکلې وې. هر کلی پر محلو ويشل کيده چې هغه يې چم cham باله او هر چم به اوز کورونه د کنډر kandar په نامه درلودل. او هر کنډر به خونې د کوټې koota په نامه لرلې چې يو غولی به يې هم لاره.

په هر چم کې يو ماجت (مسجد) او يوه هوجره hujra او يو برج به هم و چې دفاعي څارنو لپاره به څارنوالان پکې ناست وو، او هر کنډر به تر لسو کالو پورې يوې کورنۍ ته سپارل کيده.

په کرونده کې د يوه سړي برخه بګړی ونډ bagray wand و او تړوله د لسو کالو برخه به يې موټۍ muti بلله.

د شیخ ملي د دفتر وېش په کروندو او اورشو او کورونو کي د هرو لسو کالو لپاره په شپږو تپو کي تطبیق شو او خلکو د شیخ ملي په لار ښوونه ومانه. دا ځکه ځي هم ملک احمد او هم شیخ ملي دواړه د پښتنو منلي رهنمایان وو. لکه پیر معظم شاه چي وایي: "روزگار ریاست ملک احمد در تصاعد شده، روز بروز در ترقی گشت و تمامی خښیِ بلکه تمامی افغانان مطیع او گشتند... گویند شیخ ملي نهایت متدین و متقي سړی و. د هرې چارې او د هر مهم غمخور و. همګی کلي، ملکونه تپه په تپه کور په کور، د ده په دفتر ختلي وو. او د ده وېشلي وو او تر اوسه هم د ده هغه تقسیم په یوسف مندڼ کي جاري دی..."[۱]

په دې ډول د شیخ ملي د دفتر اجتماعي ریفارم په زراعتي ژوندانه کي تطبیق شو خو وروسته نور افغاني قبایل هم دلته راغلل او ځینې نورې کروندې یې ودانې کړې. نو دغه نوې خړوبې شوې ځمکې یې بانډه banda بلله او په دغو نوو بانډو کي هم افغاني نوي را لېږدېدلي قبایل د شپږو اصلی تپو په څنګ کي میشته کیدل.[۲]

وایي چي شیخ ملي "در اندک سالها بعد از آن بعارضۀ شری از عالم فانی به دار باقی خرامیده و در موضع غوربندي د سوات د لویې لارې په غاړه چي و دمغار ته درومي، په سمه همواره مزکه مدفون شو او ګرداګرد قبر یې د چنارو وني ولاړي دي، اوس ترې چاپیره لوی کلی هم میشت دی، قبر د ده هور ته نمایان دي."[۳] درویزه لیکي: "شیخ ملي در مرض موت خود گفته بود

۱. تواریخ حافظ رحمت خانی ۱٤٥ د پیښور چاپ ۱۹۷۱.
۲. هستنګر او ګوپالداس: تاریخ پشاور ٤٠٦-٤٣٣ د لاهور چاپ ۱۸۷٤م. حبیبي: د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲۳٥\۱۲ د کابل چاپ.
۳. تواریخ حافظ رحمت خانی ۱٤٥.

که من در عمر خود انصرام مرام اهل حوایج، گاهی به طمع و نیاوی نکرده ام، بلکه خاصالله کرده ام پس اگر درین سخن راستگو باشم تقسیمات ملکها و تعینات حدودها که فیمابین یوسفزي کرده ام تا روز قیامت باقی بادا. و اگر دروغگو باشم از میان ایشان مرتفع باد.[١]

په دغه ډول شیخ ملي خپل دفتر او ویش بشپړ کړ، او تر ده وروسته یو کال پس ملک احمد هم تر دنیا تیر او په سوات کي هغه ځای ته نږدې ښخ شو چي د شیخ ملي هدیره هم لویي لاري ته ورڅرمه وه.[٢] او د دغو واقعو کلونه په اټکلي توګه له ٨٥٠ تر ٩٠٠ق پورې ګڼلای شو.

## اخلاقي ضوابط

د شیخ ملي دفتر لکه په اقتصادي چارو کي چي د پښتنو لار ښوونکی و، دغسي یې د یوه جزابی او تعزیري اسلامي قانون په ډول ځني اخلاقي ضوابط هم درلودل په هر کلي کي به دغه ضوابط د عالمانو او سپین ږرو په وسیله د هغې سیمې د خلکو د اجتماعي دود او دستور سره سم تطبیق کیدل. پیر معظم شاه وایي:

"یوسفزي هاله ډېر خوش خویه، نیک معاش خلق وو. د دې قوانینو په مطابق به یې بېلما زانو، جوار ګرو، نشه ئیزو، زنا کارو او نورو فواحش کونکو ته سزاګاني ورکیدې. په ټوله قبیله کي په دې قسم عاداتو سخت بندیز

١. تذکرة الابرار و الاشرار ١٤٦.
٢. تواریخ ١٤٦.

و. دې ضابطي ته به يې "شيخ ملي" وې دې په زريعه به په کال کي يو ځل په زبرګه مياشت کي د ټول اولس، اخلاقي تطهير کيده..."[۱]

دغه سزا ګاني د شرعي تعزير او تشهير پر اساس داسي وې لکه: پر خره سپريدل، مخ ور تورول او په کوڅو ګرزول، د بد کاري ښځي سر ور خريل په شرعي دړول به دور وهل يا سنګسارول.

## (۳) بابر

ظهيرالدين محمد بابر د عمر شيخ زوی د سلطان ابو سعيد ميرزا لمسی و، چي د امير تيمور کورګان څخه په پښت کي شپږم پاچا و (۸۸۸-۹۳۷ق) او د ۸۹۹ق ۱٤۹٤م د روژې پنځمه په قرغانه کي دولس کلن پر تخت کښيناست. اوولس کاله يې په ماورا النهر کي په جنګو او غورځو برځو تير کړل څو چي د ۹۱۰ق ۱۵۰٤م په لومړۍ مياشت خراسان ته را وتښتېد او د دوهمي خور په پای کي يې له محمد مقيم ارغونی څخه کابل ونيو.

بابر دلته په افغانستان کي د خپلو رقيبانو شاهزادګانو او پښتنو سره په غورځو برځو لګيا و څو چي په دوشنبې غره محرم ۹۲۵ق ۳ جنوري ۱۵۱۹م د کونړ او جندول له خوا پر باجوړ ور واوښت او هلته يې د باجوړ د سلطان کلا ونيوله[۲] چي د پښتنو د لازاکو څخه و په جنګ کي يې درې زره پښتانه ووژل او د دوی له ککريو څخه په باجوړ کي يو (کله منار) جوړ شو.

۱. د تاريخ رحمت خاني مقدمه ۲۹.

۲. بابر نامه ۱۳۷ د بمبئي چاپ ۱۳۰۸ق.

په دغه وخت کي سلطان ویس سواتی دهګان د سلطان پکهل زوی د منګور په کلا کي ناست و او د معظم شاه په قول: "حصار منگور تخت گاه سلاطین سواتست و در عهد سلاطین سوات آنجا نهایت آبادان بود بیرون و اندرون اماکن غریبه و منازل عجیبه و قصور رفیعه و آنهار نادره و اسواق و دکاکین پیوسته میداشتند و جملهٔ سلاطین سوات از اولاد سلطان جهانگیر اند."[١]

د بابر د یرغل په وخت کي سلطان علاءالدین سواتي، فرخ زاد میر هنداشاه منصور د سلیمان شاه زوی او د ملک احمد تربور او ملک قره بن بهزاد منډڼ او سلک موسی بن الیسکو بایزي او ملک موسی بن ابوبکر منډڼ او ملک بازید بن محمود خلیل او ملک محمد خان بن سلطان ګګیاڼي او طاوس خان د شاه منصور کشر ورور د سوات او یوسفزو په سیمه کي مشران وو. دوی که څه هم د شیخ ملي دفتر چلاوه مګر په ګردو پښتنو کي ځیني داسي سازش ګران خانان او ملکان هم پیدا شوي وو چي د هرات او هند له امپراتورانو سره په ملګري وو او له دیګانانو او پونده وو او کرونکو څخه به یې درباري کلنګونه او مالیات ټولول او دربارونو ته به یې رسول. دغه ډله ملکان او فیودال وشمه خانان به د "مرزبان" یا "سلطان" یا "ملک" یا " خان" په لقبو یادیدل او بابر پخپله وایي چي له یوسفزو څخه ملک شاه منصور او طاوس خان د ملک سلمان شاه زامن در مقام دولت خواهي بودند.[٢] او د سلطان ویس سواتي په وسیله د کهراج پر کلیو څلور زره خرواره

١. تواریخ رحمت خاني ٣٢.
٢. بابر نامه ١٣٩.

شالی حواله شوې، چي هغو نه شوې ورکولای او په دغسي تحميلاتو نه وو اموخته نو ځکه وران شول.[۱]

بابر پخپله يو شهزاده و، او د منځنۍ آسيا د پاچهۍ په کومي کي روزل شوی و نو د ده راتګ او اقتدار دلته پر دغو آزادو کوچيانو او پونده وو په زراعتي ژوند کښېوتلو پښتنو باندي هرو مرو اثر کاوه. ځکه چي ده به دغسي سازش کاوه خانان، ملکان د ځان کول او په نظامي قوت به يې پر ديګانانو باندي تحميلات ور تپول. او د هندوستان پر لويو لارو باندي به يې خپل اقتدار د همدغو خانانو په وسيله ټينګاوه. نو ځکه به يې دوی ته د قبيلو ټول واک په لاس کي ورکاوه او کرونديې او کښتي مځکي به يې هم دوی ته ورکولې. لکه د معظم شاه په قول وروسته خان کجو:

"بر مسند رياست و امارت متمکن شد در محافظت ملک مأخرذه و حرامت بلاد مفتوحه و انتظام امور ملکی و بندو بست الوسی از ملک احمد لايق تر گشت و جميع سکنۀ ديار افغانستان، دهگان و گوجره هندی و نيلابی و سواتی و گيبري و تينولی و کفرۀ کوهی ممطيع او شدند. يعني او دا خبره خو په تمامي عالم کي څرګند وه چي د خان کجو په وقت يو لک نيزې د يوسفزو وې. يعنی يو لک سوراه، پياده او نيزه باز وو او چي ګرده اوري به يې د لښکر له نورو اولسونو هم کوله، تر دا به هم زيات شو." [۲]

په دې ډول به د خان کجو ګرده سره را ټول کړی لښکر يو لک څوليښتو زرو ته رسيدو.[۳]

---

۱. بابر بانه ۱۳۸.

۲. تواريخ رحمت خاني ۱۸٤.

۳. تواريخ رحمت خاني ۱٤۹.

دلته نو د غټو غټو ملکانو او خانانو او د فیوډالیزم د تشکیل لپاره ډیره روزونکي سیمه وه او بابر او د ده اخلافو دغسي غښتلي او شتمي شتمي کورنۍ وروزلې او ورو ورو د شیخ ملي دفتر له سمې څخه غرو ته پنا شو. او وروسته چي د انګریز استعمار پر دې سیمه را خپور شو نو په ۱۸۶۹م کال یې د بندوبست په نامه د شیخ ملي د دفتر اجتماعي نظام کورټ سره ونغاړه او کروندې یې دغسي غټو غټو خانانو ته ور تملیک کړې او مالیات یې پر وتړل چي دا نو د فیوډالي نظام یوه ارته خپرونه وه.

د شیخ ملي د دفتر خطي نسخې اوس نشته، کله چي د کرنې مځکې خانانو او بداینو خپلي کړې، او د ملکیت په ډول یې واخستې، نو به یې د دفتر نسخې هم له منځه و ایستې ځکه دغه کتاب د اجتماعي ملکیت پر اساس د ګډ ژوندانه لاري چاري ښولې.

دغه کتاب خو اوس نشته او کورټ ورک دی خو تر اوسه لا هم د باجوړ او سوات او مهابڼ په غرو او سر درو کي سپین ږیري او زاړه خلک دفتر پیژني او مثلا داسي وایي: ”دغه یا هغه واقعه تر دفتر اوه کلونه دمخه یا وروسته پیښه شوې وه.“ کله چي انګریزانو خپل نوی بندوبست په ۱۸۶۹م کال جاري کړ او د دفتر پاته اصول یې بیخي له ریښو را وکښل، خلک ډېر خوابدي شول، او دغه کار یې وغانده او د ویر سندري یې وویلې. لکه د یوسفزو د تپې د باجا کلي عزیز خان چي د پښتو یو وګړنی شاعر و، داسي ویر پر وکړ چي ډیر اوږد دی او دلته یې یو څو بنده راوړو:

راځه چی دي خبر کړم   نا پوه په زیر و زور کړم
تاوان او مالیه په ملک کي زور شوه د سرکار
ډېر تنګ شو زمیندار

خاطر دي کړه خوشحاله ړومبیه زما لاله
لکړی، بمبلی راغله شروع که په "بند و بس"
منشیانو په هوس
غصه هر چا ته ډیره کوي له حده تیره
چي ور کړي لس، اته اني، هله د سړي یار شي
بیا بل ته امید وار شي
خپل نه دی، د یو کس خدمت یې دی دا بس
چي پیښ د چا څه کار شي وا یي راوړه روپی روکي
تا نه پیژنم څوکي؟
په خلقو پریووت باج او لس یې که تاراج
منت او عریضه د هیچا ناوري تحصیلدار
ډیر تنګ شو زمیندار...
غزیز وا یې ظاهم دی افسر یې مهتمم دی
هدونه ماتوي په خلکو هیڅ نه لري کار
ډیر تنګ شو زمیندار[1]

## بي بي مبارکه:

بابر یو ډیر هوښیار او د پښتنو په روحیاتو پوه شاهزاده و. ده د کابل او افغانستان پر پاچهي سکته نه کوله، ارت او ودان هندوستان ته یې نینګلی و. دی وایي چي د هند مځکه "قلمی" ده خو کابل او افغانستان "سیقي" دی[2]

۱. بندوبس د پیښور چاپ ۱۹۵۰م.
۲. بابر نامه ۹۲.

يعني په هندوستان کي د استثمار قيوډالي سيستماتيک نظام تر قلم او حسابي ديوان لاندي چليږي، او له کرونکو او زميندارانو او سوداګرو څخه ټاکلي ماليات د "قلم" تر سيوري لاندي، په روغه بيله جنګه را ټوليږي، خو په نورو ځايو (کابل) کي داسي نه وه. بايد توره يې وهلې واى او په جګړه او چپاو (چاپقون) او زور يې له خلکو څخه بود کړي واى.

بابر څو پلا د هند پر لوري يرغلونه وکړل. په لومړي يرغل کي د کونړ او باجوړ له لاري تر سواته ولاړ او د امبهير او کاتلنګ پر لار د ۹۲۵ق ۱۵۱۹م په صفره کي د اباسين تر نيلاب ور واوښت. ده وليدل چي له کابله تر دې ځايه د هند پر لويه لار دغه پښتانه پراته دي، چي هم زړه لري هم توره او د دوى له ملګرىٔ پرته د هند نيول او پر دې لار تيريدنه هم ګران کار دي.

"بابر د ملنګانو په کالو کي د لوى اختر په ورځ په مهوري کي د شاه منصور يوسفزي پاي تخت ته ولاړ، او هلته يې د شاه منصور لور بي بي مبارکه چي نهايت ښايسته، عاقله، هوښياره وه وليدله... نهايت پرې مين شو او ملک احمد او شاه منصور ته يې فرمان وکښه، چي د بي بي مبارکي دوستي را سره وکانىٔ نور نو زه غرض در باندي نکړم... شاه منصور چي فرمان وليده نو منکر شو، چي موږ مطلقاً لور نه لرو. او بر تقديري که لور مو هم درللىٔ، هم زموږ د مغولو سره چيري نسبت ند دى شوى دا به له موږ و نه شي." [1]

په پاى کي د بابر په اصرار دغه خبښي وشوه او د بابر په قول:

۱. تواريخ رحمت خاني ۹۷.

"روز جمعه ۲٦ محرم ۹۲۵ق در ولایت ماندیش...بجهت مصلحت الوس یوسفزیي دختر او (شاه منصور) طلبیده شده بود، درین منزل خبر رسید، که دختر شاه منصور را بامال یوسفزیي مي آرند." [۱]

د سوات په یوسفزو کي د بي بي مبارکي کیسې تر اوسه سپین ږري کوي، او دا هغه پښتنه ده، چي د مغولو مؤرخان یې "افغاني آغاچه" بولي. د بابر لور ګلبدن بیګم داسي لیکي:

"بابر در سنه ۹۲۵ق بجور را بجنګ ګرفتند و مردم بجور را قتل عام کردند و در روز مذکور ملک منصور یوسفزي که پدر افغاني آغاچه باشد آمده حضرت را ملازمت کرد، حضرت پادشاه دخترش افغاني آغچه را ګرفته در عقد خود در آوردند..." [۲]

د بابر او یوسفزو او باجوړیانو خو هډ ماتی سره شوی و، کله چي دغه خبري وشوه، نو یې بي بي مبارکه د بابر لام ته بوتللی شوه، او تر هغو له خپل میړه سره نه ګښښنستله او ویل یې چي "زه خپل قام له پادشاهه په جولۍ غواړم که د پادشاه مهرباني وي زما قام دي زما جولۍ ته واچاوه شي."

پادشاه ورته وویل چي "ښه پښتنې! ستا قام مي ستا و جولۍ ته واچاوه، تقصیر مي یې معاف کړ، خاطر جمع لره!" [۳]

وایي چي بابر د ملنګانو په کالو کي د شاه منصور تخت ته تللی و، هلته د کلا ساتنوالو ونیوه او بندي شو. خو د شاه منصور لور بي بي مبارکه که د

۱. بابر نامه ۲۳۹، ابو الفضل او اخوند درویزه هم د دغي پښتنې نوم بي بي مبارکه کښلی دی (د اولف کیرو پټانان ۱۵۹ او د یوسفي یوسفزائي افغان ۳۱۷) د دې پښتنې ورور میر جمال د بابر سره د هند په نیولو کي ملګری و، دی او خور یې د اکبر شاه په زمانه کي په هندوستان کي مړه دي (د بابر نامې انګریزي ترجمه ۸۷\۲)
۲. همایون نامه ۱۰ د ډهلي چاپ ۱۹۷۲م.
۳. تواریخ رحمت خاني ۱۰۱.

خپلو سهیلیو سره دباندي ګرزیده او دا بندي یې ولید، او پوښتنه یې ځني وکړه: چي څوک یې او دلته دي څه کول؟

بابر ورته وویل: که ما له دغه بنده خلاصوې، نو ژمنه را سره وکه، زه به هم ځان در وښیم. بي بي مبارکي ورته وویل: ځوانه! ځان را وښیه، زما وعده ده، چي ایله به دي کړم.

بابر وویل: زه د فرغانې شاهزاده، د کابل بابر شاه یم، چي لښکر مي لاندي پروت دی او دلته ستاسي د احوال لیدو ته راغلی وم.

مبارکه: نو ته دلته د یوه پتمن شاهزاده په توګه زما مېلمه یې! که څه هم سبا بیرته د جنګ پر میدان سره دریږو خو اوس د هر افغان په کاله کي درونډ او منلی مېلمه یې، او هرو مرو به تا بیرته خپل لښکرګاه ته رسوي. ځکه پښتانه خپل دښمن پر سم میدان په وچ زور ماتوي، او داسي ډول یو مېلمه، په خپل کور کي درونډ ساتي او عزت یې کوي. ماښام چي د کلي جرګه جوړه شي، هرو مرو به ستا پت وساتي.

وایي چي بابر په درناوي او احترام خپلو لښکرو ته د پښتنو بدرګي ورساوه.

او په ورستو جګړو کي چي د بابر لښکر بریالی شو نو "مبارکه" د یوه جنګ پر میدان وسلې په غاړه د بابر د لښکرو په لاس کي ولویده، او چي بابر ته یې بوتله نو بابر پښو ته ور ولوید او ورته ویې ویل: پښتنې! هغه څه چي تا ما ته را وښوول، اوس به زه هغسي در سره کړم.

بابر خپلو لښکرو ته امر وکړ چي دغه پښتنه بي بي به په خورا احترام کور ته رسوئ ځکه چي ما پر دې پیغلي زړه بایللي دی، او ډېره را باندي ګرانه ده.

مبارکه: زموږ قام د خپل پت لپاره ستا سره جنګيږي، او بابر د فرغانې شاهزاده اوس زموږ غليم دی. نو زما په زړه کې دښمني او دوستي نه سره يو ځای کيږي که زمان د ګرانښت خيال لرې، نو زموږ د قام پت را خوندي که موږ آزاد پريږده!

تر دې وروسته بابر له يوسفزو سره روغه وکړه، او لکه چې ووېل شول، بي بي مبارکه يې د بابر په لښکر ګاه کې ور واده کړه. اوس نو بابر د پښتنو زوم شو.

وايي چې يوه شپه بابر له خپلو جنګي ملګرو سره سلا مشوره کوله، چې څنګه د سمې پر يوسفزو باندې يرغل (چاپقون) وکاندي. دوی دا سره وپتېيله چې په نيمه شپه کې به را کښېني، او پر بېدو پښتنو به نابوبره ور ځغلي، او دوي به ژوندي ژړاند نيسي. کله چې بي بي مبارکه د بابر او ملګرو په دې چم خبره شوه، دغه خبره يې د بابر له وعدو سره سمه نه وګڼله. نو د شپې تر هغه دمخه چې بابر را ويښ شي، او ځان (چاپقون) ته تيار کاندي، مبارکه له کوټې را ووته، او ور يې دباندې له خوا خورا ټينګ پسې وتاړه.

کله چې بابر په نيمه شپه د يرغل په نيت له خوبه پاڅيده، مبارکه نه وه او ور يې پر مخ بند و. هر څه چې يې له دننه وټکاوه، مبارکې غږ نه کاوه، او بابر وپوهيده، چې د منصور لور خپل کار کړي دی.

کله چې سهار شو نو مبارکه راغله، د کوټې ور يې وپرانيت او پادشاه ته يې سلام واچاوه، او د ميړه احترام يې وکړ او ويې ويل: "تا زما قام زما

جولۍ ته را اچولی و، نو ما دوی د پادشاه له چاپقون څخه وستاتل، او پادشاه مي د دوي له نورې دښمنۍ څخه وژغوره." ۱

* * *

تر ملک کجورا وروسته او کله چي بابر د یوسفزو تر سیمې ور ووت او بیا یې د ډهلي سلطنت د دغو پښتنو په مرسته په ۹۳۲ق کال له سلطان ابراهیم لودي څخه ونیو، نو یوسفزو او سوات والو د خپلو سلطانانو او ملکانو سره آزاد ژوند کاوه. ځای ځای ملکانو او خانانو ځیني مځکي او کروندې ځانته اخیستي وې، خو اکثرو خلکو د شیخ ملي د دفتر سره سم ګډ او مشترک ژوند درلود، او هر څو څو کاله وروسته به یې خپلي کروندې او کورونه د شیخ ملي پر دفتر باندي سم، بیا سره وېشل، او دا قانون د خوشحال خان تر وخته هم لا جاري و. لکه چي په ۱۰۸٦ق کال خوشحال خان سوات ته ولاړ او اوه میاشتي یې هلته تیري کړې، په سوات نامه کي دغه اجتماعي دودو ته اشاره کوي. خو ځکه چي پخپله خوشحال خان د خټکو د لویي خانۍ په کومي کي لوی سوی و، او پخپله هم لوی خان او د مغلو د امپراتورۍ یو رکن و، نو دغه دفتري دودونه په ښه سترګه نه ګوري وا داسي وایي:

د سوات ملک چي درست لایق دی د باغونو
یوسفزیو برابر کړ، له راغونو...

۱. دغه قصه ما د ستاني له سید جبار شاه څخه اروېدلې وه، چي د سوات د امیر سید اکبر شاه له ټبره څخه یو دروند او خبر لوڅ پښتون و، څه موده یې د سوات امارت هم کړي و، او د ۱۹۵٦ په نومبر په ستانه کي وفات شو.

کال په کال د ملک په هیسک کاندي باختونه
بې لښکر و پخپل ځان کاندي تاختونه...[۱]

مسری خان:

بابر په ۹۳۷ق کال په ډهلي کي مړ او د جمنا پر غاړه په زر افشان باغ کي ښخ شو، او زوی یې همایون پر تخت کښېناست، چي لس کاله د خپلو ورونو او نورو سیالانو سره په جنګو بوخت و. څو چي شیر شاه سوري افغان پر ده بری وموند، دی د سند او جنوبي قندهار له لوري ایران ته وتښتید، او شیر شاه په ۱۰ محرم ۹٤۸ق په قنوج کي د هند پاچا شو.

تر بابر دمخه په هندوستان کي د لودیانو پښتنو شاهي کورنۍ (۸۵۵-۹۳۲ق) سلطنت کاوه. او د دوی سیاسي کړنلاره داسي وه، چي پښتانه له روهه، هند ته ور جذب کاندي او هلته یې د لویو پټیو او جاګیرونو او منصبونو خاوندان کړي.[۲] له افغانستانه چي به هر افغان د شیر شاه دربار ته ورغی، دومره نغدي پیسې په یې ورکولې چي د تصوره به وتلې وې. ده به ورته وویل: په هند کي چي زما لاس ته څومره شتمني راغلې ده، په دې که را سره شریک یې، دغه ستا معاش شو، کال په کال خپل معاش اخله.[۳]

۱. سوات نامه نه نویشتم بیت. داسي ښکاري چي د نونسم قرن تر پایه لا دغه ویشونه په سوات کي وو، عنوان الدین کاکاخیل په ۱۸ مارچ ۱۸۸۲م د سوات په احوال کي وایي:
د سوات زمکه ده زرخیزه ـ خو مخلوق یې دی درویزه ـ دوی مدام کوي ویشونه ـ یو د بل شره جنګونه ـ ځکه ښه نه آبادیږي... (د پښتونخوا د شعر هار و بهار ۳۲).
۲. عباس سرواني: شیر شاهي تاریخ ۷ پښتو ترجمه د کابل چاپ ۱۳۵٤ش.
۳. همدغه کتاب ۲۷٤.

شیر شاه سوري خو پر هندوستان او د بابر پر زوی همایون پادشاه باندي بریالی شو، او په هند کي یې یو منظم سلطنت جوړ کړ، او د مدنیت اساسونه یې کېښوول. مګر ده د هندوستان او کابل سرحد هم وټاکه او پر دغه سرحد یې د رهتاس کلا جوړه کړه،[۱] خو پښتانه یې آزاد پرېښوول. او کله چي خان کجو د یوسفزو مشر شو، نو به ده د شیر شاه سره سیالي کوله،[۲] خو شیر شاه د خپل قوم آزادي نه ور ورانوله.

تر خان کجو وروسته د یوسفزو له سالارزیو څخه ملک مسری خان د جلال خان زوی د پښتنو مشر شو، ده له سواته بیا د اباسین تر لوړي غاړي او هزاره ضلع او مهابڼ او پکهلی پوري د خپل قدرت سیمه پراخه کړه او هر ځاي بې د اوبو ډنډونه (ډمونه) جوړ کړل. چي تر اوسه هم د نوګرام او د چڅ د غرغښتو ډنډونه د ده په نامه د "مسري خان ډنډ" بلل کیږي، او د یوسفزو او غوریا خیلو تر منځ یې د جنوبي سرحد د څارني لپاره د کابل پر رود مسرۍ بانډه جوړه کړه، چي د یوسفزو سیمه وساتي. د مسري خان د وخت قوي مشران ملک هندال اکازی او مته خان اکوزی او ملا ابراهیم الیاس زی او ملک ترکیال منړن او ملک بابلی وو.[۳] دوی د خپل اولس چاري په آزاده توګه پخپله چلولې او د سر اولف کیرو په قول: "بابر او همایون او کامران د پښتنو پر غره او سمه باندي حکومت نشوای کولای، خو تش دوني و، چي لویي لاري به یې ساتلې یا به یې د خپلو کورنیو جګړو لپاره قبایلي خلک په خپله ننګه کي درول. او په دغه ډول نو تیراه، وزیرستان، سوات، دیر، باجوړ د بابر په وختو کي د ده د پاچهۍ تر سیمې دباندې وو. او شیر شاه دلته پر

۱. نعمت الله هروي: مخزن افغاني ۱۳۱۳\۱ د ډهاکې طبع ۱۹٦۰م.
۲. همدغه کتاب ۵۷۸\۲.
۳. یوسفی: یوسفزئی افغان ٦۵۲.

مخ نه ولاړ، او د ده د سلطنت غربي بريدونه د بنو په سيمه که تر اباسين پوري را رسېدل. [۱]

## (٤)

## روښانيان او پير بابا

بايزيد د قاضي عبدالله اورمړ زوی چي پلار او نيکه يې د وزيرستان په کاڼي کورم کي اوسېدل په ٩٣١ق ١٥٢٤م د پنجاب په جالندهر کي وزيږيده چي مور يې بيبۍ امينه د حاجي ابو بکر لور وه، د دوی کورنۍ انصاري بلله کېده او د بايزيد لقب "مسکين" و.

لکه چي تاسي ولوستل، په دغه زمانه کي پښتانه د ژوندانه د اقتصادي پوړونو يوې نوې مرحلې ته داخليدل او په زراعتي ژوندانه لګيا کيدل او د خان خانۍ زړی هم مخ پر قوت وو، چي په دغسي ژوندانه کي د غټو غټو خانانو تر څنګ ځيني روحاني وشمه خلک هم را پيدا کيدل او د تصوف او طريقت پر غولي باندي وګړي ښه سره را ټوليدل.

د دغه عصر اجتماعي تحليل او د واقعاتو د علت او معلوک څرګندونه اوږده څېړنه غواړي چي تر دې دمخه زما په ليکنو کي شوې ده، که څوک غواړي چي په تفصيل يې ولولي، تاريخ افغانستان در عصر کورګاني هند (د کابل چاپ ١٣٤١ش) او بابر شاه (د کابل چاپ ١٣٥١) او د خيرالبيان

---

۱. پټانز ١٩٦.

سريزي (د کابل چاپ ١٣٥٣ش) او د روښان ياد کتاب (د کابل چاپ ١٣٥٥ش) دي وګوري.

بايزيد خپلو مريدانو (روښان پير) او مخالفانو (پير تاريک) باله، ده په پښتو (خير البيان) او په عربي (مقصود المؤمنين) او په پاړسو (صراط التوحيد) او ځيني نوري رسالې کښلي دي او د خپل طريقت اساس يې د پير کامل پر لاس نيوي او اتو نورو مقاماتو باندي ايښی و: ١ـ شريعت ٢ـ طريقت ٣ـ حقيقت ٤ـ معرفت ٥ـ قربت ٦ـوصلت ٧ـ وحدت ٨ـ سکونت.[1]

دا خو ټوله هغه مقامات دي، چي د نورو صوفيانو په طريقو او ډلو کي هم وو، خو موږ ګورو چي صوفيانو تل دغه مقامات په انزوا او نرمي، صفا او صلح کل کي تيرول. او د سير او سلوک نتيجه به يې هم دا وه، چي سالک به د صلح او صفا خاوند و، له جنګه او مادي تلاښه به تښتېده، او انسان څه، چي مچ او ميږی به يې هم نه ازارول.

خو د پښتنو جغرافي او سياسي دريځ د هند د مغولي او د ايران د صفوي غښتليو شاهنشاهيو تر منځ داسي و، چي دوی به خپل موجوديت او آزاد ژوند ساتي، او د دواړو خواوو له ظلمونو او ناغيړو څخه به ځانونه ژغوري. نو ځکه د "روښان پير" طريقت او تصوف هم د دغه جغرافي او سياسي چاپيره سره سم وده کوله، او د ده د تلقين او خلوت او پراتو مقاماتو تلنګ نتيجه دا وه، چي په زرهاوو سر فروش او فدا کار مريدان، توره په لاس د سياسي مبارزې ډګر ته را وباسي. روښان پخپله له خانقاهه را ووت او د جګړې پر ډګر توره په لاس ودريده. د ده مريدانو او زامنو او نور اخلافو هم د عرفانه

١. بازيزيد روښان: صراط التوحيد ٤٧.

سره سیاست درلود، او د طریقت تر چوخي لاندي يې تیره توره هم ملکرې وه.

د روښان پیر د تلقین او غورځنګ سیمه له کابله تر اباسین پوري او لوړي خوا ته تر سواته وه، د ده عمومي تبلیغ د صراط التوحید له لیکني سره په ۹۷۸ق ۱۵۷۰م پیل شو. یو کال پس يې د اشنغر او آشاز پور جنګونه وکړل، څو چي په ۹۸۰ق ۱۵۷۲م د تور راغه په جنګ کي ووژل شو، او تر ده وروسته يې زامنو او کورنۍ او مریدانو د ده مبارزه تر ډیره وخته توده وساتله.

د روښان پیر غورځنګ د ډهلي کورګانیانو ته یو غټ خطر و، ځکه چي د کابل او اباسین لاري د پښتنو به لاس کي وې او دغه پښتانه د روښان په تلقین د خپلې آزادۍ لپاره د ډهلي د حکمرانانو سره توره په لاس په میدان کي درېدل، او د پاچهانو د لښکرو وس به نه په رسیده.

د ډهلي دربار سیاست داسي و، چي د پیر جواب د پیر په خوله ووایي، نو يې سید علي ترمیذي (پیر بابا) چه په هند کي روزل شوي د امیر تیمور د خوريي زوي و (مړ ۹۹۱ق) د پښتونخوا دې څنډو ته را ولیږد، چي په ټولو یوسفزو او سوات او باجوړ کي يې پښتانه مریدان کړل، او د ده شاګردانو د روښان پیر په تورونه او تکفیر لاس پوري کړ چي مشهور اخوند درویزه د ګدایی زوی (مړ ۱۰۴۸ق) د دې ډلي په سر کي ولاړ و، او پښتو مخزن اسلام يې د روښان د خیرالبیان په مقابل کي وکیښ، او دې کتاب د سوات په پښتونو کي دوني شهرت وموند چي خوشحال خان هم پخپل عصر کي هلته په سوات کي فقط دوه شیه لیدل:

پـه سـوات کي دي دوه څيزه، که خفي دي که جلي
"مـخـزن" د درويـزه دی يـا دفـتـر د شيخ ملي[١]

د روښان پير کورنۍ خو د خوشحال خان تر عصره د ډهلي له حکمرانانو سره ډغري وهلې، او په ١٠٤٧ق کريمداد د جلال الدين زوی د نغر تر غورځنګ وروسته ونيول شو، او د شاه جهان په امر ووژل شو.[٢]

مګر خوشحال خان په سوات نامه کي هم پر پير روښان او هم پر درويزه باندي انتقادونه کړي دي او د دواړو کتابونه خير البيان او مخزن يې هم د ادبي او هم معنوي پلو، سپک بللي دي.[٣] د روښان او درويزه په دغه جګړه کي يوسفزي ګرده بوخت وو او اخوند درويزه په تذکره الابرار کي د سرکاري، مينی، او باړ جنګونه ياودي، چي قايد يې ملا مير و د روښان پير يو مشهور مريد د مندڼو له امان زو څخه و، او د دغو کورنيو جنګونه ګرده يوسفزي په سمه او غرو کي سره ځپلي وو،، او دا هغه وخت و چي په هند کي د جلال الدين اکبر پاچهي وه د ٩٩٠ق حدود.

## کالو خان امانزی

کالو د علي خان زوی د مبارک خان لمسي د يوسفزو له رئيسانو څخه و، کله چي د روښانيانو او د درويزه د مريدانو جنګونه په يوسفزو کي ساړه

١. مخزن السلام به ښکاره خلکو لوست او لکه د سوات نامې په ٢٠٨ بيت کي چي وايي خلکو د اسماني صحيفو په څير ګاڼه او دا جلي و، اما د شيخ ملي دفتر خلکو پټ کړی و، او خفي و.
٢. عبدالحميد لاهوري: پادشاه نامه ٢/١٤ د کلکتې چاپ ١٨٧٢م. محمد صالح کنبو: عمل صالح ٢٦٧\٢ د کلکتې چاپ ١٩١٢.
٣. وګورئ د سوات نامې ٣٥١، ٣٦٠، ٣٦١، ٣٦٦، ٣٧١، ٣٧٧ بيتونه.

شول، نو کالو خان د قوم مشران په جرګه را وبلل او ملک ایوب او ملک بابو اباخیل یې د ملا میرود زوی میرویس خان سره په یوه جرګتون کي کښېنول او ورته ویې ویل: چي د روښان او درویزه جګره خو په موږ اړه نلري، هغه د اخوندانو خپل منځني اختلافونه دي، زموږ د قومي جرګې دا کار دی، چي خپله قومي آزادي او درنښت له پردیو څخه وژغورو.[1]

کالو خان په دې توګه یوسفزي سره یو ځای او د خپلو قومي چارو سمښت ته متوجه کړل. کروندې یې وداني کړې او هر ځای یې د اوبو ډنډونه د وچو مځکو د اوبولو لپاره جوړ کړل، چي تر اوسه هم ډېر ډنډونه د ده په نامه پاته دي. او هغه کلي چي ده جوړ کړي دي د کالو خان کالو ـ کالو ډېرئ په نومو مشهور دي.[2]

## (٥)
## د اکبر او یوسفزو ډغرې

د ډهلي د دربار سیاست دا و، "چي خلک په جنګ سره واچوه او حکومت پر کوه." د هند غښتلی پاچا اکبر خو تش په کابل کي خپل ورور شاهزاده محمد حکیم سیال باله او هغه بې دلې د حکمران په توګه منلی و، خو دی د ۹۹۳ق د شعبان په دولسمه د کابل په بالاحصار کي مړ او د بابر په باغ کي د خپل نیکه د څنګه ښخ شو. نو اکبر پاچا د کابل د نیولو لپاره

١. یوسفی: یوسفزئی افغان ٢٩٥.
٢. دغه کتاب ٢٩٨.

کنورمان سنګ له ډېرو لښکرو سره را واستاوه چي "ګرده پښتانه او روښانیان قتل عام کاندي. [1]

د اټک او کابل تر منځ خو تش دغه لویه لار او د پیښور ښار د ډهلي د حکمرانانو په لاس کي، نور پښتانه آزاد وو. او د چا حکم یې نه مانه، خپلو قومي جرګو د دوی اجتماعي چاري چلولې. خو کنورمان سنګ دلته بې له ظلمه بل څه ونکړل، نو په ۹۹۵ق د اکبر له درباره زین خان کوکه د کابل مرزبان شو، او ده شاه بیګ د بګرام (پیښور) او اټک تر منځ د لارو د ساتلو لپاره وګوماره.[2]

بلي خوا ته کالو خان د سمي پښتانه سره ټول او د اکبر د لښکرو مقابلې ته تیار کړل، په ۹۹۷ق کال د ډهلي خوا ډېري لښکري د زین خان کوکه د ملاتړ لپاره تر اباسین را اوښتي وې، چي د درو پلوو یې پر یوسفزو بریدونه کول: لومړی لښکر د چکدرې پر سیمه، دوهم پر سدوم، دریم پر سوابي.

د یوسفزو تاکتیک دا و، چي ورو ورو پر شا ولاړ شي، او اکبر شاهي غښتلی لښکر د غرو لمنو او جګو سیمو ته ور وخیژوي، او هلته یې پوپنا کاندي. په دې ډول نو د پښتنو او شاهي لښکرو جګړې د باجوړ او سوات غرو ته رسیدلي وې چي د اکبر د دربار غټ غټ سر لښکران دلته د پښتنو په جنګي چلونو او یرغلونو کي اریان دریان پاته وه، او نارې، بوغاري یې د ډهلي او اکبري سر وکلاوو ته رسېدې!

اکبر پاچا په دې پوهیده، چي که د دغو خپلو لښکرو ملاتړ نه شي، او دوی د جنګ پر ډګر پرېښنو و نه دروي، نو به د ده د رسوایي نغاره پر نغښت

---

۱. شیخ فرید بهکري: ذخیره الخوانین ۱۸٤\۱ د کراچی چاپ ۱۹٦۱م.
۲. ابو الفضل علامي: اکبر نامه ۵۱۹\۲ د کلکتې چاپ ۱۸۸۹م.

هندوستان وډنګیږي، ده د سمدستي مرستي لپاره دوه تنه غښتلي غټان لکه راجه مهیش داس بیربل (د ده لوی وزیر) او بل حکیم ابو الفتح یې د خورا ډیرو لښکرو په قیادت را واستول چې یوسفزي تس نس کا.

زین خان هم له دوي سره یو ځاي شو او د مله کنډ پر غاشي ور وختل، په چکدره کي یې یوه جنګي جرګه وکړه، چې خپل لښکر تر بونیر او لوړ سواته د یوسفوز د ماتولو او ایلولو لپاره خپاره کاندي. دلته نو اوس د یوسفزو جنګره ځوانانو، ښه غوړه او خوږه ګوله خولې ته ورغلې وه، د اکبر دغه بډای او په تن پټ او په وسله بار لښکر د ډیرو پیسو او اسبابو سره لکه ښکلي او غونډه منډه کوتره، د غره د بازانو منګوله ته ورغلې وه. تر بریکوټ چې ور تیر شول، نو یوسفزو پر را ودانګل. خو د اکبر پاچا لښکرو په جنګ کي ځانونه د بونیر پر لور تورسک ته ورسول، او هلته یې دوهمه جنګي جرګه جوړه کړه، او دا یې ومنله چې د کره پې له لوري تګ د کره کرنر جګ کنډو ختلو کار اسان دی. مګر یوسفزو ځانونه په لوړو غرو او درو کي ساتل سمي او هواري سیمي ته نه را شیوه کېدل. خو جنګي بهیر یې کړۍ په کړۍ زیاتیده او کله چې په سیلي کي د اکبر د اتیا زرو لښکرو سره مخامخ شول، داسي یې سره وځځیرل، چې یو هم ژوندی پاتي نه شو دلته راجه بیربل د هندوستان لوی وزیر او حسن خان بیټنی سر لښکرو ووژل شول، او شاعر مزاجه ابو الفتح (چې تر یوې بوټيي لاندي پټ شوی و) د زین خانه سره ئې دوې پښې ځلور کړې وتښتیدل، او درې ورځې وروسته اټک ته ورسیدل.

د یوسفزو په دغه غورځنګ او د شاهي لښکرو په پوپنا کېدو چې اکبر خبر شو په اټک کي یې زین خان او ابو الفتح سپک سپاند کړل، چې ولي یې د ده د لوی وزیر بیربل لاښ پریښی او دوی را تښتیدلي دي؟ پاچا خپل

زوی شاهزاده مراد او زین خان وګومارل، چې د دغې ماتې کسات د سمې له یوسفزو څخه واخلي، نو یې په کلیو کې ناستو اپلوه او بې وسلې خلکو باندې یرغلونه پیل کړل، او د مردان په سمه کې یې د خپلو لښکرو لپاره په ګرې کپوره او لنګر کوټ او هنډ کې د اباسین پر غاړه جنګې کلاوې جوړې کړې، او خپل جنګې یرغلونه یې پر یوسفزو او روښانیانو باندې له دغو جنګې سنګرونو څخه جاري وساتل (ربیع الاول ٩٩٤ق، فبروري ١٥٨٦م).

د زین خان جنګونه د سوات او باجوړ پر بوښو له یوسفزو سره او په سمه کې تر تیراه پورې له جلال الدین روښاني (جلاله د روښان زوی) سره تر ١٠٠١ق ١٥٩٢م جاري وو. خو سوات، بونیر، باجوړ د اکبر جوغ ته غاړه نه وه ایښې. او د راورتي په قول: که څه هم د اکبر ګومارلو سره لښکرانو او جګړه مارو د یوسفزو په غرو او سمه کې ډېرې وینې توی او کلي یې وران کړل، خو تر پایه یې هلته پښې ټینګې نکړې او پښتانه یې د اسارت په زولنو نه کښې یستل شوای.[1] نو اکبر چې خپل ٤٠ تر ٥٠ زره سپاره یې په دغو خونړیو جنګو کې له لاسه ایستلي وو، خپل یو بل معتمد او غښتلي قوماندان راجه تودرمل یې د لارې په ساتنه وګوماره، او ده د محد قاسم کابلي په مرسته د کابل لاره خلاصه کړه، او زین خان کوکه یې کابل ته ورساوه.[2]

په دغو جنګو کې چې د پښتنو مشران ومړل د ځینو نومونه دا دي: (١) مردان خان د جلال خان زوی (٢) د امان زو مشر چې قبر یې په پنجتار کې د شاه مردان ځلې بولي، (٣) دوران خان د مردان ورور (٤) قبول خان (٥)

---

١. سر اولف کیرو: پټانان ٢١٨.

٢. نظام الدین احمد هروي:طبقات اکبري ٣٨٩\٢ د کلکتې چاپ ١٩٣١م، خاقی خان: منتخب اللباب ١٩٠\١ د کلکتې چاپ ١٨٩٢م.

نیېي خان (٦) سلیمان خان د ماما خان خضر زوی چي په پنجتار کي د سلیمان بابا ډند تر اوسه هم د ده په نامه یادیږي.[1]

د جلال الدین محمد اکبر اوږده پاچهي (٩٦٢-١٠١٤ق) د پښتنو سره په دغه اړه دوړ کي تېره شوه، تر ده وروسته د ده زوي نورالدین جهانګیر (١٠١٤-١٠٣٧ق) هم په دغه ډول د روښانیانو سره په غورځو پرځو کي و، او دوه واره کابل ته راغی، بیا چي یې زوی شاهزاده خرم (شاه جهان) د ١٠٣٧ق کال په دریمه خور د اګرې پر تخت کښیناست، د شمال له خوا د اوزبکو شاهانو لښکر تر هندوکشه را رسېدلی و، او د همدغه کال په شوال کي یې کابل هم درې میاشتي کلا بند کړ. شاه جهان لښکر خان مومند او مهابت خان د ٣٥ زرو سپرو سره د افغانستان پر لوري را وخوځول او د ١٠٣٨ق د لومړۍ میاشتي په شپاړسمه یې کابل ونیو او نذر محمد خان د غوري له لاري بلخ ته ولاړ په دغه وخت کي کمال الدین د رکن الدین افغان زوی له اټکه تر کابله پښتانه سره را وپاڅول او د ١٠٣٨ق د لوی اختر په لسمه یې پیښور محاصره کړ، مګر سعید خان د پیښور او کابل حکمران د کمال لښکري له پیښوره وایستلې.[2] څو څو کاله پر له پسې د پښتونخوا پر سیمو د پیر روښان له لمسو سره په اړو دوړ کي نښتي وو، او پخپله شاه جهان لومړۍ پلا د ١٠٤٩ق په محرمه کي او دوهمه پلا د ١٠٥٦ق په دوهمه خور کي، او درهمه پلا د ١٠٥٧ق په لومړۍ خور، او څلرمه پلا د ١٠٥٩ په دریمه خور، او پنځمه پلا د ١٠٦١ق د دریمې خور په څلرمه کابل ته راغی

١. یوسفی: یوسفزي افغان ٣٠.
٢. پادشاه نامه ٣١٦\١.

او له اټکه تر کابله لار يې په لاس کي وه، خو د ده جنګونه د اباسين له غاړو څخه تر کابل او قندهار او بلخه له پښتنو، اوزبکو، صفويانو سره جاري وو.

## (٦)
## سللطان محمود ګدون او باګو خان[۱] او اخوند څالاک[۲]

ګدون د پښتنو له کاکړو څخه يو قوم دي، چي د اباسين او مهان د غرو تر منځ د پښتونخوا ضلع هزاره په پاسه شمالی څنډه کي اوسي.[۳] د ۹۸۰ق کال په شاوخوا کي د ګدون له اولسه يو لوی ازادي خواه مشر سلطان محمود ګدون را ووت، چي هم پوه سړی او هم د ښو اخلاقو خاوند و او ډېر شاګردان او دروېږيان يې د تقوا او جهاد او آزادی په فکر له سواته تر مهابن او چچ هزاره او پکهلۍ پوري وروزل.

۱. دغه نوم د هند مورخانو په هندي ډول بهاکو ليکلی دی. مګر يوسفزي او د بونير خلک يې باګو بولي، چي د تاريخ مرصع په خطي نسخو کي هم بهاګو دی. په قندهاريو پښتنو کي هم دا نوم (بګی=بګو) و. او د احمد شاه ابدالي د لوی وزير شاه ولی خان اصلي نوم بګی خان و. دا نومونه د بګ (خدا، عظيم) لرغوني نوم ته منسوب دي چي د کوشانيانو په عصر کي د خدای يا پاچا نوم و يا يې معنا عظيم او ستر وه. او په سنسکريت او بهاوي او باختري ژبو کي ډېره مروجه کلمه وه (د تفصيل له پاره وګورئ زما کتاب مادر زبان دري (ص ٤٣، ١٠٧) د کابل چاپ ١٣٤٢ش.

٢. دا نوم هم هندوستاني مؤرخانو مسخ کړی او اخوند سالک يې ځني جوړ کړی دی. مګر په پښتو معاصرو او وروستنيو کتابو کي څالاک=چالاک دی.(پښتو سلوک الغزات د کابل خطي نسخه).

٣. حيات خان: حيات افغاني ٢٤٦ د لاهور چاپ ١٨٦٧م.

د سوات له شمالي غرو څخه را نيولې د کونړ تر نورستانه (چې پخوا کافرستان و) داسي خلک پراته وو چې د اسلام دين هلته نه و منل شوی او خلکو يې زاړه عقايد او بوتان او ديني دودونه او د ژوندانه لاري چاري دلودې. د سلطان محمود ګدون غورځنګ هم د دغو جګو غرو په ورسره نښتو لمنو کي د اسلام د خپروني لپاره يو جهاد و، چې ديني رنګ يې درلود. او د ضلع هزاره او سوات په شمالي غرونو او لمنو کي محدود و. د دغو ځايو خلک د بابر تر تيريدو ٩٣٢ق را وروسته آزاد اوسيدل له سياسته او درباري شخړو او د بابر د زامنو او لمسو له کورنيو جګړو او ډغرو سره يې ډير لږ پيوستون لاره. او خپله ټوله سعيه او وسه يې د دغو کافرانو مسلمانولو ته ټاکلې او د جهاد پر ډګر ولاړ غازيان وو. افضل خان خټک د دغه مکتب فکر د يوه تکړه شاګرد اخوند څالاک ترين احوال داسي کاږي:

"اخوند په سبب د حادثات يوسفزيو ته ولاړ، هورته يې له غازيانو سره جهاد کاوه...ډير ملکونه، ډير کوټونه د ده له برکته خالي له کفارو شول. اوس واړه اهل اسلام پرې ميشته دي. تقل کا چې شاه جهان پادشاه فرمان واستاوه، دا آيت يې پکي وکيښ: اطيعو الله و اطيعو الرسول و اولی الامر منکم. مطلب دا چې دغه عالم باغي دی، ته پکي استوګنه مکړه، د پادشاه ملک لره راځه. مطلب دا و چې هغه ملک د يوسفزويو دی يوسفزي زورور اولس دی، مبادا دی په پادشاهي ونيسي. ده په ځواب ورته وکښل چې دا خلق که له تا ياغي دي، له خدايه ياغي نه دي زه او دوی شب و روز په غزا د کفارو مشغول يو. ته پادشاه يې که مدد را رسې، ګنجايش لري که نه ما څه لره له دې ښه کاره ځان لره بولې!"[1]

---

١. تاريخ مرصع ٥٩٢.

د سلطان محمود دغه پاڅون خو په خپله سیمه کي محدود پاتي و. نو ځکه مورخان د ده نوم او کار نامې نه څرګندوي، خو د ده د شاګردانو له کړو وړو څخه د ده عالي مقام او دیني غورځنګ ښه ښکاري.

د ډهلي دربار شاه جهان ته پښتنو ډغرې د اکبر له غښتلې شاهنشاهۍ سره ښکاره وې، او هم هغه تاوانونه چي اړو دوړ کي د پښتنو له لاسه ور رسیدلي وو. نو یې ځکه دا کوښښ کاوه چي بیا د غالبوزو په ښور لاس و نه وهي او پخپله د پښتنو مشران په جاه او منصب او پیسو وغولوي او هم د دوی په منځ کي نفاق واچوي. چي هر وخت د خپلو سیالانو د وهلو لپاره د پاچا ملاتړ ته اړ وي. نو د شاه جهان په اوږده پاچهي (١٠٣٧-١٠٧٩ق) کي چي دغه سیاست په کلکه چلیده په یوسفزو کي بیل خانان او په کوزه خوا کي د لاري د ساتنی لپاره د ملک اکوړې خټک په کورني کي لکه خوشحال خان خټک داسي غټان وروزل شول، چي په خپل منځ کي به تل توره په لاس وینو ته تږي سره ولاړ و خو د ډهلي دربار ته به ګرده ایل وو.

د یووسفزو په سیمه کي د مندړو، د اتمان خیلو او سدوزو له قبیلې څخه خدوخیل یوه غټه او غښتلې پښه وه چي یو مشهور ملک یې مامو خان د زرم هجري کال په شا و خوا کي ژوندي و او د ده زوی باکو خان خدوخیل د شاه جهان معاصر د یوسفزو مشر و چي له پنجناره یې د یوسفزو ملکي چلوله.[1]

باګو خان د خپل ډله ییز خاصیته سره سم له درباره سره لاس یو کړ، او له بلي خوا یې د سیمي د اسلامي غازیانو سره چي مشر یې اخوند څالاک ترین و ملګري وکړه، او په دې توګه یې ځان په دربار هم وپیژاند څو چي د

---

١. یوسفی: یوسفزیي افغان ٣٠٦-٣٩٩.

شاه جهان یو فرمان د ده د مشرتابه د رسمي پیژندلو لپاره را ولیږل شو. او یو آس د سرو زرو د زینه سره هم له شاهي درباره ور وښندل شو، چي په دې ډول له سواته تر سمې او بیا د اباسین له شاړو څخه تر حسن ابداله او پکهلي پوري د ده حکم جاري و او د اخوند ځالاک په ملګري یې په لوړه غرني سیمه که له ډوما سره چي د کافرانو پاچا و غزاوي وکړې. او له بونیره تر تناوله ګرده غرونه او سیمې یې له کافرانو څخه ونیولې او یوسفزو پخپله جرګه کي سره وویشلې نو په دغه ډول باګو خان دګردو یوسفزو په مشري ومنل شو او شاهزاده دارا شکوه د شاه جهان زوی په یوه فرمان کي دی "زنده الاتصباه و الاعیان، قدوة الا مثال و القران" بهاګو خان یوسفزي وباله او وعده یې وکړه چي که دی دربار ته ور شي، نو هر څونه زر چي غواړي ده ته به وبخښل شي.[1]

باګو خان خو د سمې او غرو د یوسفزو جاګیر داري د دارا شکو شاهزاده په مرسته له خوشحال خانه واخیسته، نو د پښتنو د دغو دوو لویو خانانو تر منځ میرځی ولوېده[2] او په وار وارو دمخه لا هم د شهباز خان د خوشحال خان خټک د پلار او باګو خان تر منځ خونړي جنګونه شوي وو، او په اخرني جنګ کي شهباز خان پر سر داسي غشی وخوړ، چي په ٥ شوال ١٠٥٠ق م مړ شو.[3]

د همدغه کال په دوهمه خورکله چي شاه جهان د پښتونخوا په سیمو کي و، نو د باګو خان زوی هم د دارا شکوه په وسیله د تابین منصب وموند، او

١. دغه د درا شکوه فرمان په ٢٢ ذیقعده ١٠٦٨ کښل شوي او لوړکتاب په ٣١٥ مخو کي عکسي چاپ شوی دی.
٢. افضل خان خټک: تاریخ مرصع ٢٢٤.
٣. دغه کتاب ٢٦٩-٢٧٠.

د باګو خان او خوشحال خان د میرخی نغری ښه تود شو.[۱] د دوی وروستنی جنګ هغه و، چې د سوابۍ د جلبلۍ پر میدان په ٦ رجب ۱۰۷۰ق باګو خان ماته وکړه او خېل خانه یې قتل شوه، او دمخه لا د ده ورور سیدا خان او وراره یې داؤد وژل شوي وو.[۲]

د شاه جهان په پاچهي کي خو په سمه هواره کي د باګو او خټکو ډغري سره رواني وې، خو په حقیقت کي یو منلی حکومت هم نه و. شاه جهان چي په ۱۰۵۰ق کال دلته راغي نو خوشحال خان د دغي سیمي راپور داسي ورکړ: "په سمه کي یولس زره کوره یوسفزي اوسي چي خانان یې حبیب باګو او ظریف دي. له دوی څخه درې نیم زره سپاره را وزي او د سوات د یوسفزو هلکان کچی، حمید او کاچو دي چي پنځه زره سپاره لښکر را خوځولاي شي."[۳]

له دې څخه د سوات او سمې د یوسفزو د کاملې خپل اختیاري حال څرګندیږي خو دا حال تش د شاه جهان تر بندي کېدلو ۱۰٦۸ق پوري دغسي و، کله چي اورنګ زیب عالمګیر خپل پلار ونیو او ورور دارا شکوه یې مړ کړ د ګرد هندوستان غټ واکمن (شاهنشاه) شو، نو ده د پښتنو سر ټکولو ته هم ملا وتړله او لومړۍ پلا یې د باګو خان غاړي ته لاس ور واچاوه، چي هغه د خپلو پنځو زرو لښکرو سره د پکهلۍ د چهاچل کلا نیولې وه. په ۱۰۷۷ کال د کابل صوبه دار میر خان د ٤۰ زرو ولاړو شوو افغانانو

۱. دغه کتاب ۲۷۹-۲۸۲.
۲. دغه کتاب ۲۷۳-۲۸۹.
۳. دغه کتاب ۲۷۸.

سره ونښت، څو چي پاچا خپل زوی شهزاده محمد اعظم د شلو زرو سپرو او ډیرو لښکرو سره را واستاوه (۱۰۷۸ق).[۱]

اوس نو باګو خان مړ شوی و او نورو پاتو ملګرو یې خپل ګرده زور د غرو له کافرانو سره پر جهاد او د هغو پر مسلمانولو اچولی و، له کابله نور لښکر هم د شمشیر خان په قیادت را ورسیده. په سمه کي خو څو ځایه یوسفزي پر سر وټکول شول، هنډ او شاهبازګړ، شاهي لښکرو وران کړل، بیا یې نو د محمد امین خان په قیادت پر باجوړ او سوات برید وکړ او ډیري ورانۍ یې پیښې کړې. خو د پښتنو له بیري ژر سمې او هنډ ته را ستانه شول (۱۰۷۹ق).[۲]

خوشحال خان په سوات نامه ۱۶۹ بیت کي یوې واقعې ته اشاره کوي چي: کوم بل چا پر ځان د مغل شاهزاده شجاع نوم کېښود او یوسفزي یې پر ځان را ټول کړل، د اټک فوجدار کامل بیګ دوی د شوال په میاشت ۱۰۷۷ق د هنډ په مقابل کي د سیند پر ها بله غاړه سره تاش په تاش کړل. او هغه د شجاع په بڼه را وتلی سړی سوات ته وتښتېد څو چي هورې مړ او ښخ شو.[۳]

د شاه جهان دربار د پښتنو د ځځیرلو لپاره د زرین خان په حکمرانۍ په باجوړ او سوات کي لښکري چوڼۍ جوړي کړې، او د شهباز خان خټک، بیا

۱. منشی محمد کاظم: عالمګیر نامه ۲ر۱۰۴۵ د کلکتې چاپ ۱۸۶۸م.، منتخب اللباب ۳۱۳\۲.
۲. یوسفزیي افغان ۳۱۳.
۳. افضل خان: تاریخ مرصع ۲۹۱.

د ده د زوی خوشحال خان په وسیله یې د ګردو یوسفزو څخه دولس زره روپۍ مالیات اخیستل.[۱]

تر دې وروسته په امانزو کي جیون خان او د ده زوی مسري خان او صاحب خان د مسري زوی او په خټکو کي مشهور توریالي شاعر خوشحال خان د ایمل خان مومند او دریا خان افریدي په ملګري له اټکه تر خیبره داسي حال جوړ کړ، چي د اورنګزیب لښکر او حاکمان په ځان پوري اریان پاته شول، نو پخپله پادشاه د خپلو غښتلو او بې شمارو پوځونو او وسلوالو توپونو سره د پښتنو مقابلې ته را رهي شو او په دوهمه خور ۱۰۸۵ق ۱٦۷٤م یې پر حسن ابدال واړول او تر ۱۵ شوال ۱۰۸٦ق پوري یې له پښتنو سره سخت جنګونه وکړل.

په دغه وخت کي سوات او د یوسفزو سمه او غر، د اورنګزیب له حکمه آزاد وو. ځکه چي همدغه کال ۱۰۸٦ق په دریمه خور کي خوشحال خان له اکوړې څخه سوات ته ولاړ، او هلته یې شپږ اوه میاشتي د یوسفزو سره د روغې په خبرو اترو کي تیري کړې، چي ګرده پښتانه د اورنګزیب سره په میرځۍ کي ودروي (وګوري د سوات نامې ۸۷، ۸۸، ۸۹، ۹۰ بیتونه).

خوشحال خان په سوات کي بابي زي، خواجوزي، یوسفزي یادوي (سوات نامه بیت ۳۵) چي بابي زي د ده خسر خیل وو او له هغو څخه ملو خان ده نه لور واده کړه چي د صدر خان مور وه (بیت ٦) نور لوی ملکان یې اودل، همزه، نالی او د کاچو پیر لمسی وو (بیتونه ۱۷۹ تر ۱۸۲) خو تر ټولو تکړه یو شیخ و، چي میان نور نومیده او د اخوند درویز پیر و او د روړي غوندي و، د دې شیخ نما او ناپوه اخونده سره میان خان، ماڼکی،

۱. شیر محمد خان ګنډه پور: خورشید جهان ۱۹٦ د لاهور چاپ ۱۸۹٤م.

سنګر غوندي ملکان هم ملګري وو (بیت ۲۵۹) دوه مفتیان یې درلودل چي الله داد او دوست محمد نومېدل (بیت ۲۱۲) دا ګرده د لنګر خټک په کلي کي د خوشحال خان مناظرې ته راغلي وو (بیت ۲٦۰).

داسي ښکاري چي د سوات پر وګړیو باندي دغو ملکانو او اخوندانو حکمراني کوله، او د خان خانۍ دوره هم په دغه ډول شروع شوې وه، چي یوسفزیو په کلو او بانډو کي په کرهڼه لاس پوري کاوه، او نور وګړي هم د کوچ او پونده ګلوۍ په حال کي وو، او کله چي به د اورنګزیب د ګومارلو حاکمانو لاس بر شو، نو به یې تر باجوړ او سواته پر دوی باندي زغل کاوه، د دوی غیلي او ګورمونه به یې تاړا کول.

دلته دا هم د هېرولو وړ نده، چي د سلطان محمود ګدون د مجاهدینو د ډلي پاتو ملګرو په شمالي غره کي د اسلام خپرولو په نامه له کافرانو سره جهاد کاوه، دوی به کله کله د سمي د خلکو سره په سیاسي او قبیلوي اړو دوړ هم ننوتل. مګر د ډهلي دربار په دې خوښ و، چي دغه "غازیان" پخپله غزا په غرو کي بوخت وساتي، چي د سمي په سیاسي شخړو کي کډ نشي، او د خوشحال خان، دریا خان، ایمل خان غوندي درانه پیټي د دربار پر اوږو وا نه چوي.

## اخوند پنجو

کله چي د لودیانو جنډه لا د هند د ډهلي د کلا پر سر رېږېده، سید غازي نومی ستانه سړی له هنده راغی او د یوسفزو د یار حسین په کلي کي د کجو خان تر سیوري لاندي اوسیده. ده ته په ۹٤۳ق خدای یو زوی ورکړ چي نوم

یې سید عبدالوهاب و، او کله چې د ده پلار غازي په ۹۸۹ق په اټک کې مړ او ښخ شو نو عبدالوهاب په ۹۹۰ق د پیښور لویدیځ کلي اکبر پورې ته راغی، د شریعت او طریقت رهنما شو او ځکه چې د اسلام د پنځو بناوو پر عمل یې تل خلک پاځول، نو په "اخوند پنجو" مشهور شو، مریدان یې له اټکه تر کابله خپاره وو او د خان خانۍ په وده کوونکې نظام کې یې ښه پایښت او لویښت وموندہ څو چې د عمر په شپږ نوي یم کال په دوشنبې ۲۷ رمضان ۱۰٤۰ق وفات او په اکبر پوره کې ښخ شو. مفتي غلام سرور لاهوري وایي چې دی د علم په خپرونه بوخت و، په پښتو او فارسي او هندي به یې خبري کولې، په فارسي یې شعر وایه د حنفي فقه کنز الدقایق یې له عربي څخه په پښتو منظوم کړه.[1] او شیخ فاضل خدرزی چې په بیلوټ کې د پښتنو مشر و، د عبدالوهاب مرید شو، او د ده نفوذ دوني ډیر و چې په ۹۹۳ق کله چې اکبر پاچا دورې راغلې و په اکبر پوره کې یې لیدو ته تللی او ارادت یې ورته ښکاره کړی و.[2]

د اخوند پنجو دوه ورونه عبدالرحمن او عیسی هم پیژنو چې عیسی تالیفونه لري او ښایي هغه شاه عیسی وي، چې د سواتنامې په ۳۵۲ بیت کې یاد شوی دی. مګر تر اخوند وروسته د ده پر مسند عبدالرحمن ناست و[3] اخوند یونس چې د پیښور په ښار کې ښخ دي، هم د پنجو مرید او شاګرد و.

۱. خزینة الاصفیاء ٤۷۹\۱. د کنز الدقایق توضیح د ۱۹۲ بیت په حاشیه کې ولولئ.
۲. احمد شاه رضواني: تحفة الاولیاء ۳٤۰ د لاهور چاپ ۱۳۲۱ق.
۳. درویزه: تذکرة الابرار ۱۸۵-۱۸۸.

## هم مجاهد او هم مؤلف

د یوسفزو د سمي او غرونو په تاریخ کي د اخوند پنجو یو مشهور شاګرد اخوند ځالاک او د ده ورور اخوند سباک (عمر) سمته برخه لري، دوی په اصل توغه د ترین له قومه وو، چي پلار يې له افغانستانه راغلی او د خټکو په نړي کي د خیر آباد شمال مغرب ته میشته و. زامن يې یوسفزو ته ولاړل[۱] او په چغرزو، اباسین، کابل ګرام، هزاره او بونیر کي يې د جهاد ډنډوره ووهله، چي د پکهلی، الابی، نندهار او چیلاس د کوهستان خلک اسلام ته را واړوي. ځکه چي دغه خلک د دوما نومي حکمران تر بیرغ لاندي د مسلمانانو سره جنګیدل. د اخوند ځالاک سره د خوشحال خان ورور جمیل بیګ د خټکو له خوا او عمر خان د شیوې او باګو خان د پنجاتار او اخوند شاه دند د هوتي مردان او یار خان د غرغښت هم ملګري وو. شیخ رحمکار کاکا صاحب خټک يې هم مل و.[۲]

د اخوند ځالاک په خوله ګرده د سمي او غرو یوسفزي او نور پښتانه د شمالي لوړو سیمو له کفارو سره په غزا بوخت وو او د سمي پر خوا د ډهلي حکمرانانو تش د کابل لویه لاره ساتله. د پښتنو په داخلی چارو يې اړه نه درلوده[۳] خو د اورنګزیب په زمانه کي چي د دوی په چارو کي لاس وهنه شروع شوه، د باګو او ځالاک له پښتنو سره په ۱۰۷۷-۷۸ق هغه جنګونه وشول، چي دمخه مو خبري پر کړي دي.

ځالاک د علم او تدریس او تالیف خاوند هم و. په حنفي فقه کي يې فتاواي غربعه کښلې ده او دوهم کتاب يې بحرالانساب نومیږي چي د

۱. افضل خان: تاریخ مرصع ۵۹۲.
۲. تذکره ۱۳۲، تحفه ۳۲.
۳. محمد کاظم: عالمګیر نامه ۱۱۲ا۱۰٤.

افغانانو او ترکانو او سيدانو او د طريقت د شيخانو نسبونه پکي بيان شوي دي. دريم کتاب يې غزويه پر هغو غزاوو کښلی دی، چي د ده په قيادت د بونير او هزاره او چيلاس په کوهستانونو کي شوي دي، څلورم کتاب يې د مناقب اخوند پنجو په نامه د خپل مرشد سيد عبدالوهاب په ستاينه کي کښلی و. چي څلور سره په فارسي ژبه دي،[١] او داسي ښکاري چي څالاک د اسلامي علومو او فارسي ژبي تکړه عالم و. چي په کشف او کرامت يې شهرت لاره، او خوشحال خان غوندي نقاد او مقتدر عالم او خان به هم د ده په فتوا عمل کاوه او اخوند ملا جمال غوندي تکړه عالم د ده شاګرد و.[٢]

افضل خان خټک خپل تاريخ مرصع کي د پښتنو اولياوو څخه د اخوند څالاک مناقب: "قدوۀ محققين او ابده علماي دين" په نامه په پنجو مخو کي او د پير سباک کرامات په دوو مخو کي کښلي دي.[٣]

د اخوند څالاک په مريدانو کي چي هم مجاهد و، او هم شاعر او ليکوال د اسلامي علمو پوهاند، دا سړی ملا مست زمند نوميده چي هديره يې تر اوسه د شنوارو په غرو کي مشهوره ده او په پښتو يې يو کتاب د "سلوک الغزات" په نامه کښلی دی، چي فقط يوه نسخه يې د کابل په خطي کتابتون کي شته.

د ملا مست زمند د مړيني تاريخ د ١١٠٠ق ١٦٨٨م کال په شاوخوا کي اټکل کولای شو. دی په پښتو نثر ليکلو کي د پير روښان د سبک پيښې کوي، پخپلو آثارو کي د خپل عصر ډيري پيښي او واقعې او جهادونه بيانوي او ځني په نظم هم سره پيوده دي. د نوميالو او مړنو يادونه کوي، د پښتنو

١. تحفه ٣١.
٢. تاريخ مرصع ٥٩٣.
٣. دغه کتاب ٥٦٠-٥٩٢.

مشران او جنګيالي ښيي، کله کله غزل يا قصيده يا څلوريځه هم وايي. ويرني، ستايني، غندني لري او د منظومو په پای کي خپل نوم مست را وړي په يوه قصيده کي وايي:

اوس غـازيـان دي ډيـرخـښي،صافـي شـنـوراري
چـي غـزا هـمـيـش پـر نيت د عـنـد اللّٰه کا
او ســـردار د دوی اخـــون غـــازي څالاک دي
کـــه يـــې خـداي عـمـر دراز، عـزت نـګا کـا
لـــه غـــزا بـــه يـــې انـــشـــا کـــړم څو بـــيـــانـــه
کـــه مـــدد را ســـره حـــق پـــه هـــره ســـاه کـــا
"مست" شاګرد د اخون جيو غازي څالاک دي
چـي هـمـيـش پـر کـفـر غـړ سبا بيګاه کا[۱]

د اخوند څالاک په ملګرو کي د شيوې عمر خان رڅړ، بهو خان، اخوند يونس د تور ډهيري خاو صاحب، او د هوتي مردان اخوند صاحب ډڼهور هم شامل دي.[۲]

---

۱. د تفصيل لپاره وګورئ: پښتانه شعرا ۷۷\۱ د کابل چاپ ۱۳۲۰ش.
۲. تحفه ۳۲.

## (۷)

## د هند بابری کورنۍ لمر لویده، او د افغانانو بیا لمر خاته

د اتلسمي میلادي پیړۍ لومړي کلونه وو، چي د اورنګزیب د مړیني سره د ډهلي د بابري کورنۍ د پرتم بیرغ پر کښته کیدو و. د کندهار پښتانه د میرویس خان هوتک په مشرۍ آزاد شوي وو او د کابل او اټک تر منځ هم تش دغه لویه لار او ورځرمه کلي د کابل او پیښور د حکمرانانو په لاس کي و، چي د نادر شاه افشار د یرغل هښمه پر پښتونخوا تیره شوه، د ۱۱۵۰-۱۱۵۲ق تر منځ یې ناصر خان د کابل او پیښور حکمران چي د ډهلي له درباره ګومارلی شوی و، مات کړ، د خیبر پښتنو ته یې ججه ورکړه[1] څو چي بیرته له هنده خراسان ته ولاړ، خو یوسفزیي تر سواته پر خپل حال آزاد پاته وو، خپل ملکان او جرګې یې درلودې.

تاسي په تیرو مخو کي ولوستل: چي د ګردو پښتنو ډغرې د بابر د کورنی سره له بابره تر اورنګزیبه دوه سوه کاله پر له پسې په قومي او دیني او کله کله تش په سیاسي توګه جاري وې (۹۱۰-۱۱۱۸ق). په دغو هنګامو او تودو او سړو جګړو کي د بډایو عناصرو د پیدا کیدو او ودې سره یو ځای دغو سیمو پوند، او پر کلیو او بانډو باندي میشته پښتنو برخه درلوده. او د غښتلیو او پر ښارو ناستو خانانو او شاهزادګانو له خوا پر سرټکول کیدل. د بډایۍ او باداری جنډې له هراته تر اټکه پر پښتونخوا رپیدې، او د قندهار د سدوزو ابدالیو مشرانو په هرات، فراه، قندهار او ملتان کي د خانۍ مرکزونه جوړ کړي وو، چي له دوی څخه احمد شاه ابدالي د هرات د سدوزو مشر زمان خان

---

۱. فیریر: ا افغانانو تاریخ ٦٧ د لندن چاپ ۱۸۵۸م.

زوی د قندهار د شیر سرخ په ملي جرګه کي په پاچهي ومنل شو (شوال ۱۱۶۰ق ۱۷٤۷م).

د ابدالي احمد شاه سیاست دا و چي ټول خراسان او افغانستان (پښتونخوا) له آمو او دامغانه تر مرګلي او کشمیره سره یو کاندي، او پر هندوستان هم هغه جنډه بیا ورپوي کومه چي د بابر به لاس را کوزه شوې وه، د احمد شاه ږغ دا و:

ټوله یو دي که غلجي که اودلي دي
ښه هغه چي یې د زړه ښیښه صفا ده
پښتانه دي ټوله له لاس سره یو کاندي
چي مو نن غزا هر لوري شاوخوا ده[1]

احمد شاه چي یو پښتون پاچا و، د فرید (شیر شاه سوري) او حمید (شیخ حمید لودي) د تللي برم په یاد اته واره د هند پر خوا تر اباسین واوښت، دی پخپله وایي:

د "فرید" او "حمید" دور به بیا شي
چي زه وکاندم پر هر لوري تاختونه[2]

احمد شاه په دغه فکر او لوړ عزم د ګردو افغانانو منل شوی او ټاکلی مشر شو او هر کله چي به د هند په سفر د پیښور پر لار تیریده د ګردو پښتنو څخه به یې لښکر د ځان مله کول او په دغو کي به د سمې او غره یوسفزي هم وو، شیر محمد ګنډه پوری وایي:

---

۱. د لوی احمد شاه بابا ویناوي ۲۹۲ د کابل چاپ ۱۳۱۹ش.
۲. دغه کتاب ۳۲۱.

”اما در عهد پادشاهي احمد شاه در دران که پادشاه افغان بود، پس همه اقوام بخوشی دل اطاعت نمودند و سرداران ایشان (یوسفزیی) همرکاب پادشاه بغزو هندوستان رفتند و غزوات شایان بعمل اوردند...“[١] یو انګریزي مؤرخ او سیاست مدار الفنستون چي د (١٨٠٩م ١٢٢٥ق) په پسرلي د شاه شجاع دربار له پیښور ته راغي دغه واقعیت په دې الفاظو را څرګندوي:

”د احمد شاه سلوک او مینه محبت د پښتنو له هري قبیلې سره دومره زیات و چي یوې قبیلې به د هغه پر خلاف څه بغاوت هم وکړ نو هغه به همیش هغوی سره د جنګ کولو نه ګریز کولو چي هسي نه چي د پښتنو ځان و مال ته نقصان وسي. یوسفزو، ترکلاڼو، ګیګیاڼو،، اتمان خیلو، بر مهمندو، د هشتنګر محمدزو، خلیلو، مهمنمدو، افریدو، شینوارو، اورکزو، داؤدزو، خټکو، بنګښو ته به هغه (بر دراني) ویل او هم دومره مینه به یې هغوي سره کوله لکه چي به یې د خپلي قبیلې سره کوله.“[٢]

یوسفزي پښتانه خو په اصل کي د سړه بن له څانګي څخه دي چي د پښتنو له څلورو برخو یوه غټه څانګه ده او د قندهار سړه بني یا اودالي (دراني) اقوام هم له دغي څانګي څخه دي. کله چي په نهم هجري قرن کي (لکه دمخه چي څرګنده شوه) یوسفزي کابل ته را وختل، نو یې د کابل د سیمي د لوړوالي په سبب بر پښتانه یا ”بر دراني“ وبلل. او بیا چي دوی له کابله ور شیوه شول او د پیښور او اټک او سوات تر منځ په سمه او غره کي میشته شول، نو دوی په هغه نامه ”بردراني“ یادیدل او احمد شاه هم په دغه نامه دوی خپل وروڼه او د پښتنو د لوی اولس یوه غښتلې او درنه څانګه بلل،

١. خورشید جهان ١٩٦.

٢. ایلفنسټن سلطنت کابل د لندن چاپ ١٨٣٩م د قاضی عطاء الله د پښتنو تاریخ په حواله ار١٠٤ د پیښور چاپ ١٩٤٨م.

او د قندهار په ښار کي چي احمد شاه په ١١٧٤ق ودان کړ، یو بازار او د ښار شرقي شمالي برخه د بردراني په نامه د یوسفزو او نورو مربوطو اقوامو د هستوګني لپاره وټاکله شوه، چي تر اوسه هم په دغه نامه یادیږي.

لکه چي تاسي دمخه ولوستل، یوسفزو د هیڅ پاچا د مطلق اطاعت جوغ پر خپله غاړه نه و ایښی. مګر کله چي احمد شاه تر خیبر را تیر شو، ګردو پښتنو تر سواته او باجوړه دی ومانه، او ده هم د دې سیمي قومي غټان لکه فیض الله خان خلیل او عبدالصمد خان محمدزی د اشنغر، او فتح خان یوسفزی او ارسلا خان مومند او نور یې د ځان مله کړل او له یوسفزو څخه یې یوه پیغله چی فاطمه نومیده خپل زوی تیمور شاه ته په ١١٨٤ق را واده کړه، چي وروسته د شاه زمان مور او د افغانستان ملکه وه، او د فرمانو په سر کي به یې دا بیت لیکلی و:

سپهر رشک برد از بلندی جا هم
کنیز فاطمه و مادر زمانشا هم[1]

د تیمور شاه په دربار کي هم موږ د دغې سیمې د مشرانو نومونه اروو، چي په جنګو او سفرو کي د پاچا ملګري دي. لکه په ١١٨٧ق کال چي د سکهانو په جنګ کي د زنګي خان دراني سره شاه ولیخان د فتح خان کمالزی او بهادر خان د فیض طلب خان محمدزي اشنغر زوی او د یوسفزو نور مشران ملګري وو.[2] او دغه بهادر خان هغه څوک دی، چي د ده نیکه عبدالصمد خان د احمد شاه بابا د دربار غټ سړی د سرهند حکمران و. او د مرهتو په جنګ کي شهید شوی و. او د حسیني په قول "امیر صاحب

١. عزیزالدین وکیلی: درة الزمان ٥ د کابل چاب ١٣٣٧ش.
٢. امام الدین حسینی: تاریخ حسینی ١٧٦ د کابل خطي نسخه.

سخاوت بود که سخاوتش زبان زد خواص و عوام است و پانصد سوار همراه رکاب مي ماند.“ [١]

د یوسفزو لښکر خان کمال زوی هم د پنځو سوو سپرو نیزه والو مشر و او بل ظفر خان د فتح خان یوسفزي زوی له حسن ابداله تر کشمیره حکمران و.[٢]

حسیني د شاه زمان په اردو کي د دغو برو پښتنو د لښکرو شمیر تر باجوړه اتلس زره تنه ښیي، چي ګرده مالیه یې اوه لکه روپۍ ور کوله[٣] او یوازي یوسفزي دوه زره دوه سوه سپاره د هند د سرحداتو پاسني او څارني ته لیږل چي د سوات او بونیر جنګي زلمي به هم پکي وو.[٤]

په ۱۲۰۳ق ۱۷۸۸م چي آزاد خان د حاجي کریمداد بامیزي عرض بیګي زوی د کشمیر افغاني حکمران و د ده سره ځیني د سوات یوسفزي هم ملګري وو. مرحوم سید جبار شاه د سوات اخرني سید او معزول امیر به دا لنډۍ ویله، چي د سواتي پښتنو پیوستون د افغاني حکمرانانو سره ښیي:

د سوات بر غاړه مي یار بایلود اوس د آزاد تر څنګ روان کشمیر له ځمه[٥]

د احمد شاه لمسی شاه زمان یو عالي همته پادشاه و، ده غوښته چي ګرده شمالي هندوستان بیا د احمد شاه په څیر له کابله سره ونښلوي او انګریزان چي د هند له شرقي خواو څخه د ترخه دریاب پر غاړو د سوداګرو په جوله را ختلي او د خپل استعمار او ناجایز اقتدار جال یې غوړاوه بیرته وشړي.

---

١. دغه کتاب ۲۲۸، ۳۲۵، ۳۸۰.
٢. دغه کتاب ۳۷۰، ۳۹۰.
٣. امام الدین حسیني: تاریخ حسیني ۱۷٦ د کابل خطي نسخه.
٤. وکیلي: درة الزمان ۸۷-۳۰۱.
٥. دغه لنډۍ ما پخپله د سید جبار شاه له خولې په سنه ۱۹۵۱م په پیښور کي اورېدلې وه (حبیبي).

ده د دغه مقصد لپاره د ډهلي د بابري شاهزادګانو سره مفاهمه وکړه، او د پنجاب سکهان يې وپوهول، په لاهور کې يې د دوی مشر رنجيت سنګه هم د ځان ملګری کړ او په ١٢١٣ق (٢٥ اکتوبر ١٧٩٨م) د پيښور پر لور وخوځيده.

لارډ لزلي د انګريز ګورنر جنرال چې په کلکته کې ناست و د شاه زمان له دغه غورځنګه وبيريده او خپل ټول استعماري قوتونه يې دې خوا ته را وګومارل. په خاصه توګه بيا دغه غورځنګ هغه وخت ډېر تکړه او د بيرې وړ شو، چې د ناپليون استازي د شاه زمان دربار او په شرقي هند کې د ټيپو سلطان شهيد دربار ته را ورسيدل او د انګريز د پيشرفت د مخ نيوي لپاره سياسي خبري اتري رواني وې.

انګريزانو د خپلو جاسوسانو بهير د پنجاب د سکهانو او د ډهلي د بابري شهزادګانو او د کابل دربار ته را خوځولي و، او د شاه زمان د غورځنګ اطلاعات يې پر له پسې انګريزانو ته ورکول.

شاه زمان خو په دننه هيواد کې هم د خپلو ورونړو او درباري مشرانو په اختلاف کې نښتی و. خو د هند افغاني متصرفه ولايتونه يې هم هير نه وو، دی څو واره تر پنجابه ولاړ، خو داخلي شخړو په سبب بيرته را ستون شو. د انګريزانو ګورنر جنرال ته په جون ١٧٩٩م دا خبر ورسيده: چې شاه زمان د خپل دربا دوه مشران وفادار خان او شير محمد خان سره پخلا کړل او خپل موروثي ملک يې له اټکه تر هراته وفادار خان ته وسپاره او له اټکه تر ډهلي پوري يې شير محمد خان وګوماره او ورته يې وويل: "دو بار از لاهور سبب

نفاق شماها برگشته امدیم و این معنی بر مزاج ما بدولت خیلی ناگوار می گذرد. تا وقتیکه در آنجا نرسم، خوشی خاطر نمی شود."[١]

انګرېزانو لیدل که شاه زمان د افغانستان له لښکر سره د پېښور پر لار اټک ته را واړوي، دلته ګرده پښتانه او یوسفزي تر سواته ور سره درېږي او د احمد شاه بابا د پاني پت داستان بیا نوی کېږي. نو یې په سیاسي چل ول لاس پوري کړ او خپل سفیر جان ملکم یې ایران ته واستاوه، چي فتح علي شاه قاجار د خراسان او هرات پر خوا د افغانستان پر سیمو را وګوماري او شاه زمان له پېښوره د هرات د ساتني لپاره بیرته پر شا ولاړ شي. د استعماري انګریزانو دا چل کامیاب شو او په افغانستان کي خانه جنګي ولویده. او غلام محمد هندوستاني درویش چي د کمپنۍ په لمسون قندهار ته راغلي او هلته یې ډېر قبایلي سرداران د شاه زمان په مخالفت را پاڅولي وو، هم پخپله دسیسه کي بریالی شو او شاه زمان هغه سردارن مړه کړل. پخپله درویش خو بیرته هند ته وتښتېد، مګر په افغانستان کي یې داسی اله ګوله واچوله، څو چي شاه زمان ونیول شو او ړوند کړ شو (١٢١٥ق ١٨٠٠م).

تر دې حادثې وروسته افغانستان څلویښت کاله په خانه جنګۍ ګرفتار و، او سکهانو دوني قوت او جرائت وموند، چه تر اټکه را تیر شول، د خیبر تر خولې پوري را ورسیدل (١٨١٨م). اوس نو د دې مځکي اقتدار د سکهانو او بارکزو سرداران په لاس کي و، خو عملا هم یوسفزي او هم د سوات د

١. پرماتماشرن: فارسی اخبارات و مراسلات د ډهلي چاپ ١٩٦٦. دا کتاب د هغو راپورونو مجموعه ده چي د انګریزانو د شرقي هند د کمپنۍ جاسوسانو به د ١٧٧٦ تر ١٨٠٣م پوري د ګورنر جنرال دفتر ته ورکول. او دغه راپور نمبر ٢١٤ د کتاب په ٤٨٤مخ کي مفصلا درج دی. او همدغه کتاب د انګریزي استعمار تشویش د افغانستان له خوا او د شاه زمان له لښکر کشۍ څخه ښکاره کوي.

جګو سيمو پښتانه د سيد احمد بريلوي د مجاهدينو سره ولاړ وو. دغه ډله هندي مجاهدين په ١٢٤١ق ١٨٢٦ د قندهار او کابل له لاري پيښور ته راغلل او پښتانه له دې جهته ور سره ملګري شول، چي دوی د جهاد اعلان کړی و. دوی له سکهانو او د کابل سردارانو سره ډغرې ووهلې او د پښتنو د دود او رواج پر خلاف يې کارونه شروع کړل. څو پښتانه او د سمي او غرونو يوسفزو ځني بيل شول لومړي خو د دوی سره د پنجتار فتح خان د کوټې سيد امير پاچا او د زيدي اشرف خان او د هنډ ښادي خان او د باجوړ امير محمد خان ولاړ وو. او سيد احمد بريلوي هم په جنګو کي پر سکهانو او کابلي سردارانو بريالی و. د بونير او سوات په پښتنو کي هم وګرزيد او هغو هم دی د اسلامي جهاد لپاره په خپل امارت ومانه[1] او دوه کاله يې په پيښور او پنجتار اوښار کي تير کړل، او څو جنګونه يې د پښتنو په مرسته له سکهانو او کابلي سردارانو سره وکرل، څو چي د ضلع هزاره په بالا کوټ کي د ١٢٦٤ق په ديقعده (می ١٨٣١) کي د مجاهدينو مشران لکه سيد احمد او مولوي اسماعيل او نور د سکهانو په جنګ کي شهيدان شول. او هغه مجاهدان چي ژوندی پاتي شوي وو د باجوړ په سمخ او چمرکنډ کي د پښتنو سره اوسيدل او د هند او افغانستان د آزادۍ غوښتونکو غورځنګونو او ملي مشرانو سره يې پيوستون درلود، او د المجاهد او شغله په نامه يې کله کله په فارسي، پښتو، ارودو جريدې هم خپرولې.

پنځوس کاله بيا يوسفزو او نورو پښتنو په سمه او غرو کي تر سوات، بونير او باجوړه د پښتونوالي پر دود دستور برابر آزاد ژوند کاوه، خو د مقامی خانانو او بډايانو تر جوغ لاندي وو. کله به يې د سکهانو ظالمانو حاکمانو او

١. غلام رسول مهر: سيد احمد شهيد ٤٣٠ د لاهور چاپ.

کابلي سردارانو ته ماليات هم ورکول، څو چې په ١٨٤٩م انګريزانو د سکهانو او سردارانو کمبله ور ټوله کړه، پيښور يې ونيو، او د يوسفزو سيمه يې هم لږو ډير د انګريزي استعمار په سيمو کي را کښې يسته.

## (٨)
## يوسفزی او انګريز، د سوات نوی امارت

د سوات سيمه د نونسم قرن په لومړيو لسيزو کي د پښتنو د ديني او سياسي حرکاتو د يوه مهم مرکز په توګه داسي مشهوره شوه، چي په لندن کي به انګريزانو د هغې څارنه کوله او سيد جمال الدين افغان په خپل کتاب تتمة البيان کي هم د دغو خلکو د جهاد په يادونه او ستاينه، خپله خوښي او وياړ ښکاره کوله.

د اتلسم قرن په وروستۍ لسيزه کي، د بر سوات د هاميزي د چيړي د کلي په يوې شپني صافي کورنۍ کي ميا عبدالغفور د عبدالواحد زوی وزيږيد چي لومړی يې د خپل کاله ګورواني کوله، بيا يې د علم او طريقت په زده کړه لاس پوري کړ څو چي د ١٨٢٨م په شاوخوا کي په پوهه او ستانه توب داسي مشهور شو، چي ډير خلک يې شاګردان او مريدان شول. ده نقشبندي طريقه له پيښوري حضرت جي او قادري طريقه له صاحبزاده محمد شعيب څخه په دولس کاله زهد او تقوا کي زده کړه. بيا چي په ١٢٤٣ق کال د هندي مجاهدينو بهير د کابل له لوري را ورسيد، نو د دوی سره په تبليغي او عملي جهاد ګډ شو. بيا سوات ته ولاړ، د سوات او بونير او باجوړ او دير په

زرو مریدان یې منظم کړل، او په ۱۸۳۵ کال د امیر دوست محمد خان سره د شیخان په کلي کي د سکهانو سره په جهاد کي شامل و. کله چي امیر بیرته کابل ته ستون شو،، نو د سوات اخوند صاحب سوات ته ولاړ او په سیدو شریف کي ډېره شو.[١]

اوس نو انګیزانو په پیښور کي خپله چونۍ جوړه کړه، استعماري چارو ته یې لاس ورته کړ، نوي لاري چاري یې راوړې، او خپل اقتدار یې په منظمه توګه خپراوه، د یوسفزو په سمه کي یې د ملکانو او خانانو سره خبري اتري کولې، او دوی یې د خپل استعماري منظم طاقت تر جوغ لاندي را ښکل.

اخوند صاحب خو یو مدبر او د پښتنو په ژوند او روحیاتو روږدی رهنما و. ده د سوات او بونیر او باجوړ د پښتنو یوه لویه جرګه را وغوښته. دوی یې ټوله پخپله روحاني جاذبه او اغیزه ناکه وینا، سره ونښلول او په ۱۸۵۰م کال یې د ستاني اوسیدونکی سید اکبر شاه چي د سید احمد بریلوي ملګری او د ویسا وړ سړي و، د خلکو لپاره د "شرعي امام" په توګه وټاکه او په خپله اخوند "شیخ الاسلام" وګڼل شو. او له پردو پرنګیانو سره یې د جهاد فتوا ورکړه، چي د پرنګي لاس د سوات خاوري ته را اوږد نه شي. خو له بده مرغه سید اکبر شاه ژر په ۱۱ می ۱۸۵۷م کال مړ شو او د ده زوی سید مبارکشاه یې پر ځای ودریده، او په خلکو کي اړو دوړ ولویده. خو د اخوند صاحب په همت د خلکو جرګې را وغوښتلې شوې، او په سمه او لوړه کي د

١. عبدالغفور قاسمي: تاریخ سوات د پیښور چاپ ١٣٥٦ق. نصرالله نصر: اخوند صاحب سوات د پیښور چاپ ١٩٥٠. ولی محمد سواتي: د اخوند صاحب پښتو منظوم مناقب (خطي). هیوګس: د سوات اخوند د لندن چاپ ١٨٩٥م. محمد اسماعیل طوروي: صاحب سوات د پیښور چاپ ١٩٥٣م.

پرنګیانو سره د سواتیانو او ګرود یوسفزو ډغرې رواني وې. په اکثرو غزاوو کي پخپله اخوند او سید مبارکشاه هم شامل وو لکه:

لومړی په ۱۸ جولاي ۱۸۵۷م د نارنجی اول جنګ، چي د محمودزو رحیم خان او خدو خیل مقرب خان او مدد خان یې د سمي مشران وو. او د سوات د اخوند صاحب مریدان له دوی سره په جهاد کي ولاړ وو. دغه رحیم خان د نمیر خان زوی خلکو د "زړور هوښیار" باله چي تر دې جنګ وروسته یې په کروندو کي د جنګ د شهیدانو له کورنیو سره د مرستي لپاره د شهید ونډه وټاکله.[1]

دوهم. د پنجتار جنګ: د هند مجاهدینو یوه ډله د مولوي نعمت الله په مشرۍ د یوسفزو د پنجتار په منګل تهاڼه کي پراته وو. میر باز خان د مقرب خان د اکا زوی د دوی ملګري و. او انګریزانو ته یې مالیه نه ورکوله. د سوات اخوند صاحب هم خپل مجاهدین له دوي سره ملګري کړل او پر پرنګیانو یې یرغلونه کول. له پیښوره میجر جنرل سډني کاټن او میجر واکسن د ډیرو پلټنو سره را ووتل او په اپریل ۱۸۵۸م د دواړو خواو ډغرې سره شروع شوې. میر باز خان د جنګ پر میدان شهید شو. د مجاهدینو قاید ګرفتار او په دار شو. کلی یې وسوځل شو او د نارنجی کوزه خوا یې ونړوله، بره نارنجی یې د پیلانو تر خپړو لاندي سره ګډ وډ کړه.[2]

دریم. امبیله: د یوسفزو د سمې شمالي څنګ ته د سدوم پر شرقي شمالي اړخ چي بونیر ته لار وروزي یو شپږ میله اوږد جګ کنډو پروت دي، چي امبیله یې بولي او سوق الجیشي اهمیت لري. دلته د بونیر، سوات، او هندي

۱. لومسدن: د سوات راپورټ د کلکتې چاپ ۱۹۰۰م. یوسفي: یوسفزئي افغان ۳۹۲.
۲. جیمس ډارمستتر: د پیښور حکمران د لندن چاپ ۱۸۹۸م. یوسفي: یوسفزئي افغان ۳۹۳.

مجاهدینو او یوسفزو او ګردو پښتنو لښکري سره یو ځای شوې وې. مجاهدین د مولوي محمد عبدالله او ملک عیسي خان جدون په مشرۍ راغلل، په سوابۍ کي یې پر ټوپۍ حمله وکړه او پرنګیان یې وتښتول. د سوات اخوند صاحب هم له خپلو غازیانو سره را ورسید د ۱۷٦۳م د اکتوبر په دریمه لسیزه کي سخت جنګونه ونښتل. د دیر، باجوړ، سوات، بونیر او شاوخوا غازیانو په میړانه درې څلور هفتې پر پرنګیانو داسي زغل کاوه، چي انګریزي قومندان نیول چمبرلین یې د اوو زرو مسلحو فوجیانو او توپخانې سره داسي په غار ننه یستل، چي پخپله چمبرلین ټپي شو او ۹۰۸ تنه پرنګیان مړي په میدان کي پراته وو او پښتنو به ویل:

د امبیلې ګیدړ ماړه شول　　　چي یې خوراک و د ګوروو لړمونونه

پرنګیانو په امبیله کي داسي ناورین لیده نو یې په ۱۸ نومبر ۱۸٦۳م دوني لښکر میدان ته راوستل، چي اخوند صاحب هم پنځلس زره غازیان د دوي مخي ته ودرول، د دسمبر تر ۱۵ پوري داسي جنګ جاري و، او دوني خلک ووژل شول چي دغه ځاي "قتل ګړ" وباله شو.[1]

د پښتنو تاریخ لړ لیکل شوی دي، او که څه شته، هغه هم د پردو او پخپله پرنګیانو لیکني دي. خو پښتنو پخپلو کلو او بانډوکي عوامي شاعران درلودل، چي په پښتو به یې د ځینو واقعاتو په بیان کي بدلي او چار بیتي ویلې. د سوات د جنګونو او د اخوند صاحب د غزاګانو بدلي هم ډیري دي. مثلا احمد ګل د ټکرۍ اوسیدونکی د بونیر د جنګ په یوه چار بیته کي اخوند عبدالغفور ستایي:

---
۱. جیمز ډارمستتر: د پښتونخوا د شعر هار و بهار ترشریحات ۲۲ د پاریس چاپ ۱۸۸۸م.

غـزا پـسـې راغـلـی دی پـه کـور یې اللّٰه نـور کـه
مـولادي مشـرف پـه هـر طـرف عـبدالغـفور که!
غـزا پـسـې یـې راوسـتـل ګوجـر لـه بـیـلـچې نـه
صـاحـب لـره راغـلي دی خـطونـه لـه مـانـجې نـه
زهـیـر شـو پـرنـګی چي شـو خـبـر لـه دې لانـجې نـه
مسواک یې ذوالفقار، ملک به په وینو باندي سور که
غـزا پـسـې راغـلـی دی پـه کـور یې اللّٰه نـور کـه
تـربـور شـو د انـګـریـز، د صـاحـب ځـومـره خـزانـه ده؟
خـوراک یـې شـکـرانـه، جـامـه یې واړه زرغـونـه ده
قـلـعـه یې چـارچـوبۍ پـه جـمـاعـت کي یې ستانه ده
مـنـګل بـه د انـګـریـز پـه ویـنـو رنـګ لـکـه بـاتور که[1]

اکبر شاه هم د اخوند صاحب د ملایانو څخه و. هغه د قتل ګړ معرکه په یوه بدله کي بیان کړې ده. چي څو برخي یې دا دي:

راغـلـي غـازیـان د پـرنـګي پـه دغـه ګـړ[2] بـانـدي
اوړي قـتـل ګړ بـانـدي
راغـلـی غـازیـان غـزا لـه واړه لـور پـه لـوره عـالـمه
ګډ یې کړ په شور عالمه
دا شـادو مـخـي[3] خـدای ورکـړي دي په کور عالمه
اخلي به ترې پور عالمه

۱. دغه کتاب ۱٤، دا چار بیته اوړده ده، دلته یې تش دوه بنده وکښل شول. چار چونۍ: غسل خانه او د اودس ځای ته وایي.
۲. ګړ: دلته د مقر او استوګني د ځای معنی لري.
۳. شادو مخي: مراد پرنګیان دي، چي مخونه یې د بیزو په څیر سره دي.

تــوره یــې نــه وه، ډز یــې ورکــړ پــه لــوړ[۱] بــانـدي
اوړي قـتـل ګړ بـانـدي
یو بند وروسته د اخوند صاحب د ملايانو شهادت داسي ښيي:
موليان مړه شول را مدد شي اې د سوات صاحبه!
اوښي مي څاڅي برسات صاحبه!
پـه عـاجـزانـو بـانـدي شـوی دی پـسـات صاحبه!
شو بونیر میرات صاحبه!
لـکـه بـلـبـلـي چـي پـريـږي پـه لـګړ[۲] بـانـدي
اوړي قتل ګړ باندي
په پاي کي وايي:
نــه حــصــاريــږي مــومــنــان تــريــنــه خـطـر نـه کـوي
توبې پرې اثر نه کوي
ځان پرې غازي کړي چي څوک دين د پيغمبر نه کوي
بد دی چي باور نه کوي
زه اکــبـــر شـــاه مــلا ور ځـمــه پــه مــلاتـــړ بـــانــدي
اوړي قتل ګړ باندي[۳]
په دغسی بدلو کي د غزاو ځيني جزويات لا هم ښکاره کيږي. د بونير د جنګ په چار بيته کي چي د پکلي د ترنګړي حميد ګل ويلې ده، د انګريز په لښکر کي ګوره او سيکان دواړه ښيي:

۱. لوړ: سوټی، د وهلو غټ لرګی.
۲. لګړ: يو ښکاري مرغه دی، لکه شاهين.
۳. د پښتونخوا د شعر هار و بهار ۱٦.

د انګریز پلتنې راغلې کلکتې نه
ورسره ځیني سیکان، ډېل ګوره وو

د پښتنو له لښکرو سره بونیروال، چمله وال، ملکا وال ګرده ملګري وو. د سوات له قاشقاره هم غازیان راغلي وو. په دغه بدله کي وایي:

د باجوړ زلمي پر واړه کړل تمام
چي لښکر ور له راغلې له قاشقاره[1]

د نواب جان په یوه چار بیته کي د بونیر د جنګ پهلوانان لکه اخوند صاحب او د بر کلي ناصر خان او د سیلمۍ او سوات یوسفزي او د سور کاوې شپږ میاشتني جنګونه ستایل کیږي چي کسر یې دا دی:

په سر د قتل ګړ پرنګي ډېر وکه ارمان
شوه چیغه د خطر پسې
په سترګو یې تیاره شوه چي لیدل به یې غازیان
غم راغی سراسر پسې

داسي څو بدلي د هارو و بهار په ٤ تر ۳۱ مخونو کي دارمستتر د هغه وخت د شاعرانو له خولې کښلي او چاپ کړي دي چي د سوات او یوسفزو او تر قاشقاره د غزاګانو او غازیانو او ځینو وطن فروشانو نومونه او کارنامې پکي ثبت دي.

په پرنګ باندي معامله شوله تر ډېره
بیرته تښتي که چا ورکړه وله لار
توبه ګیر شو سوات، له سمي، له بونیره
ډېر عالم شو په کنډو کي ترې مردار

---
۱. دغه کتاب ۱۹.

دا چـمـلـه يـې کړه د دوی له مرګه تيره
چي راتـلـه بـه پـښتـانه پرې وار په وار
چي د سـوات عـالـمـو وکـړ ورتـه پـام
بـاجـوړو لـه پـرنـګي وکـړه قـتـلـونـه[۱]

د پرنګيانو څورلس لوی منصب داران هم په امبيله کي غازيانو وويشتل، پرنګيانو ملکا د دغه ځای د يوه خاين ملک زيد الله خان په ملګري وسوائه، او پرنګي قوماندان د دغه خيانت په مقابل کي ده ته خپله تفنګچه وبخښله خو په ۱۸٦۸م پخپله د ده قومي پښتنو په همدغه وسله وواژه:[۲]

تو هم شب را بسر کی می بری ای شمع کم فرصت!
گرفـتـم سـوخـتـی پـروانـه آتـش بـجـانـی را

پرنګيانو وليدل چي په توره او ټوپک او توپ او اورد پښتنو سره په دغو غرو کي ډغرې وهل اسان کار نه دي. نو يې ډېر لاس و پښې ووهل چي په پښتنو کي بيلتون واچوي او دوی پخپله سره وجنګوي. له بده مرغه خو پښتانه پخپله هم يو له بله ډېر سره خوري، او کورنيو جنګو ته تيار وي د ۱۸٦۸م په فبروري کي د بونير څو خانان د هندي مجاهدينو سره يو ځاي د سوات د خلکو او اخوند صاحب سره د جنګ په نيامت را وخوځيدل چي د اخوند صاحب لښکر بريالي شول او هغه خلک وتښتېدل او د اخوند اقتدار پر بونير او چغرزو باندي لا هم ټينګ شو.[۳]

د بونير او غرنيو پښتنو، اشوزو، دولت زو، نورازو او نورو قبيلو يرغلونه د پرنګيانو پر سيمو او سدوم باندي تر ۱۸۷۷ پوري هم جاري وو. چي يو مشر

۱. هار و بهار ۲۷.
۲. يوسفزئي افغان ٤۳۰.
۳. دغه کتاب ٤۳۱.

يې عجب خان د مردان د چار ګلۍ ملک او د ملا ميرو روښاني لمسی و. دی پرنګيانو جرګې ته را وباله، په دې چم يې ونيو او په ۱۸۷۸ کال يې په دار وځړاوه.[۱]

د سوات دغه د غورځنګ او پاڅون دوره هغه وخت تيره شو چي د سوات روحاني مجاهد قايد اخوند عبدالغفور په ۷ محرم ۱۲۹۵ق، ۱۲ جنوری ۱۸۷۷م په سيدو شريف کي وفات او هورې ښخ شو. د اخوند صاحب شخصيت او درايت او روحاني نفوذ د سوات د تاريخ وروستنۍ ځلانده پاڼه ده. ده په پښتو يو مناجات هم منظوم کړی و او ډير مجاهد او مشهور شاګردان يې لرل، چي له هغو څخه ملا نجم الدين د جلال آباد د هډې صاحب (متوفا ۱۳۱۹ق) او عبدالوهاب د مانګي شريف پير د پښتو عقايد المؤمنين ناظم (متوفا ۱۳۲۲ق) او ملا ابوبکر د غزني پاسنی ملا او فيض محمد د کابل د موسهي اخوند او د کابل د شمالي خوا د تګاو ميا حميد الله او د تيمل ګړو ملا او د دير شاه بابا او د کربوغې ملا او د کنديه ملا او کشر مياګل جان او د شاشو بر سوات ملا او د مترا ملا او نور په زرو مريدان او مجاهد شاګردان وو.[۲] چي د ارشاد سلسلې يې تر اوسه لا هم چليږي.

اخوند د کابل له درباره او افغاني شاهانو سره هم صميمانه پيوستون درلود. او تل به يې خطبه د افغاني پاچا په نامه ويله. افغاني سکه هم هلته چليده او خلکو يې ځانونه په افغانستان پوري تړلي ګڼل. او دا ټول د اخوند صاحب همت او مجاهدت و چي د سوات سيمه يې له پرنګ څخه خپلواکه

۱. دغه کتاب ٤۳۲.
۲. حجة البيضاء د بمبئی طبع ۱۳۱۱ق.

ساتلې او هلته يې اسلامي احکام او اسلامي حکومت د متفرقو او سرکشو قبيلو په اتفاق چلاوه. او د کابل استاځي به هم ده ته ورتلل. لکه چي په ۱۸۷٦ق چي امير شير علي خان خپل سفير احمد خان ساکزی د جلال آباد حاکم سوات ته واستاوه. خو اخوند دوني عاقل سړی و، چي د افغانستان د شاهزادګانو په داخلي چارو او شخړو کي يې لاس نه واهه او ګردو خلکو ته به يې د اسلامي وروری لار ښووه. په ۱۲۹۰ق کال امير شير علي خان خپل وليعهد عبدالله جان په يوه فرمان کي اخوند صاحب ته معرفي کړ، او هغه هم ومانه او د مبارکي ليک يې کابل ته را واستادو (دو شنبه ١٤ شوال ۱۲۹۰ق) چي دغه منل ليک د کابل په شمس النهار کي چاپ شوی دی.[۱] او ځکه چي د دغو ځايو خلکو تل ځانونه له افغانستانه سره نښتلي ګڼل، نو په ۱۲۹۲ق کال چي د باجوړ د فيض طلب خان او د ناوګۍ د غلام حيدر اختلاف شو، امير شير علي خان په توصيه يې دغه شخړه سره سمه کړه او روغه يې وکړه او هم په ۱۲۹۱ق کال د چترال د ميرزوي نظام الملک د امير شير علي خان دربار ته راغلی و.[۲] د اخوند تر وفات وروسته په سوات کي د جهاد نغری سوړ شو. په ۱۸۹۷م د سالارزو او بونير زلمو پر ملکنډ بريد وکړ، خو پرنګيانو اوس اخوند غوندي کلک او غښ مقابل نه درلود. دولس ورځي جنګ و، بيرته د انګريز راج ټينګ شو، او په ۱۹ جنوري ۱۸۹۸م دا شخړه وشليده.[۳] خو پرنګيانو پر ګردو غرونو باندي خپله قبضه ټينګوله. ملکان، خانان، او نوابان او غښ زميند اران او روحانيان ئې ګرده په

۱. شمس النهار د کابل چاپ ۷ شماره، لومړی کال ۱۲۹۰ق. د اخوند صاحب د ۱۳ شوال ۱۲۹۰ د امير شير علي خان په نامه.
۲. عبدالحی حبيبي: د افغانستان پيښليک ۲۰۱ د کابل چاپ ۱۲۵۳ ش.
۳. يو سفزئی ٤۳۲.

سوات، چترال، باجوړ، دیره، بونیر، کوهستان، تالاش، چیلاس، توامب او الایي او پکلۍ پوري د ځان ملګري کول او د زوي په ډول به یې د خلکو ویني زبیښلې.

## (٩)

## تر اخوند را وروسته سوات

په ١٨٩٥ کال پرنګیانو د خپل تسلط ټینګولو لپاره د مله کنډ، سوات، دیر، چترال، باجوړ د غرنیو سیمو د پښتنو د ایلولو او ټکولو نه نیامت، د مله کنډ ایجنسي د یوه پولیټیکل ایجنټ میجر ایچ اي دین تر مشرۍ لاندي جوړه کړه او له پیښوره یې تر چتراله پوري په پاخه سړک جوړولو لاس پوري کړ.

د دې لاري جوړولو ضرورت او اهمیت د حکومت هند په یوه خط ٨ می ١٨٩٥م نمبر ٢٤٠ کي څرګند شوی و. خو د انګلینډ مرکزي حکومت او د لارډ روزبري کابینې نه غوښتل چي په چترال کي مداخله وکړي او د ١٣ جون ١٨٩٥م په یوه جوابیه کي یې له دې کاره سره په ښکاره مخالفت کړی و. خو د روزبري د حکومت تر سقوط وروسته چي د لارډ سالسبري کابینه راغله، د مردان او هوتي او مله کنډ او رانیي زو او چکدرې او سوات او لوهاري له لاري یې تر چتراله پوخ سړک جور کړ.[١] او ټول دغه قبایل یې د خپل تلسط او پوځي یرغلونو تر زغل لاندي راوستل او هم دلته و چي پښتنو به ویل:

---

١. یوسفزئي افغان ٤٤٠.

چرته لندن چرته چترال دی

بې ننګي زور شوه، پيرنګي چترال له ځينه

پرنګي خو په خپلو استعماري چارو اخته و، د ۱۸۶۹م تر بندوبست وروسته ارتي د کرني مځکي، ځينو عتو غتو خانانو او نوابانو ته ورکړې شوې او د فيوډاليزم ريښې يې ډيري ټينګي او ګڼې کړې. دغه زمينداران او بډايان د پرنګيانو مله وو. خو په ګڼو پرګنو او خلکو کي لا هغه د پرنګيانو سره تربورګلوي وه. د ۱۸۹۷م په مني کي د بر سوات خلک بيا جنګ ته تيار شول او د دير نواب خپلو بادارانو پرنګيانو ته خبر ورکړ، چي د پالم ملا صاحب د خپلو مريدانو سره د جهاد تياري کوي.

د سوات په لومړي پړاو کي يو ځاى لنډاکي نوميږي. دلته په ۱۸ جولايي ۱۸۹۷م ملا مستان غازي چي پرنګيانو ليوني ملا او خلکو سر تور فقير باله او اصل نوم يې سعدالله خان د بونير له يوې کورنۍ څخه و، د جهاد توغ يې ورپاوه او د شپې يې نابېره پر مله کنډ حمله وکړه. دلته له پرنګيانو سره د پښتنو لاس په لاس جنګ وشو. تر سهاره غازيان شهيدان شول او د پرنګي درې لوى منصب داران مړه او درې ټپي او ۲۱ سپاهيان مړه او ۳۱ ټپي شول.[1] تر دې وروسته د سوات او باجوړ غازيان هم را ورسيدل په چکدره، امان دره کي تر ۳۱ جولايي ۱۸۹۷م وروسته سخت جنګونه وو. او د اګست په اخرنۍ لسيزه کي جنرال بلډير پر سوات او جنډول باندي هم يرغل وکړ. پښتنو د سپتمبر تر پايه په لوړه او ژوره کي مقاومت کاوه څو چي د اکتوبر په يوولسمه ځيني سازشکاره نوابان لکه د خار خان د جار نواب، د نواګۍ خان او نور وطن فروشان په نوي کلي کي سره را ټول شول د نواګۍ

۱. همدغه کتاب ٤٤۲.

خان لس زره روپۍ او خار خان درې نیم زره او د جار خان دو نیم زره روپۍ له پرنګیانو څخه واخستې[۱] او خپل آزاد وطن او غیرتمن خلک یې پر پرنګي خرڅ کړل.

دا و د آزاد او ننګیالیو یوسفزو او سواتیانو افسوس ناک انجام چې بې ننګو او وطن دښمنو خانانو څنګه پر پردو باندي خرڅ کړل؟ او دا هغه قوم و چې د بابر او اکبر او اورنګ راج یې هم نه و منلی.

د سوات او یوسفزو د آزادۍ رڼی ورځې تیري شوې وې. په دیر کې د ملا الیاس اخوند کړوسی غلام محمد خان د اتلسمي پیړۍ په منځ کې د خانۍ پر کټ ناست و تر ده وروسته قاسم خان بیا رحمت خان (مړ ۱۸۸٤م) بیا نواب محمد شریف خان (مړ ۱۹۰٤م) بیا نواب پاچا خان (مړ ۱۹۲۵م) بیا نواب شاه جهان (عزل ۱۹٦۰م) د پرنګیانو د لاس ګوډاګیان د خلکو په وینو زبیښلو بوخت وو. خو د دې سیمي وروستنی پښتون اتل د باجوړ د جنډول مشر حاجي امرا خان (عمرا خان) د عباس خان مستي خیل زوی په ۱۸٦۹م کال پر باجوړ او دیر خپله خاني ټینګه کړه، هر ځاي یې جنګي ټینګي او ښکلي کلاوي جوړي کړې. او په لوي ډول یې لښکر مسلح او تنظیم کړل. څو چې په ۱۸۹۰م د اقتدار جګي څوکۍ ته ورسیده، پرنګیان یې وبیرول او د شاوخوا نوابان او خانان یې پر را ولاړ کړل. ځکه چې امیر عبدالرحمن خان هم په کابل کې پرنګیانو ته لکۍ ښوروله، نو یې له کابله مکراني ملا د امر خان په مخالفت جنډول ته ور واستاوه خو امرا خان یو مدبر او پوه سړی و، دغه ګرده ورانی یې لیدلي او چاره یې کوله، او چترال یې هم ونیوه.

۱. همدغه کتاب ٤۸۵.

په ۱٤ مارچ ۱۸۹۵م پرنګیانو له پیښوره خپل ډیر مسلح لښکر د جنرال سر رابرټ لو په مشرۍ د پنځو نورو عسکري قوماندانانو سره سوات له لوري د امرا خان پر ملي جنګیالو باندي را وخیژول. ډیر جنګونه وشول، او د غازیانو ډیري ویني توی شوې، د پرنګیانو خو هم لښکر غښتلی او منظم او وسله وال وو، هم یې په خلکو کي نفاق اچاوه، او سازشکاره وطن فروش خانان یې را ولاړول. څو چي په ۱۷ اپریل ۱۸۹۵م د امرا خان د اقتدار ستوری را پریووت او کابل ته ولاړ، چي دلته د افغانستان د میلمه په ډول اوسیده. او پرنګیانو به ویل: "ټوله قبایلي مشران یا زموږ په لاس کي دي یا زموږ د ملګري د افغانستان د امیر په لاس کي."[1]

امرا خان په ۱۳۲۱ق کال په کابل کي وفات، او د کابل د چهاردهي د ویسل آباد د بالا جوی په هدیره کي ښخ دی. اولاده یې د کوهدامن پر هغو مځکو باندي اوسي چي د افغانستان دولت هغه ته ور بخښلې وې.[2]

## (۱۰)

## د سوات لرغونی پلټنې

د سوات ښکلې سیمه چي د فاتحانو پر لار کابل، کونړ، باجوړ او اباسین پرته وه، د پاني ني په آثارو کي د ۳۵۰ق،م را پدې خوا ادبیانه بللې شوې،

۱. دغه کتاب ٤۸۵.

۲. عبدالروف بینوا: پښتونستان ٤۳۳ د کابل چاپ ۱۳۳۰ش.

چي په پراکريت کي اوجيانه وه، او معنا يې هم باغستان يا بوستان غوندي ځاي دی.[۱]

دا نوم د پښتو په کومک ښه تحليل مومي: ادي Uddi ودې د پښتو د ودې څخه ريښه لري، چي نشو و نما او وده کول او سمسوريدل دي. له دې سره چي ديانه ـ وانه ـ بڼ پايځوړ ونښلي، نو به اديانه ـ ودې بڼ شي ينعي وده کونکی باغ يا سمسور بڼ چي په پاړسو يې بوستان يا ګلستان بولي.

تاسي دمخه ولوستل چي د ريګويد په سندرو کي د سوات د رود نوم سوتي يا سواستو دی. ځکه چي د دغه رود اوبه د غرو او چينو څخه راځي، نو ډيري رڼي او سپيني اوبه دي. په لرغونو آريايي ژبو کي دغه اوسنی پښتو سپين او پاړسو سپيد لکه سپيتا ـ سويتا ـ سپينتا لوستل کيده چي په اوستا کي spaeta او په پهلوي کي siata=spet او په ويدي ژبه کي سويت cvet و.[۲]

داسي ښکاري چي د سوات نوم دي هم د اوبو د سپين والي له جهته له دغو لرغونيو کلماتو له ريښې څخه وي، چي په اوم ميلادي قرن کي هم د چين زاير هون څنګ دغه سپينی او رڼي اوبه ستايي، چي د ښامار له ډنډه، رڼي څنې د هنداري غوندي را وزي.[۳] او هم دغه سپيني او رڼي اوبه ابو ريحان بيروني هم يادوی "چي د جيوه سرمن Jivasarman اختر د کشمير خلک د دغه مياشتي په ۲۶ - ۲۷ ورځ کوي او ما له دوی څخه پوښتنه وکړه چي دغه اختر ولي کوئ؟ دوی ويل: د جيلم د رود د سر چينې پر کينه غاړه

---

۱. سمويل بيل: د سي،يو،کی پښتو ترجمه ۱۸۵ د کابل چاپ ۱۳۵۷ش. بيل په حاشيه کي وايي: ځکه چي سوات د يوه بڼ څير دي، نو اديانه نوميده.

۲. دکتور معين: د برهان قاطع حاشيه ۹۳. ادبارتوليه او نيبرګ په حواله، د تهران چاپ ۱۳٤۲ش.

۳. د سي ـ يو ـ کي پښتو ترجمه ۱۹۳۱.

یو ډند و چي خداي شهر نومید، او دغه به د ویساکهـ د میاشتي په منځ کي چي اوبه ډیریږي ځیني لرګي راوړل. دغه ځاي په سوات کي و. د کیري (اوسني ګړي) پر بل څنګ پروت دي او دلته درې پنځوس ویالې سره کهیږي. په دغه دوو ورځو کي د دغو ویالو اوبه خورا سپیني وي او خلک وایي دا ځکه چي مهادیوا په همدغو ورځو دلته لمبیدلی و."[1]

اوس هم د سوات د سیدو شریف په شاوخوا کلیو کي یو ځاي په دغه زاړه نامه په پښتو "سپیني اوبه" یعني "آب سپید" بولي، او دا را ښیي چي د سوات نوم به له دغو زړو اوبو له لرغوني ریښې څخه را وتلي وي.

سوات د اریایي اقوامو د تیریدلو ځاي او هم ټاټوبي شو، بیا لوي سکندر له دغي لاري هند ته ولاړ. او کله چي تر ده وروسته یې یوناني جنرال الان په بلخ او د هندوکش په سیمو او په شال شرقي هند کي په جنګریز بوخت وو، نو بیا د یواني او باختري تمدن اثرونه پکي ښکاریدل چي وروسته نو د بودیزم یو ښکلی او مهم مرکز هم شو. خوشحال خان په سوات نامه کي وایي:

پـکی لویي منارې شته، بتخانې شته
لـوی کـوټونـه، حـویلۍ د زمانې شته

د نونسمي پیړۍ تر لومړیو کلو پوري چي پرنګیان تر سواته نه وو رسیدلي دغو لرغونو ورانو ودانیو ته د چا پام نه وو، خو د خوشحال خان غایر نظر په اولسمه پیړۍ کي لا پر دغو لرغونو بتخانو او منارو او کورونو باندي لویدلي او په لوړ بیت کي یې یاد کړي دي.

د سوات د بودائیانو زړې بتخانې چي سنګهارامه یا ستوپه (پښتو توپ) بللې کیدې پخوا په رام کنډ (خدوخیل)، منګوره، کاټلي، هوډي ګرام،

---

۱. البیروني: کتاب الهند ۲۴۵\۲ د رزخاو انګریزي ترجمه د لاهور چاپ ۱۹۶۲م.

سوني ګرام، پنځي ګرام، کانجي ګرام او بونير کي ليدلې کيدې، چي له ۲۶۰ق،م او اشوکا له وخته بيا تر اتمي پيړۍ پوري يې په هندي او بودايي او يوناني او کوشاني او يفتلي شاهي کورنيو پوري اړه درلوده.

وايي چي په لرغنيو ورځو کي د سوات د رود د سرچينو په بوډنۀ کي يو غټ آژدهار (ښامار) چي اپالاله نوميده اوسيده، او تاتاګاتا بودا دغه مضر ژوی سمې لاري ته را واړاوه چي د خلکو کښتونو ته به تاوان نه رسوي. او همدلته لږ څه لوړ تاتاګاتا خپله چپنه پريوللې او اره کړې وه، چي پر ډبره يې څپونه تر اوسه لا هم ښکاري. او پر بله پرښه باندي د تاتاګاتا (بودا) د پښې منږ هم ليدل کيږي.[1] او په ۱۸۹۵م د سوات په درګيی کي يو ډبر ليک په خروشتهي خط موندلی شوی و. تاريخ يې د شروانه مياشتي شلمه کال ۱۱۳، ۵ جولايي ۲۹م دی، چي اوس د لاهور په موزيم کي خوندي دی او دلته يوه سړی بود او بوډنۀ جوړ کړی و.[2]

د خروشتهي خط دغسي ډبر ليکونه (Kharoshti inscriptions) چي ګرده تر ۱۹۰۰ کاله لا زاړه دي د مقامي خلکو يا هندي شاهزادګانو په نامه د سوات په شاوخوا کي کشف شوي دي چي د پيښور، لاهور، سوات يا لندن په موزيمو کي خوندي دي لکه:

(۱) د باجوړ د ميا کلي مهر د يوه يوناني حکمران په نامه.
(۲) د امب د ديوي کلي ډبرليک د لاهور په موزيم کي د ۱۱۶م کال.
(۳) د جمال ګړي ډبر ليکنونه: د يوه ديني دارالمساکين جوړونه په ۲۷۵م. نور پنځه ډبر ليکونه چي تاريخ نه لري.

---

۱. سی–يو– کي ۱۸۸۱.
۲. ستين کونو: خروشتهی ډبر ليکونه ۲-۶۵ انګليسي د اکسفورد چاپ ۱۹۲۹م.

(٤) د مهابڼ د قلعه سنګ ډبر لیک ۱۷ م د لاهور موزیم.

(٥) د پاچا د کلي ډبر لیک د یوه ځاه کینلو تاریخ ۲۷م د لاهور موزیم.

(٦) د پنجتار د سالم پور کتیبه چي په ۳۸م کال دوه باغه وقف شوي دي.

(۷) نه نوري مختلفي کتیبې مختلفو موزیمو کي.

(۸) په کنګله کي د پنجګوړې پر غاړه د یوه غره پر ډبره باندي یوه نوشته.

(۹) د سوات د یوه خاورین لوښي نوشته د یوه یوناني حکمران له خوا.

(۱۰) د تخت باهي ډبر لیکونه د ۱۹م حدود د پېښور په موزیم کي.

(۱۱) د تیرت پر یوه ډبره د سوات په کوهستان کي د بودا د منځ تر نقش لاندي.

(۱۲) د سوات د پټکرې پر یوه مات خاورین لوښي نوشته.

(۱۳) د کوز سوات د لوریان تنګي د پیلامې کلي پنځه ډبر لیکونه د کلکتې په موزه کي.[1]

د سوات لرغونیو آثارو د کیندنو او پلټنو کار له ۱۹۵٦م را پدې خوا د یوې ایټالوي علمي ډلي په لاس شروع شوی دی چي د زړو ښارو او ودانیو ځایونه یې کیندلي او خورا ډیر آثار یې را ایستلي دي چي د سوات په موزیم کي پراته دي.

---

۱. دغه کتاب: مختلف مخونه. حبیبي: تاریخ خط و نوشته هاي کهن افغانستان ۲۹-٤۹ طبع کابل ۱۳٥۰ش.

دغه علمي ډله وايي چي په دغو لرغونيو آثاروکي له ۵۰۰ق،م څخه را پدې خوا شيان پيدا شوي دي. د اوديګرام له موندل شوو آثارو څخه ښکاري چي دغه ځاي د سکندر د حملې پر وخت هم ودان و او د سلطان محمود په زمانه کي بيا ودان شوی و. په ځينو نورو ځايو کي د دريمي او څلورمې ميلادي پيړيو آثار پيدا شوي دي او منګوره هم هغه ځای دی، چي په ۵-٦ پيړۍ کي د حکومت مرکز و. سن-ين چيني سياح چي په ۵۱۸م د تالو معبد ياد کړي دي. هغه دغه اوسنۍ بتکده ده، چي يو سل و شل واړه معبدونه يې شاوخوا ته پراته وو، او اوس هم ډير آثار پکي را وتلي دي او دلته د ډبرينو شيانو او بوتانو د جوړولو فن داسي لوړي درجې ته رسيدلي و، چي د پروفيسر ټوچي په قول په اومه پيړۍ کي د دې ځای استا کاران چين ته بيول شوی وو چي هلته معبدونه په خپلو هنري ښکليو آثارو ښايسته کاندي.[۱]

۱. پروفيسر ټوچي: د کراچي د ډان ورځپاڼه د دسمبر شپږه ۱۹۵۸م.

# (۱۱)
# خوشحال خان او سوات

د خټکو او یوسفزو تر منځ یو د کابل رود چي دوی یې د لبر پسور په اعتبار "لنډی" بولي بهیږي، ښی خوا ته له نوښاره تر اټکه د خټکو او کیڼ لاس ته د یوسفزو سیمه ده. یوسفزي خو تر سواته او بونیره پراته او یو لوی پښتون ټبر دی چي د خوشحال خان به وخت کي یوازي د سمي یوسفزي یوولس زره کوره وو چي ګرده پنځه زره سپاره ځني را وتل.[1]

خټک خو په شمیر کي لبر او عدد یې د دیرشو تپو، نه نیم زرو کورو ته رسیده.[2] چي اوس یې ټوله سرې دوو لکو تنو ته نږدې دي.[3] دوی د لویو لارو سره نږدې پراته وو، او په خاصه توګه ملک اکوړی (۹۵۲-۱۰۰۲ق) د چنجوزوي د کوهاټ په کربوغه کي اوسیده چي د قبایلي تربورګلویو له منځه را ووت او د خټکو په سرای کي د کابل رود پر غاړه میشت شو، چي دغه ځای د ده په نامه اکوړه وباله شو (حدود ۹۸۹ق).

د ډهلي مغولي دولت د خپل ډله ییز خاصیته سره سم د غښتلو او ګڼو یوسفزیو د وهلو او ټکولو لپاره د کابل سین پر جنوبي غاړه د اټک او پیښور پر لویه لار دغسي یوه غښتلې او سره نښتې د پښتنو کورنۍ له خدایه غوښته چي هم په قبیلوي فیوډالي ډګر کي او هم په میدان کي د یوسفزو مخي ته ودریږي. نو لکه چي د هر استعاري قوت کړن لاره "د نورو سره جنګول او

۱. تاریخ مرصع ۲۷۸.
۲. دغه کتاب ۲٦۵.
۳. دوست محمد کامل: خوشحال خان خټک ۱۷ د پیښور چاپ ۱۹۵۱.

پر دوی حکومت چلول وي“ د پېښور او کابل صوبه دارانو او منصب دارانو هم د یوسفزو او خټکو تر منځ د جنګ اور بلاوه، او د پښتنو په سره جنګولو کي به یې خپلي ګټي پلټلې، لکه په ۱۰۹۵ق چي امیر خان د مغولي دولت حکمران نه لکه روپۍ د ملک حمزه په سیله کي د کړبې د موندو د وهلو لپاره خرڅي کړي وې.[۱]

د خوشحال خان د کورنۍ او د یوسفزو دغه فیوډالي رقابت پخوانی و، کله چي اکبر پاچا به ۹۸۹ق د خپل ورور میرزا محمد حکیم ایلولو ته راغی په نیلاب کي یې له خیر آباده تر نوښاره سیمه ګرده ملک اکوړي ته ورکړه.[۲] نو د ۹۹٤ق ۱۵۸٦م په هغه خونړۍ جګړه کي چي د اکبر لوی وزیر بیربل هم غځول شوی و، خټک د اکبر پاچا په سیلي کي ولاړ وو، او وروسته نو هم د یحیي خان او شهباز خان په وختو کي د خټکو او یوسفزو دغه بدۍ وې چي افضل خان خټک یې احوال لیکلي دي[۳] او د ۱۰۵۰ق کال د روژې په میاشت کي د خوشحال خان پلار شهباز خان هم د یوسفزو د کمال زیو په تپه کي ټپي او مړ شوی و:

سن د هجر زر پنځوس و چي شهید شو سهباز خان[٤]

تر دې دمخه د شهباز پلار یحیی خان (۹٦۹-۱۰۱۹ق) چي د اکوړي زوي و ”له یوسفزو څخه مسري کوټ (بانډه) نیولي، او ښه ښه سرداران د یوسفزو یې د ملک مامو سره وژلي وو، او بیا چي شهباز خان پښه په رکاب فتح مآب کښیښوه، خوب او آرام د یوسفزیو ورک شو، کرات و مرات یې

۱. تاریخ مرصع ۵۰۲.
۲. دغه کتاب ۲٦۵.
۳. دغه کتاب ۲٦۸.
٤. دغه کتاب ۲۷۰.

منډنړ مړه کړه... او په وخت د خپلي سرداری يې له منډڼه له اکوزيه نه يې خراج او باج اخست، تمام منډنړ يې په ضرب د توري مسخر کړي وو."[۱]

په دې ډول "د يوسفزو عداوت او دښمني په ميراث و خان عليين مکان ته باتو شوه"[۲] او دغه بد مرغي تر څلورو پيړيو او خوشحال پوري را ورسيده چي د خټکو کورنی "دولت خواهه" او يوسفزي "متمرد" ګڼل کيدل[۳] او د دوی د قبيلوي جنګونو او زغلونو پيښي په تاريخ مرصع کي ډيري څرګندي شوي دي.

کله چي د اورنګزيب پاچهي د پښتونخوا پر سيمو باندي له قندهاره تر اټکه راغله او خوشحال خان هم د ګردو پښتنو د يوې ګڼې غوښتنې او غاو په خاطر د دې ملي پاڅون او پښتني غورځنګ به سر کي ودريده او داسي يې ويل:

درست پښتون تر قندهاره تر اټکه   سره يو د ننګ په کار پټ و اشکار

دلته نو اوس د ده د مشرۍ مقام او د شاعر په څير د خلکو د ښوونکي او رهبر په بڼه دا تقاضا وه چي د زړو ناوړو او ضررناکو ناغيړيو او بدو څخه لاس واخلي او د ډهلي د پاچهانو په ګټه د خپلو پښتنو سره و نه جنګيږي. دی پر خپل پخواني حال او د ډهلي د پردي دولت پر نوکري او دولت خواهي افسوس کوي او داسي وايي:

د مغل نمک مي وخوړ شپږ پېړۍ
ما د زرو پکي روغي کړې پيړۍ
رعيت مي يوسفزيه درست خټک وو

۱. دغه کتاب ۲۶۸.
۲. همدغه کتاب ۲۶۸.
۳. همدغه کتاب ۲۷۸.

په عزت او په حرمت کي مي څه شک و
د مغل دپاره ما توري وهلي
پښتنو به راته کړي ډيري ښکنځلي
که ورکزيه که بنګښ او که يوسف دي
د يو همه د ما د تيغ په تاسف دي
پښتانه مي په زړګونو دي وژلي
په سرونو به يې خره غوايه وو لښلي
لا تر اوسه د سرونو يې انبار دی
په اټک په پيښور کي يې منار دی[1]

دا تريخ اعتراف چي د خپل قوم واژه او د پښتنو ښکنځل به يې اوريدل د خوشحال خان د شاعرۍ يوه خاصه پاڼه ده، دی خو د ډهلي په دربار کي په "عزت او په حرمت" و، يوسفزي او خټک يې ګرده رعيت وو، مګر قومي او ملي وجدان دی تراټه پخپله وايي:

د مغلو زيست روزګار را باندی اور و
په صحبت يې د ما رنګ لکه تور سکور و
را په غاړه د مغل منصب په زور و
ته به وايې چي منصب نه و، سور اور و[2]

د خوشحال خان د تش فيوډالي ژوندانه دغه جوله خو ډېره کرغيړنه او ناوړه ده چي پښتنو به نور څه (يعني آزادي) غوښته او دی به يې ښکانځه خو دی په سره اور کي ولاړ او د مغل منصب يې د خپلې غاړي طوق ګاڼه نو

۱. سوات نامه تر ٤۹ بيت وروسته.
۲. سوات نامه ۵۷-۵۸.

ځکه د تلافۍ په هڅه کي د ده د ژوندانه يوه روښانه پاڼه را واوښته، د پښتنو خان او ملک خو و، اوس نو مشر او رهبر هم شو، د وړو پښتنو په ننګه ودريد:

ناګهانه په دا ملک فساد بنياد شو
د ما هم د "تلافی" کار په ياد شو
نن د واړو پښتنو په ننګ ولاړ يم
دا چي هسي په هر در، هر درنګ ولاړ يم
چي پښتون شوم په دا هسي سپينه ږيره
نور مي خدای مه کړه مغل وايم به ځيره
که د ننګ پښتانه شته ساعت هم دا دی
په دا ننګ کي سرومال و ملک فدا دی

خوشحال نو اوس د پښتنو د آزادۍ نقشه پخپل خيال کي سره را تړله، او د ځپل آزاد وطن بريد يې ټاکه:

و مغل وته به نن کړم اټک پوله
ملک به خلاص کړم د مغل له غاله غوله [۱]

د ډهلي دربار کوښښ کاوه چي دی بيرته د خپل منصب تر جوغ لاندي راولي، پخپل بياض کي داسي ليکي:"مهابت خان صوبه بيا مونده د ډهلي نه را روان شو، بيا يې ما لره يې کښل راستول، چي زه خو د تا په ملګري نازيږم، ما لره په مخه راشه چي د ملک د بندوبست مصلحت سره وکړو، ما خو يوه په زړه کي نيولې وه، د مغل د نوکرۍ مزی مي په زره کي شلولی و،

۱. سوات نامه ۹۰ بيت.

ورته مي هر چه راست، درست و، وکښل او دا رباعي مي ورته په فارسي کي وکښله:

گفتم که مغل شوم به شمشیر زدن
افغانرا که بس بریدم گردن
آخر نشدم مغل همان افغانم
حیفست زکس کوشش بیجا کردن[1]

د يوې ټولني په اجتماعي جوړښت او تشکل کي محيطي او زماني تقاضاوي دغسي بدلون هم راولي چي پير روښان د تصوف له خانقاهه د جګړې ميدان ته را ووزي او د خټکو خان بايد يوسفزو ته په مرکه او جرګه ولاړ شي.

خوشحال خان د ۱۰۸٦ق د دريمي خور په اومه سوات ته رهي شو اوه مياشتي هلته وګرزيده.[2] د يوسفزو ښه او بد يې ګرده وليدله بې له سوات نامې د ده په نورو شعرونو کي هم د سوات او سواتيانو يادونه ډيره شوې ده او د دوي د ژوندانه ظاهري او معنوي خنګونه يې روښانه کړي او په کره کتنه ورته ځير شوی دی چي د نمونې په توګه دلته يو څو دغه انتقادي ويناوي را وړلي شوي دي:

د عوامو د کرغيړن ژوندانه جوله داسي راښيي:

يوسفزيه ډير چرکين لري ځايونه
آلوده، ګنده، بد بوی لکه سرايونه
څو سړي هومره يې سپي په هره خونه

۱. همدغه کتاب ۲۹۹.
۲. کامل: خوشحال خان خټک ۱۸۳.

په انګړ کي يې چرګان ګرزي سل ګونه
درسته خونه يې نيولې په کندوانو
په ګنده روزګار بتر دي تر هندوانو[۱]

د ډهلي دربار خو له پښتنو سره د دوی په غرنۍ سيمه کي د لښکري ډغرو خوند څکلی و نو ځکه يې په پيسو خرڅولو او لمسون په دوی کي بيلتون اچاوه، خوشحال خان په يوه قصيده کي په ۱۰۸۶ق کال داسي ويلي و:

خزانې د هندوستان دي را خپرې شوي
سره مهران دي ننوزي په کوهسار[۲]

يوسفزي خو تر ډيره وخت د پاچهانو له دې سياسي لمسون او بډو څخه آزاد وو او له اکبر پاچا او جهانګير سره يې ډيري خپړې لګولي وې، خو وروسته د مقامي سازشکارو او بډو خوړونکو بډايانو په وسيله، دوی هم د شاهنشاهانو دغه جوغ ته غاړه ټيټه کړې وه خوشحال وايي:

د مغل په طباخ ډير يوسف مندې دی
لکه وړی مچ ډيريږي درنګ په درنګ
که کعبه که يې قبله ده، خو ټنګه ده
په پيسه پسې به درومي تر فرسنګ
که پيسه د ملنګۍ په لباس مومي
مصلې به د ګيدړ کا پسې لنګ[۳]

په سوات نامه کي هم دغه خصلت ته داسي ګوته نيسي:

---

۱. سوات نامه ۳۰-۳٤.
۲. د خوشحال خان کليات ۵۹۳.
۳. کليات ۱۰۳۵ قندهار.

ویـش قـسـمـت چـي د وفا د مروت و
یـوسفزیه په دا کار کي يې قسمت وو
پـول پـیسه پکي دواړو دین مذهب ده
انـدیـشـه يـې خو د سیم او د ذهب ده
کـه یـوه پـیسه په څه انواع دوه کیږي
هـم هـغـه کـا هـیڅ په بله نه پوهیږي[۱]

د سواتنامې تر ۱۱۱ وروسته بیتونه هم پر یوسفزو دغسي شاعرانه انتقادونه دي چي دغه یوازي په همدغه ټبر پوري اړه نلري بلکي د اکثرو پښتنو د اقتصادي او جغرافي حالت نتیجه ده چي پخپله خوشحال او خټک هم کله په دغي بلا اخته وو.

دا خو د پښتنو د ژوندانه د چاپیر یعني د طبیعي جغرافي موقعیت او د اقتصادي تولیدي احوال هغه را پیدا کیدونکې او را زیږیدلې اوضاع ده چي چاپیر يې غرنی و او ډیرو کرنو او تولیدي یا صنعتي ودي ته مساعد نه و، د دوی ژوند او اقتصاد له کوچیتوبه زراعتي او کلي والي سکون ته لا بشپړ نه واوښتي نو ځکه "که یوه پیسه په څه انواع دوه کیده" دوی له هغي چاري څخه مخ نه ګرزاوه، دا يې د ملک او مشر حال و:

مـــلـــکـــي يـــې پـــه کـــرم، نـــه ده پـــه تـــوره
پـــه دا دواړه تـــوکـــه مـــور ده بـــانـــدي بـــوره
سـود حـاصـل يې یـا د بډو یا د خواست وي
په هر کلي په هر چم باندي يې زغاست وي[۲]

---

۱. سوات نامه ۱۳۲ - ۱۳٤ بیت
۲. سوات نامه ۱۸۳ - ۱۸۵ بیت.

خوشحال خان اوه میاشتي په سوات کي د خلکو په را پاڅونه او سره را ټولونه لګیا و هلته هم شاهي دربار لاس درلود او ملکان او پیران یې سره را لمسول. میان نور د یوسفزیو پیر، چي د لښکرو کولو په چارو کي خنډ اچاوه، د خوشحال خان په تلقین یې ظاهراً د شاهي دربار له سیلۍ څخه لاس واخیست خو په پټه به د پردو په لمسون په خپلو تیر ایستنو او غولولو لګیا و:

و مغولو وته کښل چي شیخ میان نور کړه
ما وې نور دا هسي مه کړه ده منظور کړه
(خو) د لښکرو په وتلوط اولس ساز شي
بیا د ده له فعله بل فعل آغاز شي[1]

افضل خان لیکي چي د دې سفر نتیجه د یوسفزو او مندړو جنګریز او د پني پیر او سیکرۍ تر منځ یوه جرګه وه چي وروسته یې د شهباز ګړۍ څنګ ته د شاهي لښکرو سره جنګ ونښت او دا د خوشحال د اوو میاشتو تلقین و چي پخپله هم وایي:[2]

لنګر کوټ مغلو ساز کړ    زه په ننګه د افغان شوم
که یوسف وکه مندڼ و    زه د دواړو نګهبان شوم
د مغلو مي بلا شوه    غر په غر په کوهستان شوم
سمه سوات په یوسفزیه    د هر چا کره مهمان شوم
په ټوله د یوسفزئي    مظفر په هر میدان شوم
بیا مي سوات سمې ته شاکړه    پخپل غره پخپل مکان شوم[3]

---

۱. سوات نامه ۳۲۵-۳۴۷ بیت.
۲. تاریخ مرصع ۳٤٤.
۳. کلیات ۵٤۹ قندهار.

خوشحال خان خو یوسفزي او سواتیان د ځان مله کړل او میان نور هم توبه ګار شو چي د مغلو سیله به نه کوي او په سمه کي هم پښتانه پر ځنګ ور سره ودرېدل خو د دې ګردو ځغاستو او زیار په نتیجه کي:

تیراه مي ولیده راغلم تر سواته
پښتون مي ولیده دا لوي لوي ذاته
عقل همت مي د چا و نه لیده
په بیارته راغلم ناست یم ملا ماته [1]

ځیني ملي غورځنګونه داسي هم وي چي پهلوانان یې د میوو خوند و نه څکي او ظاهراً بریالي نه ښکاري، خو وروسته دا څرګنده شي چي هغه غورځنګ د یوه بل پاځون ادامه وي، او وروسته هم بل غورځنګ داسي راتلونکی وي، چي د هغه مقصد پوره کاندي، او د بري ستوري یې بشپړ وځلیږي.

د خوشحال خان دغه حرکت خو د پښتون د اجتماعي ژوندانه د مراحلو یو پوړ و، چي د پیر روښان د نهضت پایخوړ او د میرویس هوتک د قندهار د آزادي خواهانو مقدمة الجیش ګاڼه شي، نو ځکه زه دغه ملي غورځنګ نامراده نه بولم او د افضل خان هغو لیکنو ته حواله ورکوم چي د میرویس خان معاصر و، او د ده ملي غورځنک ته یې په خورا ډېره هیله او امید کتل، چي په پای کي یې وایي:

(میرویس) ”تر دا تاریخ چي سن زرسل څلرویشت دي په قندهار کي ناست خپل حکومت او سرداري کا، توفیق یې رفیق شه، ښه پښتون دی.“[2] د

۱. کلیات ۷۲۷.
۲. تاریخ مرصع ٤۰۲ د افضل خان خټک د تاریخ مرصع هغه فصل وګورئ چي د میرویس غلجي تر عنوان لاندي یې کښلی دی (ص ۳۹۸).

خوشحال خان او یوسفزو تر منځ خو د ګیلې ګوزارې او روغې جګړې خبرې ډیرې دي، پر سوات باندې ډیر انتقادي شعرونه هم لري، خو په دغه بیت کې د ده او سوات قصه تمامیږي چې وایي:

یـوسـفـزیـه کـه وهـلـې نـه ده تـوره
پـه هاهو شرکت لري بلا یې دوره[1]

۱. سوات نامه ۱۰۴ بیت.

# د خوشحال خان خټک
# سوات نامه

متن

د علامه عبدالحی حبیبي د څرګندونو سره

# سوات نامه

(۱) پـه دوران د شـاه جـهـان پـادشـاه خـواني وه
مـيـــســـره د زړه هـــره کـــامـــرانـــي وه[۱]

(۲) "سـراي" لـه سـواتـه فـاصـله لري ديرش کروهه
چـي ور کـوز شـې تـر دريـا د سـوات تـر کـوهه[۲]

(۳) درې څيـزونـه مـي د سـوات د زړه پـه يـاد وو
نـور بـې هـر څه پـه حـيـات و مـاتـه يـاد وو

(٤) يـو خـسـران، چـي پـه حـضـور د واده کـار و
بـل يې بـوی د نـرګس زار، دريـم يې ښکار و[۳]

---

۱. شاه زاده خرم د جهانګير زوی د اکبر پادشاه لمسی په ۱۰۳۷ه ق د شهاب الدين محمد شاه جهان په نامه د هند پر تخت کيناست، ۳۱ کاله پادشاه و په ۱۰۶۸ه د ده زوی اورنګزيب خپل پلار بندي کړ. اته کاله په زندان کي و چي د ۱۰۷۶ه د رجب په ۲٤ ورځ مړ شو. خوشحال خان او پلار يې شهباز خان د ده معاصرين وو.

۲. سرای د خټکو په اکوړه کي د نوښار تحصيل د لنډې سين بر غاړه له اټکه شخه دولس ميله لوېدزې خوا ته پروت دی چي د خوشحال خان مولد او مسکن و او ملک اکوړي د خوشحال غور نيکه ودان کړي و. د خټکو دغه مرکز له سواته جنوباً څه ۷۰ کيلومتره غوندي د کابل سين پر جنوبي غاړه پروت دی چي په دې بيت کي "دريا" همدغه سين دی.

۳. د خوشحال خان يوه ماينه يوسفزۍ د ملو خان ولد اسماعيل خان لور وه چي په همدغه سفر کي واده شوه. صدر خان د خوشحال زوی د دې له نسه و (تاريخ مرصع ۲۵۹). په دې بيت کي خسران د اول حرف په سکون دغه خوسران يعنې د ماينې پلار خيل دي، چي سخران هم تلفظ کيږی او له دري له خسر سره مشترکه معنی لري.

(۵) زه نــوکـــر وم، یــوســفــزیــه رو ګردان وو
ځکــه ورغـلــه تــر ســواتــه د مــا ګران وو[۱]

(٦) مــلــو خــان د واده چــار د مــا پــه زړه کــړه
زه پــه کــور د صــدر مــور یــې، را واده کــړه[۲]

(۷) تــمــاشــه د نــرګس زار وه کــه د ښکــار وه
پــه پــیــرئ کــي را پــیــرزو د کــرد ګار وه

(۸) ســوات مــې واړه لــګدمــال کــړه سر تــر پــایــه
خــبــر دار یــې شــوم لــه هــره هــره ځایــه

(۹) مــلــک د ســوات د مــلــوکــانــو د نــشاط دی
پــه دوران د یــوســفــزیــو وران ربــاط دی[۳]

(۱۰) و شــمــال وتــه یــې غــر بــلــورســتــان دی
شرق کشمیر غرب یې کابل او بدخشان دی[٤]

۱. ارمغان: ځما ګران یعني یوسفزیو ځکه زما څخه بد وړه چي زه د مغولو د حکومت نوکر وم. په دوهمه مصرع کي ورغله په اول زور، دوهم او دریم سکون: یعنی سوات ته زما تلل او داخلیدل ګران کار و.

۲. ار: د واده کار. ملوخان: د خوشحال خوسر او صدر خان یې زوی و چي مور یې د ملو خان لور وه.

۳. ار: د ملکانو. مر: ملوکان: یعني شاهان.

٤. بلورستان: د سوات شمال ته غرنۍ سیمه ده چي د قراقروم تر غرو پوري رسیږي. بالتستان یا کوچنی تبت هم بللی شي (لرغونی هند ۱۱) چیني زایر هیون څنګ وایي چه له داریل څخه د اباسین په لوړه سیمه کي ۸۳ میله لیري پو-لو-لو (بلور) ٦٦٦مربع میله شرقاً او غرباً پروت دی چي به واورو پټ غرونه لري او ډیره طلا پکې پیدا کیږي. د کننګهم په قول دغه ځای اوسنی بالتی یا وړوکي تبت دی، چي اوس یې هم د دې ځای ور څرمه دار د خلک پلواو بولي، او له شګو څخه یې په پریولو طلا را باسي. دا نوم زوړ دی او پتولمی یې بیلیوي بولي. چي د اباسین پر لوړو غاړو ۱۵۰ میله اوږد او پسور بې له دیوسیه څخه تر قراقرومه ۸۰ میله دی. چي ګرده چاپیر یې ٤٦۰ مربع میله شي (د هند پخوانۍ جغرافیا ۷۱). محمد حیدر دوغلت په تاریخ رشیدي کې (ص ۳۸۵) د بلور شرق ته کاشغر او یارکند، او شمال ته بدخشان او لویدیځ ته لغمان او جنوب ته کشمیر ښیي، چي

(۱۱) هـنـدوسـتـان وتـه تـور غـر لـري بـد غـاشـي
پـرې خـاتـه بـه د لـښکـرو پـه غـوغـا شـي[۱]
(۱۲) تـر کـابـل نـه يـې هـوا د اوړي ښه ده
د کـابـل هـوا تـرخـه د ده خـوږه ده
(۱۳) پـه هـوا کـي د کـشـمـير پـه آب و رنګ دی
حيـف دا چي کشمير ارت دی، دی تنګ دی
(۱۴) طـولانـي دره تـر ديـرشـو کـروهـو ډيـره
عـرض يې دوه کـروهـه، يـا، يـو يـا تـېرو بـېره[۲]
(۱۵) لـه مـشـرقـه يـې دريـاب درومي مـغـرب تـه
پـه کـج راست يې ويـل مـه کـوه کـاتـب تـه[۳]
(۱٦) پـه هـر کـلـي پـه هـر کـور کـي يې ولې ځي
هـم يې خـوري، هـم يې هـر لوري ته غلې ځي
(۱۷) نـه پـرې لار شته، نه بل کار، نه يې بل سود دی
خـو يـو ګـنـج ګوښه لـه خـلـکـو، غـلـه بود دی[٤]

اوسنی هونزه، ګلګت، چترال، نورستان او لوړ کونړ ټول په کي راځي. او مارکو پولو چي د دې سيمي سره تير شوی دی، هم د بلورستان يادونې کوي (سفر نامه ۱ ر۱۷۲).

۱. غاښي: د غره تيره څوکه يا قله، چي خټک يې غاشی تلفظ کوي. په قندهار کي غاښی او په يوسفزو کي غاخی دی. تور غر چي د سوات شرقي جنوبي خوا ته پروت دی، له غاښو څخه يې لارې د هزاره ضلع خوا ته تيريږي. چي پخوا د هند غربي شمالي خوا وه.

۲. د سوات وادي خو د سوات پر سين ودانه ده چي لنډی يې بولي، او د شمال ختيځي خوا څخه لويديځ ته بهيږي. لنډی له اشوکالامه را وزي او په نسته کي د کابل سين سره يو ځای کيږي، چي دغه وادي ٦۰ ميله اوږده ده.

۳. په کج راست: يعني د سوات سين ډير ښۍ او کيڼي خوا ته ګرزي او را ګرزي.

٤. غله بود: د غلې د پيدايښت او بودېدلو ځای.

(۱۸) کـلـه کـلـه پـکـي هـسـي ارزانـي شـي
چـي پـه دوو تـورو د شـلـو مـهـمـانـي شـي[۱]

(۱۹) هـم سـړې اوبـه چـيـنـې لـري هـم واوري
نـه پـه سـوات بـاد سـموم شته، نه ګرد خاوري[۲]

(۲۰) هـر هـر ځای د سوات د ملک، ملوکانه دی
بـې سـرداره بـې حـاکـمـه، کـوه خـانـه دی

(۲۱) مـلـوکـانـو عـيـش عـشـرت دی پـکـي کـړی
پـه هـغـه هـنـر کـي نـه دی دا وګړی[۳]

(۲۲) پـکـي لـويـي مـنـارې شـتـه، بـتـخـانې شـتـه
لـوی کـوټونـه، حـويـلـی د زمـانـې شـتـه[٤]

(۲۳) د مـيـوو دی، د ګـلـونـو د بـوسـتـان دی
د مـلـوک لايـق پـه وخـت دتـابـستـان دی[۵]

(۲٤) دوه ځيـزونـه دي د سـوات تـحـفـه تـر واړه
ګل رخـسـاري يـې کـافـري، بـاز دا دواړه[٦]

۱. دوه تورو: مراد توره سکه (مسي) ده، په قندهار کي توري کوچنيو مسي سکو ته وايي.
۲. سموم: د سين په زور، تود يا سوړ اپتی باد.
۳. وګړي: عوام، خلک. يعنی عام خلک يې عيش و عشرت نلري.
٤. دلته اشارت دی د سوات لرغونيو آثارو ته چي ما په مقدمه کي لږ څه ځيړلي دي.
۵. ار: دبستان.
٦. ار: ګل رخساري کافر باز دا دواړه؟ مګر متن صحيح دی، ځکه چي د ګل رخساري صفت هم بايد جمع مؤنث (کافرې) وي. او په دې ډول د بيت وزن هم سميږي. مراد هغه د کافرو ښکلي ښځي دي چه پخوا به يې له زاړه کافرستانه راوستې او په حسن مشهوري وې.

(۲۵) د سوات ملک چې پکې روغې حویلۍ دي
پـه هـر کـور کـې ګلـزارونـه، سـهیلـۍ دي[۱]

(۲٦) د سوات ملک چې درست لایق دي د باغونو
یـوسـفـزیـو بـرابـر کـړ، لـه راغـونـو

(۲۷) پـه هـر لـور کـې فـوارې دي، ابـشـارونـه
ښه ښهـرونـه، ښه سـرایـونـه، بـازارونـه

(۲۸) هـسـي مـلـک، هسي هوا، هـسي جویـونـه
نـه ځایـونـه، نـه بـاغـونـه، نـه بـویـونـه[۲]

(۲۹) کال په کال د ملک په هیسک کاندي باختونه
بې لښکرو پخپل ځان کـانـدي تـاختـونـه[۳]

(۳۰) یـوسـفـزیـه ډیـر چـرکـیـن لـري ځایـونـه
آلـوده، ګنـده، بـد بـوی لـکـه سـرایـونـه

۱. سهیلۍ: هندي کلمه ده، یوه نجلۍ چې د بلې نجلۍ د لوبو ملګرې یا خواهر خوانده وي. دلته مراد ښکلې پیغلې دي.

۲. یعنی: سره د دې چې ښه هوا، ښه فظا او ښکلا او باغونه لري، خو حال یې ښه ندی. او د دې بد حالۍ علت په بل بیت کې ښیي.

۳. هیسک: پچه اچول، قرغه اندازي. د تاریخ مرصع ښاغلی سموونکی لیکي یعني: په ملک پوچې اچوي. قرعه اندازي پرې کوي او دغه شان یې بایلي (ص ۱۲۲۰). مګر دلته اشاره ده د یوسفزیو او پښتنو هغه ویش (دفتر) ته، چې مځکې او کورونه به یې پس له معینه مدته په کورنیو باندې د سړیو په پچه (قرعه) بیا سره ویشل. دا اجتماعي نظام د نهم هجري قرن په لومړۍ نیمایي کې شیخ ملي د یوسفزو مشر له خیبره تر اټکه پخپلو خلکو منلی و چې د تاریخي تحول په لحاظ د لرغونو انسانانو د کهاو سره شریک ژوندانه یوه نمونه ده. دا نظام د شیخ ملي په (دفتر) کې بیان شوی و چې اوس یې نسخه نشته او ورک کتاب دی (وګورئ مقدمه).

(۳۱) که په سوات کې په پېخر دي ورږي، ماشي
د منګړو، بروړو، ويل په چا شي؟[۱]

(۳۲) پکې دوه ځله تبژن په بروړو شوم
هر هر ځای دانې په څو موړو شوم[۲]

(۳۳) څو سړي هومره يې سپي په هره خونه
په انګڼ کې يې چرګان ګرزي سلکونه[۳]

(۳۴) درسته خونه يې نيولې په کندوانو
په ګنده روزګار بتر دي تر هندوانو

(۳۵) بابې زيه يې روزګار کا، چي سيالان دي
خواجوزي يې نور څه نه دي،بقالان دي[٤]

---

۱. چاپي نسخې: په نظير دي؟ مګر نظير دلته سمه معنى نلري. په نظير دي د پښتو ژبې شره سمه وينا نده. په يوه خطي نسخه کي داسي دي: که په سوات کي به يې خير وي ورږي... چي د دې ضبط صحيح ډول (په پې خر) دى. پيخر د قندهار په پښتو کي د هر شي ډيرښت او پريمانى ته وايي. يعني په سوات کي غوماشي او کيکي خورا ډيري دي خوشحال خان پخپل ديوان کي وايي:

په پيخر به د هر چا کره پراته وو که دا در مي دړلۍ غوندي ارزان واى

(د قندهار چاپ ۵۰۰). دا کلمه په چاپي او خطي ديوانو کي پخسر شوې ده، خو په ځينو خطي نسخو کي پخير هم ليکلې ده. د دوهمي مسرۍ منګوړ واړه او تر وړه لږ څه غټ حشرات دي. چي د چرګانو او څارووية پوست کي پيدا کيږي او وينه زبېښي.

۲. موړه: هغه پاړسوب چي د لښتو وهلو څخه پر بدن پيدا شي.

۳. انګڼ يا انګړ: د کور غولى.

٤. بابي زي: د يوسفزو هغه پښه چي د خوشحال خان خسر خيل وو. اما خواجو هم د بابيزي ورور او د اکو لمسى و چي د يوسف کړوسى دى (خورشيد جهان ۱۹٤).

(۳۶) په هر کال یې دوه تیرسو باز نیول شي
کافر ګیه یې په شکل، شمایل شي [۱]

(۳۷) که بل ښکار د سوات په ملک کي په مقدار دی
په هر لوري یې تل، دل د زرکو ښکار دی [۲]

(۳۸) مرغاویه یې د سیند تر سروپا شته
د نااهلو ټوپکو پرې غوغا شته [۳]

(۳۹) هم ګاوز، بزونه، سرزي هم کوته پایي
اما ورکي کړې توپچیانو څه به وایي [٤]

(٤۰) چي د سوات سره تړلي دي ملک ډیر دی
د یوه سردار تر سروپایه تېر دی

(٤۱) د چترال سرحد د سوات سره قریب دی
غر او سم یې آبادان جریب جریب دی

(٤۲) و چترال وته یې لار د کوهستان ځي
تر چتراله په پنځه ورځي کاروان ځي [٥]

(٤۳) درې څلور میاشتي دا لار وي ښه روانه
ډیر آفت لري له برفه، له بارانه

(٤٤) تله راتله د خلایق په دا لار کم شي
مګر کار په بدرقه د ملک سم شي [٦]

---

۱. تیر سو: درې سوه. ار: کافر که یې په. ښاغلی کامل لیکي: چي برده فروشي هم کیږي او په شکل صورت پکي پلورلی او پېرودلی شي (تاریخ مرصع ۱۲۲۰). نو کافرګی یا کافر که، د کافرو د کام ښکلې نجلۍ ده.

۲. دل کېدل: نیمکوب کېدل.

۳. یوه نسخه: مراوۍ پکي د سیند.

٤. سرزه: میش کوهي، د غره وحشي میره.

٥. اوس هم کوهستانۍ سیمه د سوات سره لګیدلې ده چي خلک یې کوهستاني بلل کیږي، او چترال د سوات شمال مغرب ته دي.

٦. ملک: په لومړي زور او دوهم زورکي، د کلي مشر، چي جمع یې ملکان ده.

(٤٥) يوه لار د هندوكوه ده تركستان ته
بله لار دا د چترال ده بدخشان ته [١]

(٤٦) بله لار چي د بټن ځي تر كاشغره
بله لار كه په مورنګ ځي لره بره [٢]

(٤٧) دا څو لاري په سرحد د هندوستان دي
نوري لاري په سرحد د خراسان دي [٣]

(٤٨) يوسفزيه په شماره تر حساب تېر دي
اما واړه ګاو و خرونه دي كه ډېر دي

(٤٩) د مغل نمک مي وخوړ شپږ پيړۍ
ما د زرو پكي روغي كړې پيړۍ [٤]

(٥٠) رعيت مي يوسفزيه، درست خټک وو
په عزت او په حرمت كي مي څه شک و

---

١. د هندوكش له درو څخه د تركستان (د آمو څنډو) او بدخشان خواوو ته لاري اوس هم شته.

٢. په ځينو نسخو كي بيتين هم راغلی دی. خو بتن په شمال مشرقي سوات د كوهستان په سيمه كي د اباسين په سمه غاړه يو كلی دی (كامل ـ تاريخ مرصع ١٢٢٠). مورنګ خو د هندوستان په كوچ بهار كي يوه غرنۍ سيمه و له سواته په زرو ميله ليري ده چي دلته به خوشحال خان هغه مورنګ نه ښيي (كامل ١٢٢٠) د سوات لويديځي خوا ته دا رنګ برنګ سيمه شته (رياست سوات) ښايي چي مورنګ د دغو كلماتو يو محرف شكل وي، او كاتبانو به اړولې وي، دغه ځاي خوشحال خان اړهنګ بړهنګ بللی دی (وګورئ كليات ٩٦٠ د قندهار چاپ).

٣. خراسان: پخوا چي به كوچي پښتانه قبايل چي لا تر اوسه هم ميشته شوي نه دي تر خيبر يا سپين غره يا د كسي غره خوا ته را تير شول، دغه مځكه چي اوسنی افغانستان دی، دوی خراسان باله. پونده به په دوبي خراستان ته راتلل چي د امو تر غاړو او تر هراته او بادغيسه د دوی ورشو خراسان و.

٤. د لومړۍ مسرۍ پيړۍ، نسل او پښت ته وايي، چي په يوه قرن كي درې پښته تيريږي. د خوشحال خان غور نيكه ملک اكوړی د اكبر معاصر و چي له ٩٠٠ه د خوشحال خان تر زمانې پوري ١١٠٠ه ټول دوه قرنه او شپږ پښته شي، د دوهمي مسرۍ پيړۍ بوڼلې شوې چوكۍ ده.

(۵۱) د مغل دپاره ما توري وهلي
پښتنو به راته کړي، ډېرې ښکنځلې
(۵۲) که ورکز يې که بنګښ او که يوسف دي
ديو همه د ما د تيغ په تاسف دي [۱]
(۵۳) پښتانه مې په زرګونو دي وژلي
په سرونو به يې خره غوايه وو لښلي [۲]
(۵٤) لا تر اوسه د سرونو يې انبار دی
په اټک په پېښور کې يې منار دی [۳]
(۵۵) په دوران د اورنګزيب پادشاه په بند شوم
بې تقصيره، بې ګناهه دردمند شوم
(۵٦) درې څلور کاله په بند د اورنګزيب شوم
خدای چه خلاص کړم، انتقام ته ناشکيب شوم [٤]
(۵۷) د مغولو زيست روزګار را باندې اور و
په صحبت يې د ما رنګ لکه تور سکور و
(۵۸) را په غاړه د مغل منصب په زور و
ته به وايې چې منصب نه و، سور اور و
(۵۹) باګهانه په دا ملک فساد بنياد شو
د ما هم د تلافۍ کار په ياد شو
(٦۰) د فساد که يو بخري و، ما اور کړ
اور يې پورې د اورنګ پادشاه په کور کړ

۱. ورکزي او بنګښ په تيراه او کورمه کې او يوسفزي په مردان او سوات کې د پښتنو لويې کورمې دي. بله نسخه: که ورکزي دي که بنګښ دي، که يوسف دي. ديو=دوی.
۲. لښل: بار کېدل. لښل: بار شوي.
۳. ار: مينار. مراد هغه مناره وه، چې له ککريو څخه د انسانانو به يې جوړوله.
٤. ار او يوه بله نسخه: انتقامه ناشکيب شوم يعني بې صبره شوم.

(٦١) دریــا خــان مــي د خــچــۍ ګوتــې ځلــې دی
ایــمــل خــان مــي د پــګړۍ شــمــلــګۍ دی[۱]

۱. مر: جیچۍ، ار: خچۍ=خچه ګوته، د لاس کوچنۍ ګوته. ځلي د دواړو حرفونو په زور، ګوتي ته وايي، چي په کابل کي يې چله بولي. شملګي د شملې تصخير دی.

دريا خان د افريدو خان و، چي د ۱۰۸٤ه د لوی اختر د مياشتي په منځ که يې پر کوهاټ حمله وکړه او د خوشحال خان ملګری و. اما ايمل خان مومند او د دې قوم مشران د خوشحال خان ملګری، چي په ۱۸۰۳ه يې د خيبر په جنګو کي د مغولو د صوبدار محمد امين خان ځلوېښت زره لښکر ور تباه کړل. خو خوشحال خان يو د خپلي خچۍ ګوتې ځلی، او ها بل د پګړۍ وړه شمله ګۍ بولي. دلته بايد دا خبره په ډاګه شي، چي دا دواړه نومونه پښتو دي: اي+مل: لومړۍ سابقه د هو=خه=ښه يو لهجوي تحريف دی. نو دومل=هيمل=ايمل د ښه مله (نيکو همراه) معنا لري.

اما در پاچي د پښتنو د ډېرو تاريخي رجالو نوم دی. له فارسي دريا ځخه ندی راغلی. بلکي پخپله کلمه د پښتو ريښې ځخه را وتلې ده، تر يوې عامي قاعدې لاندي:

په پښتو کي يوه اصلي ريښه وي، چي له هغې ځخه د (ېدل) په نښلولو د فعل اسم جوړ شي. که په هغې ريښې پوري يو د وصف او تملک (يا) ونښلوو، ډېر توصيفي نومونه له هغو اصلي ريښو ځخه جوړېږي، چه د پښتنو په اعلامو کي ليدل کيږي، او په لومړی نظر يې وصفي ريښه نه ښکاري لکه:

بس (ريښه)+ېدل=موسېدل (بس شدن) بس+يا=بسيا (سنده)
موس (ريښه)+ېدل=موسېدل (تبسم کردن) موس+يا=موسيا (خندان)
غور (ريښه)+يدل=غورېدل (فخر کردن) غور+يا=غوريا (مفتخر)
لګ (ريښه)+ېدل=لګېدل (شاغل شدن) لګ+يا=لګيا (شاغل)
اور (ريښه)+ېدل=اورېدل (باريدن) اور+يا اوريا (بارنده و فياض)
خوږ+ېدل=خوږېدل(شيرينشدن)خوږ+يا=خوږيا=خوږا (شيرين)
بر (ريښه)+ېدل=برېدل (پيروز شدن) بر+يا=بريا (پيروز)

د دغي قاعدې سره سم له در+ېدل (قيام، مقاومت) ځخه در+يا=دريا جوړ شو چي يو وصف دی. يعني درېدلی او هغه ځوک چي مقاومت لري. او د قيام او درېدني همت لري. دا نوم ځکه د پښتنو خوښ و، چي دوی تل مقاومت او زغم او ټينګ درېدل خوښول. نو د (دريا) معنا په اصله پښتو کي (مقاوم، ايستا، مدافع،

(٦٢) چي تنبې مي د خټک دوړاندي تللې
د مغل را سره ملې وې سوري، پلې[۱]

(٦٣) د خپل وچولي په کار د ما باور دی
څه و ما وته خاپښ څه يې خيبر دی! [۲]

(٦٤) دا اسمان چرخ فلک و دا به شوله
اورنګزيب پادشاه ويرانه کړه پخپله [۳]

(٦٥) يکباره يې په لاس ونيوې نا پسندې
خود په خود يې په ځان وکړلې دا شندې [٤]

(٦٦) دا همه واړه د ما ظاهر، باطن دي
پښتانه چي واړه خوښ له ځانه نن دي

(٦٧) که مغل سره د ما د زړه اخلاص وی
خدای خبر دی، که پښتون له ما نه خلاص وی

---

مبارز، مستقيم) ده. نه (بهاند، جاري، دريا).

۱. تنبې: په اول پيښ د يوه قوم يوه ډله خلک. خوشحال خان وايي: سل رحمت د مهمنديو په تنبه شه (کليات ۹۸۰ قندهار).

۲. ار: چه و ما ته څه خايش څه يې خبر دی؟ مر: څه و ما وته خايش څه بې خبر دی؟

دواړه متونه سم نه ښکاري. خاپښ=خاپخ د مومندو په سيمه کي د ګنداو لويديځ ته د خيبر يو مشهور کوتل دی چي د ۱۰۸٦ه د لومړۍ خور په مياشت کي ايمل خان او دريا خان دلته د مغلو ډېر فوجونه تباه کړي وو. ځکه نو زه د خير پر ځای خيبر صحيح ګڼم، او دا دواړي کلمې تصحيح کوم.

۳. مر: چرخ وفلک. ار: چرخ فلک. دا يو امتزاجي ترکيب دی تر اوسه يې هم چرخ فلک بولي، واو نلري.

٤. شندې: اول حرف زور لري يعني کيسې او کانې او غير عادي واقعې.

(٦٨) نــن د واړو پــښتــنــو پــه نــنـګ ولاړ یــم
دا چي هسې په هر در، هر دنګ ولاړ یم [١]

(٦٩) چي پــښتون شوم په دا هسې سپینه بړیره
نور مي خدای مکړه مغل، وایم په ځیره [٢]

(٧٠) کــه مــغــل و مــا تــه ســل وایــي خــبــرې
هــمــګي واړه پــه مــا دي خــاورې، ســرې [٣]

(٧١) دا پــوهــیــږم چــي مــغــل لــره کــه ورشــم
تــر اولــه بــه زه لا، پــه چــار بــهــتــر شــم [٤]

(٧٢) مــخــامــخ بــه یــو څو ورځي ښه نــمــانځه شم
پسې شا به حرام خور، ګیدي ښکانځه شم [٥]

(٧٣) پــه تــعــظــیــم چــي ورتــه ودرم مخ وړانــدي
امــراګان بــه د مــغــلــو خــوښي کــانــدي [٦]

(٧٤) پــه ور تــلــه به بیا خدمت را څخه غواړي
پــښتــانــه چي سره وژنو، دیــو پــرې ویــاړي [٧]

(٧٥) پــښتــانــه بــه راتــه هــم کــانــدي ښکــنځلي
چــي یــې لافــي پــه نــاحــق د نــنــګ وهــلــې

١. د لومړۍ مسرې ولاړ د واو په زور (ایستاده) او دوهم د واو په سکون له ولاړل څخه یعني تللی یم.
٢. ار: وایم په څیره په ځیر ویل: په لوړ ږغ ویل، په څېره یعني څیره شوې خبره او بې پردې خبره (وګورئ د ١٩٠ بیت پایڅوړ).
٣. ار، مر: خاورې څرې؟ سره: په پښتو امبار ته وایي، جمع یې په اوسني لیک دود سرې راځي په ٣٤٠ بیت کي هم خاورې سرې دي.
٤. ار: تر اول به لا په چارو کي بهتر شم.
٥. ګیدي: د ګاف او دال به کسره، احمق او ناپوه او بې حیا.
٦. امراګان: امیران او لوړ ماموران. یوه نسخه: په تسلیم چي ورته ودریږم.
٧. دیو: دوی.

(۷٦) چې په زره کړم دا يو څو خبري يادې
نوې واړه انديښنې شي، راته بادې [۱]

(۷۷) و مغل ته به خبري په وربوز کړم
سر مي پر يوزه که به سر ورته بيا کوز کړم [۲]

(۷۸) نه په خپل، نه په پردي يم، خو په ننګ يم
په دا ننګ کي ځويه، پلار سره په جنګ يم

(۷۹) که د ننګ پښتانه شته، ساعت هم دا دی
په دا ننګ کي سرومال و ملک فدا دی

(۸۰) دا هم شکر چي مي وتړله توره
د ما توره په جهان کي شوه مشهوره

(۸۱) ورځ په ورځ فتح و نصرت، تازه تازه شي
کال په کال د ښو مغلو جنازه شي

(۸۲) تر کابله تر اټک، په سم په غرونو
انبارې دي د مغلو د سرونو

(۸۳) اورنګزيب پادشاه پخپله رايت راوړ
که بې زر و، که يې زور و، دی پرې چا وړ؟ [۳]

---

۱. ار: رانه بادې.

۲. وربوز: د مخ را وتلې برخه د پزې سره. په وربوز خبري کول: تکبر.

۳. اورنګزيب د هندوستان د لښکرو سره په ۲ د دوهمې خور ۱۰۸۵ه د پښتنو مقابلې ته حسن ابدال ته راغی، چي له پيښوره (۷۷) ميله شرقي خوا ته دی. ار: پخپله رايت راوړي- که يې زر که يې زور ډووي پر چا وړي؟ مر: دی پرې چاوړه؟ په دواړو ډولو سره دا بيت مبهم او د توجيه وړ دی. نچاوړل په پښتو نثارول=خوني کول دي. ښايي داسې به وي: که يې زور و، پرې نچاوړ. يعني زر او زور يې دواړه پر نثار کړل او کار يې ځنې واخست؟

(۸٤) په غـرزي لـه هـنـدوسـتـانـه را ولاړ شـو
حـبـطه خـاورې پـه سـر، پـه بـيـارتـه لاړ شـو [۱]

(۸۵) پـنـځه، شـپـږ کـالـونـه تېر د دې فـتـور دي
پـښتـانـه پـه زړه خـوشـحـال، مـغـل رنـځـور دي

(۸٦) عـاقـبـت يـې و هـيـڅـا تـه سرګند نه دی
ګوره څه شي؟ کار د خدای دی، د سند نه دی [۲]

(۸۷) کـه حـيـات پـه دا دنـيـا يـم، بـخـت مـدد کـا
يـوسـفـزيـه د نـفـاق خـويـونـه رد کـا

(۸۸) اوه مـيـاشـتـې يـم پـه سـوات کې ګـرزيـدلی
هـمـه واړه دی عـظـيـم سـوګـنـد خـوړلی [۳]

(۸۹) مـلـکـان بـه يـې و خـپـل سـوګند تـه ګوري
پـه لـښکـر بـه جـمـلـګي سـره وښوري

(۹۰) و مـغـل وتـه بـه نـن کـړم، اټک بـولـه
ملـک بـه خـلاص کـړم د مـغـل له غاله غوله [٤]

(۹۱) د اټک، د پـيـښـور، د کـابـل کـوټ ځي [۵]
لـوی هـلـک کـوټـونـه واړه پـه دا چـوټ ځي

(۹۲) پـه دا کـار، کـه يـوسـفـزيـه بـې وفـا شـي
الـوداع ده، چـې د مـا بـه ورتـه شـا شـي

---

۱. غرزي: د (غ) په پيښ، هغه اواز چې د غرور او خوښۍ په وخت کې له ستوني را وزي، يا د سړي د غورځنګ حالت. اورنګزيب يو کال او څلور مياشتې په حسن ابدال کې د پښتنو د ماتو لپاره پروت و څو چې د شوال په ۱۵ سنه ۱۰۸٦ه په نامکامۍ بيرته ډهلي ته ولاړ.

۲. سند: د سين په زور او د نون په سکون، سنجش او تعقل. خوشحال وايي:
که پدر دی که پسر دی سره بيل لري سندونه (کليات ۲۵۲ قندهار)

۳. ار: همه واړه دی.

٤. بوله: سرحد، د دوو پټو تر منځ د ويش نښه. غال و غول: شور او غوغا.

۵. چوټ: چورت او تردد، تاوان، حمله، او اعتراض، ګزار کول. په دې بيت کې د هلک (طفل) کلمه د يوه بې سانامه (کوټ) لپاره صفت، يو نادر استعمال دی.

(۹۳) نـور مـې ځای پـه ځوتـره، پـه لـوحـاني دی
کـه ځوک وي، کـه نـه نـاکـام د کـرلاڼي دی[۱]

(۹٤) ځو ژونـدی یـم، وا بـه نـه وړم، لـه دې هـوډه
مـړدکـۍ بـه پـه وار وار، ورشـي تـر کـوډه [۲]

(۹٥) کـه پـیـونـد د ایـمـل خـان د دریـا خـان شـتـه
د خـوشـحـال خـټـک سـیـلـوی تر دا میان شته [۳]

(۹٦) ورځ پـه ورځ بـه کـار بـهـتـر د پـښـتـانـه وي
د نـن کـار بـه د مـغـلـو، سـبـا نـه وي

(۹۷) کـه نـور واړه پـښـتـانـه د مـغـل آش خـوري
چې د موږه ورتـه شـاه ده، واړه شـاش خـوري

(۹۸) خدای دي نه کا، که له موږه یو کنډو شي
بـیـا بـه هـلـه پـه چـا جوړ د مغل رو شي [٤]

۱. ځوتره: د کوهاټ جنوبي خوا ته د خټکو د لرغونې سیمې جنوبي برخه ده. او لوحاني=لواڼي=لوڼ هم ډیر کښته د مروتو او ګنده پورو تر منځ د بنو جنوبي څنګ ته پراته دي.

لوحاني یا نوحاني د لواڼي یا لوڼ، هندي شوی شکل دی چې په لیک کې داخل شوی دی.

کرلاڼ: د پښتنو د پختیا د ځینو قبیلو پلار دی چې بیله غلجو او بټنونو اکثر قبایل کرلاڼي بلل کیږي او خټک هم له دغو کرلاڼو څخه دي.

۲. هوډ: راسخ عزم او ثبات، ګردن کشي. هوډه کول: په کلکه اراده د یوه کار هڅه کول.

کوډ: هغه کوچنی غار چې مردکي پکې اچول کیږي او د مردکو په بازۍ کې مایه کول اصطلاح شته.

۳. سیلوی: سیله کول، طرفداري، حمایت.

٤. ار: د مغل اربوشي. بله نسخه: د مغل درشي. کنډو: رخنه، کوتل. کنډو کېدل: رخنه پکې جوړېدل، د دوو تر منځ درز پیدا کېدل.

# دا د خان کلان قصیده ده، په احوال د جنګ و جدل چي له مغل له مخالفته و[۱]

(۹۹) په دا کار کي چي چا ووهلې تورې
په مهمندو باندې مه شه میندې بورې
(۱۰۰) په شنواري، افریدي، باندې رحمت شه
په صافیو په غلجیو برکت شه
(۱۰۱) چي مغل د جګدلي تانه نیوله
نو غلجي ښه په پیوند توره وهله [۲]
(۱۰۲) د خټکو نه یو لک خټک داخل دي
نور خټک واړه تر اوسه لا باطل دي
(۱۰۳) په ورکزیه په بنګښ باندې نفرین دی
له دې واړو ولسولو مي زړه شین دی [۳]

---

۱. دا عنوان په ټولو نسخو کي شته، مګر وروسته خو کومه قصیده نده لیکې شوې او هغه مثنوي دی چي دوام لري. زما په خیال دلته به افضل خان د خوشحال خان د هغې اوږدې قصیدې لپاره ځای پرېښی و، چي خوشحال خان په ۱۰۸۶هـ کال د دریمې خور په لومړۍ ورځ د خیبر او ایمل او دریا خان د مشهورو جنګونو په ویاړ ویلې وه او په دې بیت پیل کیږي:
بیا له کومه را پیدا شو دا بهار     چي هر لوري یې ملک کړ یو ګلزار
ښایي چي دغه قصیده به په منقول عنها نسخه کي نه وه ګښلې شوې. نو کاتبانو خو عنوان واخیست او معنون یې پرېښو. دغه قصیده د خوشحال د کلیات د قندهار چاپ په ۵۹۱ مخ او د ارمغان خوشحال په ۱۷ مخ کي راغلې ده. ښاغلي لوستونکي دي هلته ولولي.
۲. ار: غلجي په پیوند توره وهله. بله نسخه: غلجي ښه په پیوند توره ووهله. چي (ی) ټکي نلري. پونده ور کول: اراده کول دي. ښایي چي دا مسرۍ به داسي وي: نو غلجي په پونده توره ووهله؟ جګدلي دغه جکدلک دی د کابل شرقي خوا ته د غلجو سیمه.
۳. ورکزي او بنګښ په کوهاټ او کورمه کي اوسي.

(۱۰۴) یوسفزیه که وهلې نده توره
په هاهو شرکت لري، یلا یې دوره [۱]
(۱۰۵) که فرصت وي تر اوله تر آخره
د دې کار به درته نظم کړم خبره
(۱۰۶) بیل په بیل کتاب، څو جز د سره ساز کړم
حال به شرح تر انجامه تر آغاز کړم [۲]
(۱۰۷) چې په دا فتور کې شوي دي جنګونه
تر کابله خرابي په فرسنګونه
(۱۰۸) اوس به حال د سوات د ملک درته بیان کړم
د دې خلکو کار و بار به در عیان کړم
(۱۰۹) چې د ننګ په کار کې شي پیدا دا چارې
د ناکس د کس، همواري نا همواري [۳]
(۱۱۰) پښتانه واړه نادان د جهل کان دي
که یې وار وي یوسفزیه په بل شان دي
(۱۱۱) ما د سوات د عالم ښه ننداره وکړه
د هر هر فریق مې پټه، ښکاره وکړه
(۱۱۲) خو په خوله کلمه لولي مسلمان دي
په وعده په عهد، قول بې ایمان دي
(۱۱۳) د لږ سود، د لږ بهبود، د لږ مقصود دي
په اندک له تا خوشنود، هم ناخوشنود دي

---

۱. ها، هو: دواړه د ایجاب توري دي. یا جمعاً به یې معنی هیا هو وي.
۲. ار، مر: بیل په بیل؟ د متن سمونه حدسي ده، یعني جلا به یو بیل کتاب څو جزه ورته جوړ کم.
۳. په دوهم مصراع کي لف و نشر غیر مرتب دی یعني د ناکس له خوا ناهمواري او ناوړي او د کس له خوا همواري او سمې چارې.

(۱۱٤) د خــپــل ســود دپــاره ګرمــه يــاري کــانــدي
چي يې سـود نـه وي، بې شرمه ياري کاندي [۱]
(۱۱۵) خـــبـــردار کـــلـــه پـــه شـــرم، پـــه کـــرم دي
هــمــګي عــبــدالــزوجــه، عــبــدالــدرهــم دي [۲]
(۱۱٦) هـم يې کـبـر، هـم يې حـکـم، هم يې ناز وړي
پـه هـر څه کـي د عـورتـو، ساز نـاسـاز وړي
(۱۱۷) يـا يې شيـخ، ملا په مکـر په افسون خوري
يـا يې مـال پـخپل پردي، مګر خاتون خوري [۳]
(۱۱۸) ســيــوايــي، بــدې د لــور، چــي لــوڼه پـلوري
پـه دا څو تـوکـه کـي غـرق دي مخ تـوري [٤]
(۱۱۹) پـــه کـم اصـل، پـه بـد اصـل نـظـر نـه کـا
د ټڼـــګو پـــه لالـــچ، خـور او لـور واده کـا [۵]
(۱۲۰) اشـــنـــايـــي در ســـره کـــا، د زړه د پـــاســـه
خـپل ساتي، طـمع بـه کـانـدي ستا له لاسه [٦]
(۱۲۱) زر روپـي بـه دي نـقـصـان کـا پـه روپـيـۍ
آواره کـــا، درســتــه غــوا، د غــوا پــه پــيــۍ [۷]

۱. ار: دپاره کرم ياري کاند ـ چي يې سود نه وي بې شرم ياري کاند؟
۲. عبدالزوجه: د ماينې مريی. عبدالدرهم: د پيسو مريی.
۳. يعني ماينه يې مال پخپل او پردي خوري.
٤. سوا: د سين په فتحه=سيوا: سود او ربا چي ناروا کار دي. يعنی علاوه تر سود او نورو ناوړو، دوی لوڼي هم خرڅوي، او بدې او ولورونه پر اخلي.
۵. يعني د ټنګو او پيسو او دولت په حرص خپله خور او لور خرڅوي.
٦. د زړه د پاسه: د زړه د کومې ضد حالت دی.
۷. يوه نسخه: زر روپۍ به دي تاوان په يو روپي کا ـ آواره تمامه غوا، د غوا په پيۍ کا.

(۱۲۲) په تمیز کې سرار واړه مبهوت دي
چې برلی روته ګوهر، شبه یاقوت دي [۱]
(۱۲۳) که په کور کې خزانې لري د زرو
بیا خواړه خوري، په شړشمو په ډنبرو [۲]
(۱۲٤) د ادب په کار کې هسې ناهموار دي
کشر مشر، تور و سپین، په یوه شمار دي
(۱۲۵) درست عالم یې د ګوارو په شماره دي
تر تاجکو لا په زیست کې آواره دي [۳]
(۱۲٦) کور په کور، ګونډی ګونډی او بدنیتی
بیهوده له ځانه خوښ، بې برکتی
(۱۲۷) نصیحت به درته وایم له ما زده کړه:
چې په نه یې باور کړه، په هو یې مه کړه
(۱۲۸) مخامخ یې نور څه نشته بې اقراره
پسې شا یې نور څه نشته بې انکاره
(۱۲۹) که باور یې یا په هو، یا په کرم کړې:
د سفله سړي، په ځان باندې ستم کړې
(۱۳۰) په درست کال یې ګوتې نه خیژي له کاره
بو تیمار دی د اوبو په شالیزاره [٤]
(۱۳۱) یا د سوات خاورې ګنده په کار د کشت دي
یا له ځایه یوسفزیه بد سرشت دي

---

۱. ار: چې برلی روته کوهر شه یا یاقوت دي؟ صحیح ډول یې هغه د متن دا دي، شبه د شین او د بې په زور، د مریو دانو ته وایي=دانه هاي آبګینه (غیاث).
۲. شړشم: یو بوټی دی چې ژیړ ګل کوي، له دانو څخه یې تور تیل باسي او پاڼې یې پخوي. ډنبره هم یوه غرنۍ ونه ده چې خواران غذایي مواد ځنې اخلي.
۳. ار: د ګوار په شماره. ګوار: د حیوانانو ګله.
٤. بو تیمار: سپین مخ چې یو ډول کوچنی ډینګ دی او د شولو د کښتونو په اوبو کې کیني.

(۱۳۲) ویـــش قـــســـمـــت چـي د وفـا د مـروت وو
یـوسـفـزیـه پـه دا کـار کي بې قـسمـت وو [۱]

(۱۳۳) پـول، پـیـسـه پـکې دواړو، دیـن مـذهـب ده
انـدیـشـه یې خـو د سـیـم او د ذهـب ده [۲]

(۱۳٤) کـه یـوه پـیـسـه پـه څه انـواع دوه کـیـږي
هـم هـغـه کـا، هـیـڅ پـه بـلـه نـه پـوهـیـږي [۳]

(۱۳۵) د دنـیـا پـه کـار و بـار کي هسې غـرق دي
نـر او ښځي، لـوی، هـلـک یې تـابـفـرق دي [٤]

(۱۳٦) یـو عـالـم دی، پـرې سبـا شـي، یـا بـیـګاه شي
کـه پـه خـوب یې له بنده ګۍ لاس کوتاه شي [۵]

(۱۳۷) پـکـي نـه چـي یـوسـفـزي پـه دا طـریـق دي
چي پـه سوات کي مونده نشي، کوم فریق دي؟

(۱۳۸) و مـیـلـمـه وتـه سـت، بـړبـړ، راشه نشتـه
نـه د ژبې چـار، نـه شـنـاخـت، مهر د زړه شته [٦]

(۱۳۹) اصـیـلان پـکـې بـنـده غـونـدې خـرڅیـږي
هـیـڅ څوک نـه وي، چـي پـه داد یې ورسیـږي

---

۱. ار: بد قسمت وو.

۲. سیم او ذهب: سپین او سره زر.

۳. ار: چي یوه پیسه.

٤. ار: نه د یو ښځې؟ مر: لکه متن، او صحیح هم دا دی. یعني نر او ښځې، ووړ او لوی یې تا بفرق (تر سره پوري) پکي غرق دي.

۵. په دې بیت کي له بندګۍ باید په اول زور او دوهم او دریم سکون وویل شي=بندش؟ یا به بدۍ وي یعني داسي یو عالم دی، چي تش په خوب کي یې لاس له بدۍ پابند شه، کوتاه کیږي. سبا او بیګا یې داسي په بدیو یا بند شونو کي تیریږي.

٦. بړبړ راشه: د هر کلي او سترې مشي ږغ دی. خوشحال وایي: بړبړ رایشه نوروه دلفروزه!

(۱٤۰) کـه مظلوم چرې ملک وته داد خواه شي
چـي يـوه روپـۍ بـل ورکـا، روی سيـاه شي [۱]
(۱٤۱) کـه پـه خـولـه کـلمه لولي، مسلمان دي
پـه عـمـل کـي يـوسـفزي، لـکه ددان دي [۲]
(۱٤۲) تـولا کـه تـبـرا، کـه ديـن نـنـګ وي
پـه دا دواړه کـي د هـر يـوه زړه سنګ وي [۳]
(۱٤۳) کـه هـنـدو کـلـمـه ولـولـي، مـرتـد شـي
څوک بـه نـه وايي، چي دا پـه دين کي بد شي [٤]
(۱٤٤) هـسـي خـلاص دي لـه ادبـه، لـه تـمـيـزه
لـکـه داه عـربـي، هـنـدي کـنـيـزه [٥]
(۱٤٥) پـه هـر کـار کي نـاهـموار، نـا فـهـميـده دي
نـاديـده دي، نـاديـده دي، نـاديـده دي [٦]
(۱٤٦) پـکـي نـشـتـه مـيـوه دارې، بـاغـي ونـې
هـمـګي د غـره پـلـوسـې دي يـا، غـنـې [۷]
(۱٤۷) پـه وعـده پـه عـهـد، قـول بـې وفـا دي
بـې ادبـه، بـې تـمـيـزه، نـا صـفـا دي

۱. يعني دکلي ملک په يوه روپۍ رشوت، مظلوم ګرموي او ظالم برموي.
۲. دد: ښاروي، چارپا، چي جمع يې ددان ده.
۳. يعني په ديني دوستي يا کړنه کي.
٤. يعني که هندو يوه پلا مسلمان شي، خو بيا بيرته له اسلامه وګرزي او مرتد شي.
٥. داه: خدمتګار يا مريي. يوه نسخه: لکه خلاصه چي له عقله وي کنيزه.
٦. ناديده: هغه څوک چي سترکي يې وږي وي يا نوي نعمت ته رسيدلی وي.
۷. پلوسه: يوه اغزنه ونه ده چي ميوه نلري. غنه: وچ اغزن لرګی.

(۱٤۸) در، شبه، کاڼي، یاقوت ورته یو شان دي
سیب، شلغم، انار، بهي ورته یکسان دي [1]
(۱٤۹) نه مردانو غوندي موخې شهنکي کا
سپیني بږیرې سره ټول شي، مږدکي کا [2]
(۱۵۰) نه یې قول، نه یې عهد، نه یې بول شته
خو د دیو ریش و فش، د ښځو پسول شته [3]
(۱۵۱) نه پرې حکم، نه و چا څه ورکوینه
واړه ځان لره ګټي، په ځان یې خورینه [4]
(۱۵۲) آشنایي یې خواب و خیال غوندي لیده شي
یا په مثل لکه باد چې وزیده شي
(۱۵۳) مبتلا په څو څو رنګه پلیدي دي
مریدي دي عنیدي دي، ندیدي دي [5]

۱. ار، مر: سیمه، کاڼي یاقوت ورته یو شان دي؟ شبه په دوو فتحو لکه په ۱۲۲ بیت کي چي هم راغله د مریو دانو ته وايي چي په (مر) کي دغسي چاپ شوې ده. اما که سیمه وي، نو به د سیمۍ یو شکل وي چي صدف ته وايي او په هندي سیپ دی.

۲. یوه نسخه: شینکي؟ مګر شهنک په اول زور او دوهم سکوک یو ډول قدیم توپک و (زنبورک) چي په فوجي تشکیلاتو کي به شهنک خانې یو داروغه او مشر افسر درلود. موخې هدف او د ویشتلو نخښې ته وايي یعني د میړو غوندي په شهنک نخښې نشي ویشتای.

۳. په لومړۍ مسرۍ کي بول قول او وعدې ته وايي د بلل او بولل له ریښې څخه. د دوهمې مسرۍ د ښځو پسول په ار ـ مر دواړو چاپ شوو نسخو کي (پول) دی، چي دلته سمه معنا نه ښندي، نو ځکه ما دغه کلمه په پسول (زیور) تصحیح کړه. یعني د نرو بږیره او شمله او د ښځو زیورونه شته.

٤. ار: پر حکم وونه چاڅه.

۵. ار: مزیدي دي، عنیدي دي،ندیدي دي. بله نسخه: مبتلا په څو رنګه پلیدي دي ـ مزیدي دي، عبیدي دي ندیدي دي. زما په خیال درې سره عربي کلمې دي. مرید د میم په زور شریر او متجاز دی. عنید د شین په زور له لارې اوښتی او ندید د نون په زور سیالي کونکی دی (المنجد).

(۱۵٤) چي نيکان، پاکان يې دا وي، دا يې حال وي
له بدانو بد يې وايه، کوم مقال وي؟ [۱]

(۱۵۵) د بابا د مال يوازې ميراث خور دي
نه په ترور دي، نه په مور دي، نه په خور دي [۲]

(۱۵٦) چي د ورور يې جنازه په ګور کي کښيوزي
که رضا، که بې رضا، په ورندار پريوزي [۳]

(۱۵۷) له قاتله ځان غلط کا، په قصاص کي
د مقتول په ځاي بل ووژني په خاص کي [٤]

(۱۵۸) هر ملا په دا صحبت ور سره مل وي
په ثنا د يوسفزيو وي، که غل وي

(۱۵۹) دا له څه دي، ځني نور قباحتونه
کور په کور سره اخته په شدتونه

(۱٦۰) هومره ملک، هومره اولس، برکت هيڅ
که يې مال، که يې دولت، سخاوت هيڅ

(۱٦۱) که پاليز د خټکيو ښوک ودان کا
پخيدو ته يې پرې نږدي، اوم يې وران کا [۵]

(۱٦۲) کوم ملک يې هومره زړه، هومره خواړه کا؟
چي څلور ورځي، څلور سړي ماړه کا [٦]

---

۱. ار: له بدانو نه يې.
۲. دا د پښتنو د هغه بد خوی غندنه ده، چي ښځو ته په ميراث حق نه ور کوي.
۳. ار، مر: په کور؟ دلته اشاره ده د پښتنو هغه بد رسم ته، چي ورور يې مړ او په ګور شي، ښځه يې بل ورور په زور کوي.
٤. يعني وژونکی او وژل شوی، کورنۍ ورک وي او پر ځای يې بل ښوک نيول کيږي.
۵. ار: که پاليز د خټکو ښوک؟ مر: لکه متن، چي مراد د خټکيو (خربوزې) پاليز دی.
٦. ار: کومه ملک؟ مر: لکه متن.

(۱٦۳) کــه ســړي يــې پــه صــورت لــکــه آدم دی
په روزګار، په خوي، خصلت، له دېوه سم دی [۱]

(۱٦٤) پــه غــلــط خــويــونــو مــبــتــلا دي
په بـدخـوی، پـه بـد خـصـلـت، د ځان بـلا دي

(۱٦٥) نــه ســـزا د بــدکــارانــو پــکــې کــيــږي
نــه پــه خــپــل عــقــل، پــه ښه ســړي پــوهــيــږي

(۱٦٦) چــي څوک وايــي: دا ښه دي، هــغــه ښه دي
چــي څوک ووايــي: دا بــد دي کــلــه ښه دي

(۱٦۷) که پـه مـکـر څوک خـپـل ځان پـکـي طبيب کا
څوک بـه نـه وي، چـي ښـکـاره د ده تـکـذيب کا

(۱٦۸) کـه پـه مـکـر څوک مـلا شـي، يـا درويـش شـي
څوک بـه نـه وي، چـي خـبـر د ده پـه کـيـش شـي

(۱٦۹) هــر مــغــل چـي پـه سـوات راشـي شـهـزاده شـي
هــر ســړی يــې و مــنــصــب تــه آمــاده شــي [۲]

(۱۷۰) کــه د کــلــي د اولــس د تــومــن بــزرګ دی
و مــيــلــمــه وتــه يــې کــتــر، مګر چرګ دی [۳]

---

۱. ار: له ديو سم؟

۲. ار: لومړی مسری دوهمه، دوهمه لومړی ده. مګر په تاريخ مرصع (ص ۲۹۱) کي افصل خان هغه واقعه بيانوي چي شهزاده شجاع د شاه جهان زوی د بنګال په لور ورک شو. او په يوسفزو کي يوه بل سړي دعوه وکړه چي زه شهزاده شجاع يم. په دې بيت کي خوشحال خان دغې پيښې ته اشاره کوي، او افضل خان يې په لوړ ډول په تاريخ مرصع کي را نقلوي.

۳. تومن: لومړی حرف پيش لري. په ترکي لسو زرو ته وايي. امير تومان د لسو زرو مشر و (تاريخ مغل ۲۲۷) هغه سيمه چي سل کلي ولري (برهان قاطع ۵۳۵) دوهمه مسری په ارمغان کي داسي ده: و ميلمه وته يې کتر مکرر چرګ؟ ښاغلی کامل د تاريخ مرصع په حاشيه کي ليکي چي "د کلمې معنا واضحه نده، ممکنه ده د هندي، اردو "تراشنا" سره تعلق ولري. او مکر د کتر تابع مهمل دي. معنی يې پريکول، قطع کول دي. زموږ سيمي ته په پښتو کي هم وړوکي وړوکي پريکولو ته

(۱۷۱) خبر دار کله په ننګ افغاني دي
کشميري او پکلی وال دي، لغماني دي [۱]

(۱۷۲) د هغو چي زړه د چرګې په مرګ ريږدي
مصلحت د سپينو، تور ورته بليږدي [۲]

(۱۷۳) ځکه هسې په هر جنګ باندي بري کا
بيا له ترسه جنګ ته نه ځي ځان مرزي کا؟ [۳]

(۱۷٤) دا يې واړه نامردي ده، هيچکاره دي
خيراتي، د جنګ په کار په څه شماره دي

(۱۷۵) آسوده په مال، په ملک، په زر، دينار دي
د دنيا روزګار يې نزده، بد روزګار دي

---

کوتره کول وايي. نو ګوندې د خوشحال مراد دا وي چي ميلمه راشي، نو د ډېر ښکاره کولو دپاره د چرګ د هګوکيو ډېري ټوټې سازي کړي. دا توجيه هم په زړه پوري نده ځکه چي د کتر مهمل متر دی نه مکر. کتره په پښتو د غوښو ټوټه ده. ښايي چي کتر د دغي کلمې يو لهجوي شکل وي. او د مکر پر ځای مګر د پښتو او دري د استثنا توری وی. يا بګرد د ګاف په پيښ وي، چي بګيل او تښتيدلي ته وايي او د چرګ صفت به وي؟

۱. پکلی=پکهلی: د شمالي پښتونخوا د هارې ضلعي شمالي غرنۍ سيمه چي پښتانه پکي اوسي.

۲. ار: د چرګ په مرګ ريږدي؟ بليږدل: نغښتل، پيچيدل. خوشحال وايي: تل طفلان د خپلو اوښکو د ګرياون په اوبې بليږده. دلته به مصلحت د سپينو او تور (سپيد و سياه) وي، يا د سپينو تورو (شمشيرهای درخشنده).

۳. بري: دلته فتح مراد نده بلکي اقدام او آغاز مراد دي چي دوهمه مسرۍ يې هم حال بيانوي. ښايي چي په لومړۍ مسرۍ کي "په هر څنګ" وي.

(۱۷٦) نه يې خوان، نه دستار خوان،نه چراغدان شته
درسته شپه يې د شونټيو بد دخان شته [۱]

(۱۷۷) چي په تيل، په دستار خوان يې څه خرڅيږي
که زر دار وي، هم يې غوښي اوبه کيږي

## فصل

(۱۷۸) ملکان، خانان يې کل واړه خران دي
عالمان، شيخان يې واړه جاهلان دي

(۱۷۹) چي "عبدل" عبدل باله شي پکې کټ دی
اوس بساند کوټه د کلي کټوي خټ دی [۲]

۱. دستار خوان: چي مخفف يې دسترخوان=ستر خان او هغه کالي دي، چي پر خوان يې غوړوي.
شونټې: هغه غوړ لرګی چي د سپې يې د رڼا لپاره د څراغ پر ځای بلوي او ډير دود (دخان) لري.
۲. ملک عبدل (اودل) د خوشحال خان په ژوندانه کي د سوات د يوسفزويو خان دی چي خوشحال خان ته په ۱۰۸٦ه کال د سوات په سفر کي راغلی و (تاريخ مرصع ۳۲۷). خوشحال وايي: اوس په درست اولس کي ښه ملک عبدل دی ـ که يې ژر کا خدای څهره په مرګ بدرنګه (کليات ۹٦۹ قندهار). په پښتو کټه لوی او جسيم ته وايي يعني د يوسفزو کټه (کټ) او مشر دی خو سره د دې اوس لکه بساند (خروړی) کوټه سپی د کلي کټوې څټې (کاسه ليس) دی. په لومړۍ مسرۍ کي که (کټ=ګټ=غټ) وګڼو، کټ مټ د هغه کټه معنا لري يعني لوی او بزرګ او مشر.

(۱۸۰) د جــهــان عــيــبــونــه واړه ســره ټول کــړه
هـغـه واړه د "هـمـزه" د غـاړې پـسـول کـړه [۱]

(۱۸۱) د "تـالـي" کـه درتـه وايـم يـو کـالـی دی
ډک ښـانـک دی د اوګري، کـه يـا تـالی دی [۲]

(۱۸۲) د "کـاچـو" نـمـسی نـه خان دی، نه ملک دی
کـالـکـوچـن، دروغـژن غـشـی د هـلـک دی [۳]

(۱۸۳) مــلــکــي يــې پــه کــرم، نــه ده پــه تــوره
پـــه دا واړه تـــوکـــه مـــور وه بـــانـــدي بـــوره

(۱۸٤) کـار يـې ځکـه مـسـخـره، حـبـطـه، سـپـک دی
څوک چي زيـات دی پـه تـپه هغه ملک دی [٤]

---

۱. ار: هغه واړه د هنره د غار پسول؟ مر: لکه متن، يعني د جهان ټول عيبونه سره را ټول که او هغه ګرده زما د اخښي حمزه د غاړې زيور که. ملک حمزه د ملک ملوخان زوی او د خوشحال خان د يوسفزۍ مايني ورور او د صدر خان ماما و، چي د افضل خان په قول "همزه مخ تور کړ مغلی شو" (تاريخ مرصع ۳۲۷). خوشحال خان وايي: همزه خان هغه چمند دی په جلګو کي ـ وړاندې ورستو پړي پرې کاله غرزنګه (کليات ۹٦۹).

۲. د لومړۍ مسرۍ تالي (طالی) د يوه ملک نوم دی. خوشحال خان وايي: طالی چرګه نرښځی دی په ديدن کي ـ لوی چارخول لکه د چرګ په هويو کرنګه (کليات ۹٦۹) په دوهمه مسرۍ کي تالی لوښی دی.

۳. کاچو د سوات د خلکو يو لرغون نيکه و. خوشحال خان وايي: نه حميد شته کجی شته نه کاچو شته ـ څه له نورو سره سر وهي له سنګه (کليات ۹۷۰) په دې بيت کي کالوچن سره پېچلي او کاږه او مکار ته وايي.

٤. حبطه په عربي د حبط معنی ضايع کيدل دي (صراح) مګر په دغه ډول د حبطه وصفي شکل په عربي کي ندی راغلی. پښتانه يې ابته وايي: ابته شو يعني ضايع شو او بيکاره ولاړ، وخت ابته کول، ځان ابته کول، او هر شی چي بې ګټې ضايع شي. هغه ابته شو. ځکه چي په عربي کي يې دغسي د صفت په ډول استعمال ندی راغلی. نو زما په خيال د دغې کلمې ريښه پښتو ده (ا+بته) لومړۍ مفتوح همزه، قديم د اريايي ژبو نافي پري فکمن دی. دوهمه برخه يې بت=بته مايه او د يوه شي د کلکولو او درولو ماده ده، لکه بت ور کول يعني نيغ درول او

(۱۸۵) سود حاصل یې یا د بډو، یا د خواست وي
په هر کلي، په هر چم باندي یې زغاست وي [۱]
(۱۸٦) د ملک یې د "دفتر پولی" پټی وي
نوري توري خاوري تویې په کوټی وي [۲]
(۱۸۷) د ملک یې که دري نور وروڼه سکه وي
پدري پټی یې درست ریشه ریشه وي
(۱۸۸) یوه بخره د ملک وي، دري د نورو
په کم، زیات یې سر د جنګ وي په تسکورو [۳]
(۱۸۹) چي نیکان، پاکان یې دا دي، حال یې دا دی
شیخ "میان نور" پکي تر واړو لا والا دی

---

ښکلی کول، نو ابته بې مایې، نا ولاړ، نا کلک او ناښایسته او ضایع شوي. د دوهمې مسرۍ تپه سیمې ته وایي چي یوې طایفې ته خاصه وي. لکه د پیښور د داؤدزو تپه، د مومندو تپه.

۱. چم: کوڅه، زغاست: زغل او تاخت و تاز، اسم فعل دی.

۲. ار، مر: په کټی وي؟ کټی په پښتو د میښې او پیل چنګوټي ته وایي چي دلته نه ور سره لګیږي. توري خاوري پر کوټی تویي یعني په سر تویي او د خاک بسر پښتو تعبیر دی. وایي: چي د سوات ملک خپله مځکه او پټی نلري. توري خاوري یې په سر وي او تش په هغه پټي ګذاره کوي چي د شیخ ملي په دفتر کي پولې ورته ټاکلي شوي دي او خپل میراثي پټی یې د نورو سره وېشل کیږي، په دې بیت کي د پښتنو لرغوني رسم "دفتر" ته اشاره ده چي په دوو، وروستیو بیتو کي یې شرحه هم شته.

۳. ار، مر: لشکورو؟ دا بې معنا منهله کلمه ده، ښایي چي صحیح یې قسکورو وي چي د بوټو د کښلو آله ده، او کله جنګ هم په کیږي.

(۱۹۰) اول حـــال د عـــالـــمـــانـــو درتـــه وايـــم
بـيـا لـه پـسه "ميان نور" درته وستايم [۱]

* * *

(۱۹۱) عـــالـــمـــان هـــمـــګي واره ســـفـيـــه دي
نه عـالم دي، نه فاضل دي، نه فقيه دي [۲]
(۱۹۲) چي د "کنز" د "قدوري" شي، ځان ملا کا
هـر حـلال، حـرام پـه ځان بـاندي روا کـا [۳]
(۱۹۳) نـــه د "کـــنـــز" د قـــيـــقـــو څه خـــبـــر شـــوي
نـه پـه مـسـخ د "قـدوري" مـبـصر شـوي [٤]

۱. ميان نور د يوسفزيو بې علمه تش په نامه ملا غونډې پير و او د مغلو په ټونګ يې د پښتنو آزادي غوښتونکو لار وهله. خوشحال خان د سوات په سفر کي د لنګر خټک په کلي کي له ده سره مناظره وکړه او دی يې پړ کړ. نو خلکو د دوی تر منځ بوګاښ او روغه وکړه او خوشحال خان دغه ميان نور د مغلو له سيلې څخه را وګرزاوه. خو ميان نور په ښکاره د مغلو سيله بنده کړه، مګر په پټه به يې لمسون کاوه. خوشحال خان وايي:

مخزن د درويزه، د ميان نور شيخي پيري
الثالث با الخير، د همزه خاني، ميري
دا درې توکه ډېر عزت لري په سوات کي
و خدای وته ښکاره دي و بل نشي په ځيري (کليات ۹٦۲ قندهار)

۲. سفيه: ناپوه، بې عقل. فقيه: پوه، دانشمند.
۳. کنز الدقايق: يعني د نريو خبرو خزانه. د حنفي فقه مشهور درسي کتاب دی چي شيخ ابو البرکات عبدالله بن احمد نسفی (مړ ۷۱ق) تاليف کړی دی (عربی) او ډېري شرحي هم لري. مختصر القدوري هم د حنفي فقه پر فروعو باندي يو مشهور درسي کتاب دی، چي په عربي ژبه امام احمد بن محمد القدوري بغدادي (مړ ٤۲۸ق) تاليف کړی او ډېري شرحي لري. دغه دواړه کتابونه په مسجدو او مدرسو کي لوستل کيږي.
٤. مبصر: د ميم پيښ دو د مفتوح صاد تشديد. سترګه ور، بينا.

(۱۹٤) کـتـابـونـه پـه سـر کـيـږدي ځان مـلا کـا
پـه هـر کـلي، محلت ګرځي ټکي، غلا کـا
(۱۹۵) کـښيـنـی شـرع پـرېکـوي پـه رشـوتـونـو
ځان قـاضـي کـا، پـه غـلـط روايـتـونـو
(۱۹٦) و هـر چـا لـه مـسـئلې د سـخـاوت کـا
خـپـلـه خـونـه ډکـوه، بـلـه غـارت کـا [۱]
(۱۹۷) پـه مـسـجـد راځه پـيـنـځه وخـتـه اذان کا
چي زکـات، سرسايه نه وي، مسجد وران کا [۲]
(۱۹۸) د مـيـراث مـالـونـه خـوره لـه ظـالـمـانـو
نـوم پـه ځان بـانـدي کـيـږده د عـالـمـانو
(۱۹۹) پـه دا هـسې عـلـم بـرنـد کـښېني ملا شي
و عـالـم تـه مـيـراث خـور د انـبـيـا شي [۳]
(۲۰۰) نه يې کـښل زده، نـه لـوسـتـل زده، تل ټکل کا
تـعـويـذونـه ورکـوي، پـه دروغ کـښل کـا [٤]
(۲۰۱) پـه نـاروغ يـې خـوښي لا زيـاتـه تـر روغ
ځښت، تـعـويـذ، دعـا، هـيـکل کښي په دروغ [۵]

---

۱. له دې بيته تر ۱۹۸ پوري د پښتو د فصاحت د التفات صنعت دی له مخاطبه غايب ته (ډکوه، راځه، خوره، کيږده).
۲. سرسايه: د ګوچني اختر صدقه.
۳. برند: نازان، مغرور، مسرور. برنده ځواني: عنفوان شباب. خوشحال وايي: برنده راته کښينه چي دي زه کړم نندارهِ.
٤. ار: نه يې کښل زده وي، نه لوستل. تل ټګل کا! مر: لکه متن، ټکل يا ټاکل: انتخاب او نښه کول، دلته د يوه خاص عمل نوم دی، چي د رنځوريدن په اوده کړی دوا ټاکي، او دا د عامو خلکو د علاج يوه ټوټکه ده.
۵. ار، مر: طشت تعويذ؟ دلته طشت څه معني نه ورکوي، اصل يې خښت=ځاښت يعني شوليست دی. چي د کاغذ پر ټوټو څه ليکي او هغه بيا په اوبو کي اچوي او په رنځور يې د علاج دپاره ځښي. هيکل دلته د تعويذ پوښ او اميل دی.

(۲۰۲) لا رنځوړ غریب، صحت نه وي موندلی
چې اخون وي اخستو ته ور نیولی [۱]
(۲۰۳) که په ورکړه کي څه درنګ څه خو تعطیل وي
په غوغا په شور و شر یې قال و قیل وي:
(۲۰٤) چې د ما په خلکو، قدر قیمت نشته
د رنځور مي بې تعویذه صحت نشته: [۲]
(۲۰۵) چې رنځور له رنځه خلاص شي، راته شا کا
نور به بیا د ما تعویذ، د چا بلا کا؟ [۳]
(۲۰٦) دا چې زر هسې ناسازې کا آغازې
خپل مقصود، مطلب حاصل کا په ناسازې [٤]
(۲۰۷) وایې: موږ ته چې نظر د سترګو سپک کا:
خپل ایمان به په دا هومره چارو ورک کا [۵]
(۲۰۸) په دا عام وګړي هسې هیبت کښېږدي
چې د دوی په رضا ځي، هر څه به پرېږدي [٦]

۱. یعني اخوند بیا د څه مال او پیسو د اخستلو لپاره په دروازه کي ولاړ وي.
۲. دغه بیت او ۲۰۵ بیت دواړه په ۲۰۳ بیت پورې نښتي دي، او د اخوند تقریر بیانوي.
۳. ار: نور بیا د ما تعویذ د چا بلا کا؟ مر: نور به بیا د چا تعویذ د ما بلا کا؟ د متن ډول غوره ښکاري.
٤. ار، مر: هسي ناساز کا؟ په متن کي د وزن د سمښت لپاره (ي) زیاته شوه. ینعي د خیرانې د لاس ته کولو لپاره زر ناوړې شروع کا او ناخوالې وایي.
۵. د اخوند د بیان ادامه ده، یعني اخوند وایي: که موږ ته څوک په سپک نظر وګوري.
٦. ار، مر: چې د دیو په رضا؟ دیو د اوسني جمع غائب ضمیر قدیمه املا ده. چي له (دیو) سره التباس مومي. نو ما دلته اوسنی شکل (دوی) وکیښ، چي مراد ځني اخوندان دي.

(۲۰۹) چې څه ترس له خدایه نه کاندې غلول کا
آس به پرېږدي، زين به باندي په جاهل کا[۱]

(۲۱۰) چې ملا د "ميان نور" په حکم درومي
هم هغه د سوات په ملک کي سېرۍ مومي[۲]

(۲۱۱) "ميان نور" که د خنزير غوښي روا کا
ملايان به باندې ژر جوړه فتوا کا

(۲۱۲) د ميان نور مفتيان د سوات په ملک کي دوه دي
الله داد او دوست محمد دواړه ياوه دي[۳]

(۲۱۳) لږ يې علم، لږ يې لوسته، ډېر تقرير کا
چې ميان نور يې لمسوي، هغه تزوير کا

(۲۱٤) اوس به وايم د ميان نور له حقيقته
چې تر نورو نه، دی لا دی بد خصلته

(۲۱۵) راشه واوره په دا هومره قباحت
چې په ما باندي يې جوړ کړ څه تهمت؟[٤]

(۲۱٦) زه چې چون په اعتقاد کي پاک سني يم
په کندن د رافضي د بيخ کني يم[۵]

---

۱. ار: که ترس له خدايه؟ بله نسخه: چې هيڅ ترس.

۲. دا نوم کله د (ميان) د ميم په سکون او کله د ميم په حرکت استعمال شوی دی. چې دلته زير لري. سېرۍ: د شيخ ملي په دفتر کي هغه ځمکه چې د کلي د ستانه له پاره وقف وه، يا مطلق وقفي ځمکه چې د عامو ګټو لپاره خاصه وه.

۳. الله داد خان او دوست محمد خان دواړه د يوسفزو مشران وو (وګورئ تاريخ مرصع ۲۷٦ - ۳۳٤).

٤. ار: جوړ کړه تهمت؟ د بيت وزن نه سمېږي. د متن ډول سم ښکاري.

۵. رفض: پرېښوول، ترک کردن. رافضي هغه لښکر بولي چې افسر پرېږدي. دا د شيعه ډلي هغه فرقه وه چې د حضرت زيد بن علي بن حسين (رض) سره يې بيعت وکړ، او بيا يې دی پرېښود. د دی د شيخينو تبرا کوله (غياث).

(۲۱۷) رافـضـي يـې پـه دا هـسـي اعـتـقـاد کـړم
پـه درست سوات يې په تکفير په رفض ياد کړم[۱]

(۲۱۸) د صديـق او د فـاروق پـه عـشق کي طاق يـم
د عـثـمـان او د حـيـدر بـنـده قـلـماق يـم[۲]

(۲۱۹) آل اولاد د پـــاک رســـول واړه مـــنـــمـــه
امـــامـــان نـــبـيـــان هـــم ټول واړه مـــنـــمـــه

(۲۲۰) د يـزيـد پـلـيـد پـه کـار بـانـدي لـعـنـت دی
چـــي د آل ســـره يـــې کـــړی شـــرارت دی[۳]

(۲۲۱) د بـد ذات مـکـر پـه عـلـم کـي لا بـد شـي
حـبـشـي چـي پـه مـخ خـال کښېږدي لا بد شي[٤]

* * *

(۲۲۲) يـو کـتـاب دی "درويـزه" سـره جـوړ کـړی
د سـوات خـلـک يـې لـه کـل عـامـه موړ کـړی[٥]

۱. تکفير: بل څوک کافر ګڼل او کافر کول.

۲. مراد حضرت ابو بکر (رض) لومړی خليفه او حضرت عمر فاروق (رض) دوهم خليفه دی په دوهمه مسرۍ کي قلماق د ترکۍ قبيلې نوم دی يعني د خلفاوو داسي مريی يم لکه قلماق.، پخوا به د قلماقو ترکانو څخه ځينې ښکلي زلمي د مريي په توګه پلورل کېدل.

۳. يزيد د معاويه زوی د اموي کورنۍ دوهم پاچا و (٦٠ - ٦٤ق).

٤. يعني د بد ذاته سړي مکر او چم. په علم او پوهي کي ضرور پيژندل کيږي. لابد: د بې په پيښ خامخا او هرو مرو.

٥. ار: خلق کل عالم موړ کړی؟ بله نسخه: خلق يې له کل عالم موړ کړي. د متني ډول صحيح ښکاري. اخند درويزه د ګدای بن سعدي زوی (۹٤۰-۱۰٤۸ق) د پښتو قديم ليکوال د مخزن الاسلام پښتو او ارشاد الطالبين او تذکرة الابرار او نورو کتابو مؤلف چي د مغولو دوست او د پير روښان سخت مخالف او يو قشري متعصب اخوند و. مګر په پښتنو کي يې ډېر عزت درلود او خلکو مانه. ځکه چي د درويزه د پيروانو او د خوشحال خان تر منځ فکري او سياسي اختلاف و، نو په سوات نامه کي يې درويزه غندلی او تر انتقاد لاندي کړی دی. د دغه اختلاف په منځ کي چي ځينې عقيدوي درنې خبري هم پکې دي، زه دلته څه نه وايم مګر د

(۲۲۳) نا معقول، مجهول بیان پکې بې ځایه
پکې بد د سید وایه، یزید ستایه[۱]

(۲۲٤) دا احوال به په بل فصل کې اظهار شي
په مطلب نظر لرم چې در اشکار شي[۲]

(۲۲۵) ناګهانه چې د ما په نظر کښېوت
په دا حرف په دا ویل مي نظر پرېوت

(۲۲٦) چې لعنت به په یزید باندې وایي نه
چې په رفض کې غره بې حده دي نه[۳]

(۲۲۷) د حسین په مرګ یزید کله راضي و
بلکې دی د ده د خون متقاضي و

(۲۲۸) امرګان یې د حسین په مرګ قصاص کړل
زه حیران شوم د یزید په هسي خاص کړل[٤]

---

ادبي پلوه یې پښتو ته ګټه رسولې او په نتیجه کې یې د پیر روښان خیر البیان او د اخوند درویزه مخزن او د خوشحال خان دغه سوات نامه او ځیني نور انتقادي آثار را زیږولی دي، د رفض او تلعین او د امان حسن (رض) د شهادت او د یزید بن معاویه په باب کې د اخوند درویزه او خوشحال خان عقیدوي اختلاف چې په دې بیتو کې ښکاره شوی دی پخپله په دوی پوري اړه لري (که څوک غواړي د مخزن پنځم مخ دي وګوري) مګر دلته د خوشحال خان انتقاد د مخزن اسلام پر ادبي ناوړو باندې د پښتو ادب د نقد په تاریخ کې ډېر دروند مقام لري، او یو ګټه ور اثر ګڼل کیږي او د مخزن ادبي کمزورۍ د غور وړ دي (د خیرالبیانه سره).

۱. په دې بیت کې هم (وایه، ستایه) التفات دی له مخاطبه غائب ته.

۲. ار: د دواړو مسریو قافیه اشکار ده. مر:لکه متن.

۳. وایینه: دینه دواړه فعلونه په آخر کې د ترنم (نه) لري، نافي نه دي.

٤. مر: امروګان. ار: امرګان یعني امیران او سرداران چې د هند په مغلیه دربار پوري تړلي وو. او په پښتو کلاسیک ادب کې امرایان=امراګان هم راغلي دي. چې تلفظ به یې د الف په پیښ وي. اما قصاص د یوه وژلي د مرګ په بدله کې قاتل وژل یا د ناقصو کړو اندامو په بدله کې هغه اندام ور ناقص کول. د دې بیت په لومړۍ مسرۍ کې کړل ماضي جمع غایب او د دوهمي مسرۍ کړل مصدري معنا ورکوي یعني کړن او کول.

(۲۲۹) بیا یې دا و پکي کښلي ده، له دینه
چې په آل به رافضي درود وایي نه[۱]

(۲۳۰) غه جاهل ملا چې دا کتاب وکښلی
ما په دا خبرو دی و، ډیر ښکنځلی[۲]

(۲۳۱) مخامخ یې دا خبري کړې نمایي
چې ته هم سکه رافضي یې، چې دا وایې![۳]

(۲۳۲) رد بدل د دې خبري ډیر مذکور شو
دا مذکور په واړه سواتو کي مشهور شو[٤]

(۲۳۳) هغه نیم ملا روان شو و میان نور ته
خس خاشاک یې سره ولوستل تنور ته[۵]

---

۱. یعني د دین په حواله یې دا پکښي کښلي و چې رافضي به یوازي پر آل محمد (ص) درود وایي. نه: تر دې فعل وروسته د ترنم لاحقه ده.

۲. غه د هغه ضمیر اشاري مخفف شکل دی. دلته مراد اخوند درویزه ندی بلکي یو بل ملا دی چې د مخزن کاتب به و ځکه چې په دغه کال (۱۰۸٦ق) درویزه ژوندی نه و او نه د درویزه په مخزن اسلام کي دغسي تصریحات شته. ښایي په دغه نسخه کي به یوه بل متعصب سړی یا دغه جاهل کاتب لاس وهلی وي. او څه نامشروعې خبري به یې پر اضافه کړي وي چې خوشحال خان دونې عندلی دی.

۳. سکه: د سین په سکون د تاکید په ډول د (خو، نو، ځکه) پر ځای استعمالیږي. خوشحال وایي: که د کښلیو د دیدن مینه ګناه ده ـ سکه خوشحال خټك درست عمر جنایت کا (کلیات ٤ قندهار)

٤. په واړه سوات کي مشهور شو؟ په دې ډول د بیت د وزن یوګړ کمیږي مګر که مشهور د (م،ش) په زور ولولو.

۵. ار: سره ولوستل؟ دلته لوستل=لونل: تیتول او پاشل او ارتاوول دي. یعني هغه نیم ملا، د میان نور د قهر تنور په خس و خاشاک ښه پسې تود کړ.

(۲۳٤) سرې لمبې د میان نور په کور شوې بلي
نه و ځوک چي يې اوبه کړي باندې تلي [۱]
(۲۳۵) ملایان شیخان يې واړه سره ټول کړه
کړه يې واړه په دا وير په دا اشول کړه [۲]
(۲۳٦) میان نور وې چي "اخوان" زموږ امام دی
درست مخزن پرې نازل شوی په الهام دی
(۲۳۷) په مخزن باندې چي بد وايي کافر دی
د کافر قتل، په شرع معتبر دی
(۲۳۸) چا به دا وې: چي لعنت په یزید وايي
رافضي دی، چي دوازده امام هم ستايي
(۲۳۹) چا به دا وې: نه په توره د کشتن دي
رافضي په سرو لمبو کي د سوختن دي [۳]
(۲٤۰) چا به دا وې: چي د ملکه د ويستو دي
چا به دا وې: توبه ده، د ويشتو دي [٤]
(۲٤۱) یوه لويه هنګامه شوله بر پايه
چي يې زړه، هسي خپرې په ما وايه [۵]
(۲٤۲) ملکان د یوسفزو لکه خرونه
په ګندګي سره لړلي خولې، سرونه
(۲٤۳) نه يې علم، نه دانش، نه فهم، پوهه
خو دوستي د درويزه باندې انبوهه

۱. تلول: درې توري يې زور لري. تويول بهول. يعني ځوک نه و چي اوبه پر تويې کړي.
۲. ار: وير په دا ګچ ګول کړه؟ مر: لکه متن. او دا صحيح دی ځکه چي اشول چيغو او نارو ته وايي. خوشحال خان ويلي دي: د خوشحال د درد علاج په يوه خداي دی ـ چي له درده سره تل شوري، اشول کا.
۳. ار: رافضي په سرو لمبو کي سوختني دي؟ مر: لکه متن.
٤. يستو: ايستل، اخراج. ويشتو: ويشتل، رجم.
۵. وايه: دلته التفات دی له مخاطبه غايب ته.

(۲٤٤) پــه ويــل د درويــزه عــقــيــده ځومــره؟
لــکــه عــيــن پــه آيــت، پــه حــديــث هــومــره

* * *

(۲٤٥) درويــزه چــي بــيــان کــړی خــپــل کــتــاب دی
نــوم يــې مــخــزن الاسرار(؟) کړی جناب دی [1]

(۲٤٦) هــر بــيــان يــې نــامــوزون، مــجــهــول، بــې رنــګــه
خــالــي پــاتــو لــه دانــشــتــه، لــه فــرهــنــګــه

(۲٤٧) کــه يــوه مــســره پــه شــل، بــلــه پــه ســل ده
نــا مــربــوطــه، نــا مــوزونــه، پــه ويــل ده [2]

۱. مخزن الاسرار د نظامي فارسي منظوم مثنوي دی. د درويزه پښتو کتاب په مخزن السلام يا مخزن اسلام مشهور او خورا ډيري خطي نسخې يې شته. چي په هند کي مکرر چاپ شوی و. او په ۱۹۶۹م کال د پيښور اکاډيمۍ د ښاغلي تقويم الحق کاکا خيل د مقدمې سره يو ځاي چاپ کړ. د خوشحال خان دغه انتقادي نظر د مخزن اسلام پر ادبي خوا دی. که نه نو د مخزن اکثر بحثونه د اسلامي فقه او عقايدو له کتابو څخه را اخستل شوي دي مګر دا نده معلومه چي دغه کتاب نو ولي خوشحال خان مخزن الاسرار بللی دی؟ مخزن السرار خو د نظامي ګنجوي فارسي مثنوي دی چي د ۵۷۰ق په شاوخوا کي نظم شوی دی.

۲. ار، مر: يوه مصرعه؟ په پښتو يې مسرۍ يا مسره بولي. رښتيا هم دا ده، چي مخزن نه پوره نظم ښکاري او نه نثر. مسرۍ يې ظاهراً فرق لري خو په پاي کي سجع يا قافيه راوړي لکه: ”امام عمر نسفي هسي ويلي مبرهن دي ـ چي صوفيان د حق دوستان دي هم د زړه په پاک کردن دي“ (مخزن ۵۸) که دغه دوې مسرۍ وتلو نو لومړۍ (۱٦) او دوهمه هم (۱٦) سپڼ لري مګر تر دې وروسته مسرۍ ګډې وډې سره ليکل شوي دي چي ظاهرا پيېلی نظم نه ښکاري مګر که په دقت لکه اوسنۍ نظمونه هره مسرۍ جلا جلا وليکو ځيني د سپڼ (سيلاب) په حساب برابريږي. خو خوشحال خان د خپل فصيح شعر په تول د مخزن ليکونه هم تلل نو ځکه سم په نظر نه ورغلل او سخت انتقاد يې پر وکړ.

(۲٤۸) قــافــیــه یــې لام و دال ســره وهــلــی:
پــه ردیــف کــي یــې نــون واو ســره پــېیلی [۱]
(۲٤۹) قــصــیــده د "بــو صــیــري" تــرجــمــه کړې
عــربــي یــې تــر پــښتــو مــضــحــک راوړې [۲]
(۲۵۰) هــر هــر بیت د قــصــیدې چي در مــرجان دی
پــه پــښتــو کــي تــر اوربــشــو لا ارزان دی

۱. لکه بام او باد چي د بیتو په پای کي راوړي. یا نون ـ واو په یوه ردیف کي لکه نان ـ ناو، یا پاڼ ـ پاو.
۲. بو صیري: اول حرف پیښ او صاد زیر لري. بو صیر د مصر په بني سویف کي یو ځای دی. شرف الدین او عبدالله محمد بن سعید بن حماد (۶۰۸-٦۹٤ق) عربي شاعر دغه ځای ته منسوب و چي د شعر دیوان یې چاپ شوی دی. د ده یوه میمیه قصیده البرده خورا مشهوره ده چي ګرده ۱٦۲ بیتونه کیږي او دا یې هغه وخت نظم کړه، چي د ګوزڼ رنځ (فالج) نیولی و. او محمد (ص) یې په خوب ولید چي هغه خپل مبارک لاس پر سر ور تېر کړ، نو د ده رنځ ښه شو. دا قصیده د خدای د استائېي په مدح او سیرت او نفس په غندنه او په دعا کي ویلې شوې ده، چي لومړی بیت یې دا دی: امن تذکر جیران بذي سلم ـ مزجت دمعاً جري من مقلة بدم (کشف الظنون ۱۳۳۱ـ الاعلام ۷ر۱۱). دا قصیده په عربي او نورو شرقي ژبو ترجمه او شرحه او تضمین شوې ده. په لسو کتابونه پر کښل شوي دي، او د اخوند درویزه په مخزن کي هم، دوهم بیان (ص ۹-۳۱) د دې قصیدې پښتو ترجمه ده. چي داسي شروع کیږي: ګوندې ستاذي سلم یاران یادېږي ـ ځکه اوښکي دي له وینو ګډې وڅي د باران په دود وربېږي (ص۱۰). په پای کي وایي: دا کتاب مي عربي و، د نبي صفت کړی محمد بوصیري دي ـ دې فقیر ځني پښتو کړ ـ هر چي یاد یې په دعا کا، هغه کس دي هم په دین هم په دنیا نه هیریږي (ص۳۱). د دې قصیدې ترجمه د پښتو په لیکلي ادب کي د غور او پرتلې او کره کتني وړ ده چي لومړی انتقاد یې هم د خوشحال خان په دغو بیتو کي دی، او پر لفظي او ادبي ځنګ یې انتقاد کړی دی، نه د اصلي قصیدې پر موضوع او معنا.

(۲۵۱) معما د "آذري" ترجمه کړې
تصوف یې و عالم وته نومړې [1]
(۲۵۲) ترجمه د "شاه ناصر" یو څو اشکاله
و عالم ته جوړه کړې له مقاله [2]

۱. نورالدین حمزه آذري بن عبدالملک طوسي د فارسي متصوف شاعر او شیخ دی چې څو کتابونه یې تالیف کړي او د شعر دیوان هم لري. د ۸۲ کالو په عمر په ۸٦٦ق کال مړ او په اسفراین کي ښخ شو (حبیب السیر ٤ر٦١ مجمع الفصحاء ٤ر٨) د آذري ځیني اشعار معما غوندي دي، چې معنی یې ښکاره نه ده. اخوند درویزه په مخزن کي د ده یو معما غوندي بیت: در ته جلباب عشق مست دوشه خفته اند ـ مست نگردي بعین عین بلا گفته اند. داسي ترجمه کړی دی: "د شاه تر چادر لاندي دوه مست شاهان اوده دي سکه مستي یې په عین مکره چې د زلفو کاته یې بې جلاده نه دي" (مخزن ۱۱۰) د دې بیت اصل او پښتو ترجمه مبهم دي، چې هر څوک به یو راز مطلب ځنې اخلي. خو درویزه د تصوف رنګ ور کړی دی او خوشحال خان هم پر دغه باندي په دې الفاظو انتقاد کوي چې: دغه معما د تصوف په څادر کي نغښته شوې ده! اصل او ترجمه یې دواړه مبهم دي.

۲. شاه ناصر: مراد حکیم او لیکوال او نقاد مبلغ ناصر خسرو بلخي (۳۹٤-٤٨١ق) دی. چې د فارسي مشهور شاعر ګڼل کیږي. د ده فارسي سفرنامه هم مشهوره ده، د بدخشان په یمګان کي ښخ دی. دیوان یې څو وار چاپ شوی دی او ډیري خطي نسخې هم شته. اخوند درویزه په مخزن کي د ناصر خسرو له یوې قصیدې څخه چې ګرده ٤٦ بیته ده دوه بیتونه را نقلوي:

بالای نه سپهر دو گوهر مدور اند
کز نور او دو عالم آدم منور اند؟
هستند، نیستند، نهانند و آشکار
چون ذات ذوالجلال نه جسم و نه جوهراند؟

په دې قصیده کي ناصر خسرو (جان-خرد) دوه اسماني عنصره ستایي "جان و خرد رونده بر این چرخ اخضرند" او اخوند درویزه یې داسي ترجمه کوي چې اصل یې خورا فصیح او ترجمه یې ناوړه ده، نو ځکه خوشحال هغه "و عالم ته جوړه کړې" ګڼي او انتقاد پر کوي: "په نه سپهر باندي دوه ګوهره دي ځلیږي، سکه په نور د هغو دواړو، دا آدم له دواړه کونه پرتاویږي ـ نه جسم نه جوهر دي

(۲۵۳) مسئلې يې نظم کړي په پښتو دي
درته څه وايم چې څه دي؟ د لوستو دی؟ [1]
(۲۵٤) په داسي شان کتاب يې مباهات دي
د جامي تر "هفت اورنګ" ورته ناويات دي [2]
(۲۵۵) ګنده پز، د ګنده خور سره جوړيږي
خاص په خاص، او عام په عام ويل خوښيږي
(۲۵٦) په حيرت به واړه ګوتي وچيچلې
د "اخون" په "مخزن" چا ګوتي کښېښولې [3]
(۲۵۷) هر سړی چې په مخزن باندي څه وايي
په دنيا کي تر ساعته به څوک پايي؟

---

او معنی يې لکه خدای هسي رغيږي (مخزن ۱۱۱). د ناصر خسرو ګرده قصيده په (ديوان ناصر خسرو ص ۲٤۲ کي) راغلې ده (د تهران چاپ ۱۳۵۳ش) چي هم په ادبي لحاظ هم په معنا او مفهوم کي خورا غوره ګڼله شي.

۱. په فقهي اصطلاح مسئله د فقه يا عقايدو يوه خبره ده. په پښتو مسئله کول د فقيه هغه حالت دی چي ناست وي او خلک پر را ټول وي او دی ديني خبري ورته کوي. د بستو دي؟ په ار، مر دواړو کي دغسي ليکلي دي؟ ښايي چي داسي وي: د پښتو دي يعني د پښتلو او بحث وړ، يا د يستو=ايستلو وړ.

۲. مباهات: فخر، سر لوړي چي په ار کي مهابات؟ چاپ سوي دي. ناويات: ګران، نازنين، عزيز. مولوي عبدالرحمان جامي د نظام الدين احمد دشتي زوی د هرات مشهور صوفي، شاعر، عالم او مفکر دی (۸۱۷-۸۹۸ق) چي د ده له منظومو آثارو څخه هفتو رنګ (د بنات النعش اوه ستوري شمالي قطب ته نږدې) د دغو اوو کتابونو مجموعه ده: (۱) سلسلة الذهب (۲) سلامان او ابسال (۳) تحفة الاحرار (٤) سجة الابرار (۵) يوسف و زليخا (٦) ليلی و مجنون (۷) خرد نامه اسکندري. هفتو رنګ د نظامي ګنجوي او امير خسرو دهلوي د خمسو په ډول ويله شوی او اوډل شوی دی چي شعر يې ډير خوږ او د ادبي ارزښت وړ شميرل کيږي. فکري او حياتي اړخونه يې هم ځلان دي.

۳. ګوتي کښېښول يا ګوتي ايښوول: انتقاد کول=خوشحال خان بله اصطلاح ګوت منډي.

(۲۵۸) مـلـکـان، شـیـخـان یـې واړه سره ټول کـړه
پـخـپـل سـحـر پـه افسوس یې ګیچ او ګول کړه
(۲۵۹) یـو میـان خـان و، بـل مـانـکـي و، بـل سنګر و
یـو سـنـګر څه خـو پـه پـوهـه کـي بـهـتـر و [۱]
(۲٦۰) د لـنـګر خـټک پـه کـلـي کـي زه نـاسـت وم
فـراغـت د تـوت تـر سیوره لاندي نماست وم [۲]
(۲٦۱) دا سـګان را لـره راغـلـه، زه یـې ویـښ کـړم
پـه لـیـده او پـه راتـله یې پـه تـشـویـش کـړم
(۲٦۲) پـــه خـــنـــدا یـــې راتـــه ووې دا خـــبـــره:
اوس تـرو پـاڅه خـوشـحال خـان زوره وره! [۳]
(۲٦۳) په درست سوات دي غوغا ګډه کړه، ته خوب کړې!
نـه دې غـم، نـه دې پـروا، نـه تـلاتـوب کړې! [٤]
(۲٦٤) مـیـا نـور در لـره راغـي نـاسـت پـه رود دی
خـبـرولـو لـره راغـلـو د مـوږ دود دی: [٥]
(۲٦٥) چـي دعـوا د چـا پـه مـنـځ کـي شي بـنـیـاده
مـلـکـان یـې سـره ژغـوري لـه فـسـاده
(۲٦٦) یـا ورځه و مـیـان نـور وتـه ځواب کـړه
یـا قـبـول د درویـزه "مـخـزن" کـتـاب کـړه

۱. میان خان او مانکي او سنګر درې سره د سوات د یوسفزو ملکان وو.
۲. ار: د دواړو مسریو پای: ناست وم. مر: نماست وم؟ ښایي چي صحیح ډول یې ملاست وي یعني غځېدلی، بیده، آرام کړی.
۳. ار، مر: ترو پاسه؟ مګر پاسېدل او پاڅېدل فرق لري. دلته به پاڅه (ولاړ شه) صحیح وي.
٤. ار، مر: طلاطوب؟ نه پوهیږم چي دا ولي په عربي (ط) لیکلي. تلاتوب خو پښتو کلمه ده یعني بې قراري، نا آرامي. خوشحال وایي: په درسته ورځه چي تلاتوب کړې ـ د دنیا چاري په څه آشوب کړې!
٥. یعني د سوات د رود پر غاړه ناست دی.

(۲٦۷) د درست سوات د ملايانو دا رضا ده
چي قبول دي کا دا کار، فايده هم دا ده
(۲٦۸) ما وې: دين د محمد دی ما منلی
بې قرآنه بل کتاب دی چا منلی؟
(۲٦۹) درويزه نه مجتهد دی، نه امام دی
دی هم خام، تاسي هم خام،مخزن هم خام دی
(۲۷۰) ملايان د سوات، همه زکات خواره دي
په دانش، په دين، په علم خبر څه دي [۱]
(۲۷۱) وې يې دا ځواب، د غشي د ناوک دی
سکه ترو پاځه، ميان نور هم درته ډک دی [۲]
(۲۷۲) ملا مي وتړله زه هم ور روان شوم
يک تنها مواجهه په ډير خصمان شوم[۳]
(۲۷۳) چي غريبي درته، وغړيبي له سګه
که خلاصي ور ځني نه وي، باندي لګه [٤]
(۲۷٤) مخامخ وبله کښيناستو په قهر
په خبرو مو ښکاره کړو سره زهر
(۲۷۵) ملکان، شيخان، علمان واړه سره شول
د خپل لوري ننګ يې واخيست مسخره شول [٥]

۱. ار، مر: زکوة خواره.
۲. ار، مر: سکه ترو پاسه؟
۳. مواجهه: يو بل ته سره مخامخ کېدل.
٤. ار: چي غريبي ورته وغړيره لکه سګه؟ ښاغلی کامل ليکي: دغسي به شعر معنا نه ښندي. لکه چي موږ وليکلو (متن) معنا يې واضحه ده: يعني چي سپی درته وغريبي ډډ وکړه (ترې وغړيره) او که نه په هيڅ شان ترې خلاصي نه وي، نو ته پرې هم ور ولګه ويې وهه. په کاڼي، لوټه او که په لته وي (مرصع ۱۲۲٦).
۵. سره شول: يو د بل پر خوا او ملګري شول. د سره دواړه اول توري زورونه لري.

(۲۷٦) چې به ما ورته ویل کول د مشکو
ابلهانو به ویل کول له پشکو [۱]
(۲۷۷) نه یې علم، نه یې عقل، نه یې پوهه
فضیلت ور ځني لري، په ډېر کروهه
(۲۷۸) څوک حکم، منصف حاضر نه وو په میان کي
چي په حق په باطل پوه شوی په بیان کي [۲]
(۲۷۹) ملکان په ننګ د خپل لوري ولاړ وو
عالمان، شیخان په پور عضو ولاړ وو [۳]
(۲۸۰) خدای د خپلو صادقانو سره مل وي
تر هر چا د صادقانو کار افضل وي
(۲۸۱) شیخ میان نور پخپله کښېوت په تقریر کي
ما و ده و، چوټ ورکړی په تحریر کي [٤]
(۲۸۲) کتابت یې لا پخوا و، راته کښلی
مشتمل په جهالت و، نا پسندلی
(۲۸۳) نه یې خط، نه یې املا، نې یې انشا وه
فضولي یې خپله کښلې په ملا وه [٥]
(۲۸٤) د سلوک د تصوف، واړه لافونه
په املا د کاف په ځای، واړه قافونه [٦]

---

۱. پشک: پچه، مراد یې بې معنا خبري دي.
۲. پوه شوی: پوه شوای، د شین په سکون، د واو په فتحه.
۳. ار، مر: په نور عضو ولاړ وو؟ قافیه هم ورانه ده، او معنا هم نه لري! د متن ډول زما سمون دی، یعنې عالمان او شیخان له قهره ډک ولاړ وو. ښایې چي دوهم ولاړ د واو په کسره وي، د قصد او آهنګ په معنا.
٤. چوټ: حمله، یورش، چوټ ورکول یعني حمله پر کول، چي خوشحال خان دمخه پخپلو خطو کي پر میان نور حملې او اعتراصونه کړي وو.
٥. په ملا: برملا او ښکاره، د میم په فتحه.
٦. د یوسفزو ځیني اخوند نمایه خلک هر کاف، قاف وایي مثلاً چکړ=چقر، چاکو=چاقو او نور.

(۲۸۵) همګي ثنا صفت له خپله ځانه
ترهات يې په څو رنګه، په څو شانه [۱]
(۲۸٦) ما ځواب د کتابت و، ورته کښلی
په هغه ځواب دی درست و پوهېدلی
(۲۸۷) ما وې: ته لکه ګيدړ په خم کي شين يې!
خو هم بيا هغه ګيدړ يې، که رنګين يې! [۲]
(۲۸۸) ښاپېرک غوندي په شپه په هوا درومي!
چي سبا په تا راځي هزيمت مومي! [۳]
(۲۸۹) په خطونو کي چي ځان و ماته ستايې!
ما هم پېژني چي څوک يم دا څه وايې؟
(۲۹۰) خپل صفت دې يوسفزيو وته وايه!
زه دې پېژنم چي څه يې، ځان مه ستايه!
(۲۹۱) چي دا هسي احول چشم، بد خصال يې!
د يزيد د در دربان، يا د دجال يې! [٤]
(۲۹۲) که څه شرم څه حيا د ګيدي خر وي
بس و دا هومره ويل که يې جوهر وي [٥]

---

۱. ار: طرهات! مګر ترهات په اول پيښ او دوهم مشد د مفتوح باطلې خبري او ناخوالي دي (صراح).

۲. اشاره ده د مولوي جلال الدين بلخي د مثنوي هغي قيصې ته چي وايي: آن شغالک رفت اندر خم رنګ الخ. وايي چي يو شغال د رنګ په خم کي ولید، چي راووت ځان رنګين ورته ښکاره شو. ويل يې "که منم طاوس عليين شده" (وګورئ مثنوي، دريم دفتر ۱٤۸مخ د تهران رمضاني ځاپ ۱۳۱۹ش).

۳. ار: شاپوک. د فارسي له شب پره=شوپوک څخه اخستل شوی دی. هزيمت ما ته.

٤. احول: چپک، هغه چي يو شي دوه ويني.

۵. ګيدي: د ګاف او دال په زير احمق، ناپوه. اکثر د خره سره د غندني په توګه صفت وي.

(۲۹۳) د عـروض د عـلـم فـن مـي و هـم کـښلـی
پـه "مـخـزن" د مـغـلـط قـسم ور کـښلی [۱]

(۲۹٤) د دانـش ویـل مـي ده تـه لـکـه بـاد وو
لـه هـوا یـې واړه خـپـل ویـل پـه یـاد وو [۲]

(۲۹۵) دا یـې واړه تـر عـالـم پـوري شـهـرت کـړه:
دانـسـتـه یـې هـومـره مـکـر خـدیـعـت کـړه [۳]

(۲۹٦) چـي دا هـومـره دعـوا نـه کـړمـه بـرپـایـه
د "مـخـزن" بـه دا خـبـره شـي بـې ځایـه [٤]

(۲۹۷) چـي خـبـره د "مـخـزن" بـې ځایـه کـیـږي
نـور د مـا قـدر و قـیـمـت پـه مـلـک کـمـیـږي

(۲۹۸) درسـت د نـفـس پـه هـوا، غـرق و سـر تـر پـایـه
کـه نـه ولـي بـه دعـوا کـړه ده، بـې ځایـه

(۲۹۹) چـي انـصـاف یـې لـه ازلـه پـه نـصـیـب وي
پـه دعـوا کـي راضـي کـلـه پـه تـکـذیـب وي؟ [۵]

---

۱. ار: مغلظ قسم وو کښلی؟ مر: مغلط قسم ور کښلی؟ که مغلط قسم د قاف او سین په زور ولولو، لکه چي په (ار،مر) دواړو کي چاپ شوی دلته نو ټینګ سوګند څه معنا لري؟ نو ما په متن کي مغلط قسم په طا او د قاف په زیر کښېښنو یعني خوشحال خان پخپل لیک کي و میان نور ته د مخزن د عروضي غلطیو په باب کي هم څه ور کښلي وو. او دغه یې د مخزن مغلط قسم (یعني غلطه کړې برخه) ګڼلې وه.

۲. دلته هوا د غرور او ځان ځانۍ معنا ورکوي.

۳. خدیعت یا خدعه تېر ایستنې او چل ول ته وایي.

٤. ار: هومر. مر: هونبره.

۵. تکذیب: یو څوک یا یوه خبره دروغ ګڼل.

(۳۰۰) کار د خصم، د خپل خپسر و حق کوي ته:
دواړه یو، دي جوړوي د حق و سوی ته؟ [۱]
(۳۰۱) ناحقژن، پخپل غرض باندي ولاړ وي
حق، انصاف، حساب یې واړه له زړه لاړ وي: [۲]
(۳۰۲) مګر خدای یې په سر سازه کړه څپېړه:
د کاذب له خولې نه وځي وینا غوېړه [۳]
(۳۰۳) الغرض چي یې خبره کړه آغازه
ډېر یې وویل د خپلي نیاله نمازه
(۳۰۴) بیا یې وستایه نیکه په څو څو رنګه
مستمع شو درست عالم ورته تر درنګه
(۳۰۵) خدای یې وتړله ژبه له افسونه
دا وینا د ده د ژبي شوه بیرونه:
(۳۰۶) موږه کله وایو دا چي یزید ښه دی
په "مخزن" کي درویزه ستایلی نه دی
(۳۰۷) بل د موږ "مخزن" نه شعر نه بیان دی
بیان شوی نظم نه دی، په بل شان دی

۱. ار: د خپل خپسر د حق ګویی ته؟... د حق سویی ته؟ مر: و حق ګویی ته... د حق سویی ته؟ دواړه دغه نسخې د وزن او معنا له رویه سمي نه ښکاري د متن معنا داسي ده: چي د انصاف خاوند بل څوک نه دروغجن کوي او د خپل خصم (مقابل سړي) او د خپسر (خپل سر=خپل ځان) کار و هر حق ګوی ته یو راز وي. او د حق و خوا ته جوړ او سم وي. په بل بیت کي د ناحق سړي حال ښیي.
۲. ار: له زړه ولاړ وي دلته که ولاړ=لاړ ووایو، نو به واو ساکن وي.
۳. څپېړه: سیلی، چپلاخه. غویږه: غوړې غوړې خبري د دلاسا او تملق خبري. غوړ ژبی: متملق او چاپلوس، یعني چي کاذب د خدای په چپلاخه ووهل شي، نو یې تر خوله غویږه خبره را ووزي، لکه په ۳۰۵ بیت کي چي د میان نور حال ښیئ.

(۳۰۸) کـه يې ګورې درست پـه شان د صحيفو دی
چـي راتـلـي بـه لـه اسمانـه، لـه هغو دی [۱]

(۳۰۹) پـه پـښتـو کـلام مـوزون دی بـيـان شـوی
پـه مـعـنـا کـي دګرګون دی بـيـان شـوی

(۳۱۰) هغه ځای چي د رښتيا مهتاب ښکاره شي
د کـتـانـو تـار او پـود، پـاره پـاره شي [۲]

(۳۱۱) د رښتـيـاو کـرامـت، لـکـه بـاران دی
د دروغـو سـحـر، دوړي د بـيـابـان دی

(۳۱۲) چـي د ده د خـولـې نـه، دا خـبـري وشـوې
تـه بـه وايې چي پـه هـر چا تـوی اوبـه شوې

(۳۱۳) پـوهـيـدم د مـا سـتـاره وه پـرې غـالـبـه
لـه هـيـبـتـه يـې دا ووتـه لـه ژبـه [۳]

(۳۱٤) کـه يـې بـيـا کـړه د افـسـون شـېوه آغـازه
سـود يـې نـه و، د مـا ژبـه شـوه پـرې سازه

(۳۱۵) مـا وې: بس د ما مقصود، مراد هم دا دی
مـدعـي پـه دا خـبـرو، خـود آګا دی

(۳۱٦) د يـزيـد سـتـايـنـه ګورئ پـه "مـخزن" کي
هـم مـخزن نـه دی، د شـعـر پـه هـر فـن کي [٤]

(۳۱۷) زه هـم دا خـبـره وايـم، خـلـقـه خـامـه!
خـود يـې وويـل، خـبـره شـوه تـمـامـه

---

۱. صحيفه: کتابګوټی او رساله. د اسماني و چي يو کوچنۍ رساله چي پر ځينو انبياوو نازلېدې. لويي مجموعې نه يې کتاب وايه او وړې ته يې صحيفه (کشاف اصطلاحات ۱ر۸۳۲) له هغو دی: يعني له وړو صحيفو سره شباهت لري.

۲. کتان هغه اودلي، کالي و، چي د پخوانو په عقيده که د سپوږمۍ وړانګي پر ولويږي نو څيريږي.

۳. ستاره: د سين په سکون، هيبت، دبدبه، پرتم. په دې بيت کي قافيه "له ژبه" شعري ضرورت دی. کنه (له ژبي) سمه پښتو ده.

٤. يعني مخزن د شعر پر هيڅ فن برابر ندی.

(۳۱۸) چې هر څوک په دا خبره خبر دار شوو
چې کینه وځي، د روغي طلبګار شو [۱]
(۳۱۹) چې تر میان د مؤمنانو شدت بد دي
بل ستا نور غرض، تر دا دعوا ارشد دی: [۲]
(۳۲۰) ته په ننګ د پښتانه راغلې تر سواته
غوږ کانه کړه، د عالم په کم و زیاته
(۳۲۱) په دعوا به درست عالم سره ګډوډ شي
د لښکر په ټولول به فساد ګډ شي
(۳۲۲) د ما هم په دا مطلب باندي نظر و
بل مقصود مي و نظرته مختصر و [۳]
(۳۲۳) که نه دا پردې به ما کړې واړه خیري
یو ویښته مي به یې پرې نښه په بریري [۴]
(۳۲۴) چې خبر یې شوم له نقشه له طرازه
ما یې هم په بریره، وورژل څو پیازه [۵]
(۳۲۵) و مغولو وته کښل چې شیخ میان نور کړه
ما وې نور دا هسي مکړه ده منظور کړه
(۳۲۶) وې یې: نور مي له مغولو نه، توبه ده
هر چې ننګ د پښتانه، چار مي هغه ده

۱. شوو: په آخر مجهول واو: شدند=وشول جمع غائب.
۲. د نور غرض بیان په بل بیت کي راغلی دی.
۳. یعني نور مقصدونه واړه را ته ښکاریده.
۴. مر: کنه. ار: پرې نشه؟ اصل یې پرېښوول دي. نشه د شول له اصله ندی. یعني پر بریره به مي وېښته نه واي ور پرېښی.
۵. ار: له ترازه؟ ورژل=ورجل: ټوک ټوک کول، میده کول، علی خان وایي د مژکانو په توبرو زړونه ورجنی ـ تیغ، تبر د جانګذارو په لاس نشته. په بریره پیاز ورژل: راضي کول او دروغي چم ور سره کول.

(۳۲۷) د دنـــيـــا خـــبـــره نـــه وه، کـــار د ديـــن و
د مـــا زړه د مـــؤمـــنـــانـــو ســره ســپـــيـــن و [۱]
(۳۲۸) د مـــا روغـــه پـــه رښتـــيـــا، د ده دروغـــه
د مـــيـــان نـــور ســـره مـــي وشـــوه، هـــسي روغـه
(۳۲۹) فـــضـــيـــحـت، رسوا تـر کـوره پـوري ولاړ شـو
د وګړي اعـــتـــقـــاد ځنـــي ولاړ شـــو [۲]
(۳۳۰) چـــي مـــي ولـــيـــده يـــو هـــسي کـــږ زبـــان و
چـــي پـــه مـــکـــر، پـــه تـــزويـــر لـــکـه شيـطـان و [۳]
(۳۳۱) پـــه اعـــوذ مي د خداي پـه حـکـم خـوار کـړه
د شـــيـــطـــان ټولۍ مي واړه تـار پـه تـار کـړه [٤]
(۳۳۲) مـــا وې دی بـــه د مـــخـــزن غـــلـــطـي دور کـــا
دی لا نـــاســـت دی د مـــخـــزن سره سرور کـــا
(۳۳۳) بـــيـــا پـه څو رنګي تـعـظيـم د مـخـزن کـانـدي
غـــلـــطـــي يــې تـــرې ونـکښه لانـدي بـانـدي [۵]
(۳۳٤) مـــدعـــي ســـره د خـــداي دپـــاره بـــد يـــم
آلـــوده نـــه پـــه غـــرض نـــه پـــه حـــســد يـــم [٦]

۱. په تير بيت کي د ميان نور خبره تماميږي. په دې بيت کي د خوشحال خان خپله خبره ده.
۲. ار: لکه متن. مر: پورې لاړ شه... اعتقاد ور ځني لاړ شه. د متن د لومري ولاړ اول توری ساکن دی، د دوهم ولاړ، واو زور لري يعني د وګړو اعتقاد له ميان نوره څخه ولاړ شو (برخاست) او کم شو.
۳. ار: کژ زبان= کج زبان. د متن کږ زبان د کوږ ژبي مفرس شکل دی.
٤. يعني په اعوذ بالله (پناه غواړم په خداي، د ترټلي شيطان له لاسه) مي د ميان نور ډله پرِه کړه. مر: خوار کړو... په تار کړو.
۵. يعني د غلطۍ نخښه يې لاندي باندي نه پر وکښله يا يې لاندي باندي غلطي نه ځني ويستله.
٦. ار: نه په غرض او نه په حد يم؟

(۳۳۵) که په دا طور اور پورې په درست سوات شي
مګر هاله د ما سیله مکافات شي [۱]
(۳۳٦) بیخ بنیاد يې په جهان کي دوکښو دی
په جهان کي پاتو کله د پریښو دی
(۳۳۷) چي دا هسي عالمان هسي شیخان شته
په جهان کي بدان ډیر دي لږ نیکان شته
(۳۳۸) د دنیا حرام، حلال وبله ونغاړي
هغه واړه مدعي دي چي خدای غواړي[۲]
(۳۳۹) په دروغ په بې شرمي عمر تیر کړي
په روش د ګدایۍ يې مال ډیر کړي [۳]
(۳٤۰) د هغو به څه طاعت، څه عبادت وي؟
هغه کوم به يې د علم برکت وي؟
(۳٤۱) نمونځ، روژه، چي د ریا دپاره کیږي
له اسمانه به لعنت باندي وریږي [٤]
(۳٤۲) چي د خلق قبولیت يې په غرض وي
د هغه طاعت، طاعت به وي، مرض وي
(۳٤۳) چي په صدق، په اخلاص سره ادا شي
په یوه سجود ، جنت باندي روا شي
(۳٤٤) که هزار ساله سجود کړې بې اخلاصه
په دا هسي نمانځه نه وي غاړه خلاصه
(۳٤۵) شیخ میان نور چي خجل ورغی تر کوره
په دا خپل ویل پښېمان شو، راشه ګوره

۱. سیله: طرفداري، حمایت، مرسته.
۲. وبله: یو له بله.
۳. ار: د ګدایي مال.
٤. ار: مونځ.

(۳٤٦) هـر مـلـک سره ځواب د دې مـکـار دی
پـه کـمـي پـه قـصـد د مـا د کـاروبـار دی

(۳٤۷) د لـښکـرو پـه وتـلـو، اولـس سـاز شـي
بـیـا د ده لـه فـعـلـه، بـل فـعـل آغـاز شي

(۳٤۸) دا نـاقـص چي نـېښ هـمـیـش وهي په کار کي
ګوره څه شـی، د لـښکـر پـه کـاروبـار کـي؟ [۱]

(۳٤۹) یـوسـفـزیـه خـو د نـنـګ د نـامـوس نـه دي
څوک چي نـه کـا، د هـغـه سـرې پـه خـوله دي

(۳۵۰) کـه پـه خـولـه د مـیـان نـور نـه کـا لـښکـري
سـکـه پـه سر یې د لـښکـرو خـواري سـري [۲]

* * *

## فصل

(۳۵۱) هـغـه وخـت چي پـیـر روښان فـسـاد بـنـیاد کړ
پـښتـنـو ور سـره ټـیـنـګ کـار د فـسـاد کـړ [۳]

---

۱. ار: چي بیش؟ مر: نیش. بیش دلته معنا نه ورکوي.، نیښ لشه یا ډنګ وهل په کار کي خرابی پیدا کول. مخالفت او دښمني کول دي (کامل: مرصع ۱۲۲٦).

۲. سکه: نو، بیا، پس. خواري سري: خاک و کود. وګورئ بیت ۷۰.

۳. بایزید (پیر روښان) د عبدالله زوی په قوم اورمړ د پښتنو مفکر لیکوال مبارز لار ښوونکی (۹۳۱-۹۸۰ق) د پښتو خیر البیان او عربي مقصود المؤمنین او صراط التوحید او نورو آثارو مؤلف، چي د هند د مغولیه پادشاهانو سره ده او د ده کورنۍ د آزادي خواهۍ اوږده مبارزه وکړه. او د مغولو ګوډاګیانو دی تکفیر کړ او د ده حرکت یې فساد وباله. دلته خوشحال خان هم تر دغه ناوړه تلقین لاندي، دی په فساد غندلی دی، خو د پښتنو د آزادۍ جنګ تر خوشحال دمخه دغه پیر روښان نښلولی و نو دی موږ له نورو خلکو تېر ایستونکو پیرانو له ډلي بیلوو.

(۳۵۲) پښتانه په هغه دور پیر پرست وو
ځوک مرید د شاه عیسی، ځوک د سرمست وو[۱]
(۳۵۳) د روښان بخره ورکزیه، افریدي شول
هغه خوښ په رهزنۍ په عنیدي شول[۲]
(۳۵۴) د قاسم به بخره واړه غور په خیل وو
ډنګر پیر وته د بتو شیتک ایل وو[۳]

۱. شاه عیسی: میان عیسی د سند د بکهر له ساداتو څخه یو زاهد و چې په اټک کي اوسیده. او د ده یادونه د اخوند درویزه په کتابو کي شوې ده د ۹۸۰هـ حدود (وګورئ تذکرة الابرار و الاشرار ۲۶۱-۲۹۷). یو بل سید عیسی هم پیژنو چې د عبدالوهاب اخوند پنجو ورور و، ښايي چې دغه دواړه یو سړی وي. سرمست: په دې نامه څوک نه پیژنم خو یو ملا مست زمند د پښتو سلوک الغزات مؤلف او شاعر د اخوند څالاک توغي مرید او شاګرد پیژنو چې د ۹۵۰هـ په شاوخوا کي به زو کړی وي. او تر خوشحال خان لړ څه دمخه ژوندی و. ښايي دلته دغه مست مراد وي (وګورئ پښتانه شعرا ۱ر۷۷).
۲. ورکزي او افریدي د پښتنو دوه لوی قومونه په تیراه او کوهاټ کي اوسي چې د روښان پیر مریدان وو. عنیدي: عناد ګري، تربور ګلوي.
۳. ښايي چې مراد د شیخ قاسم بن شیخ قدم متي زی خلیل غوریه خیل وي (۹۵۶-۱۰۱۲ق) چې د پیښور په دواوه کي د قادري طریقې مرشد و. او د تذکرة اولیای افغان مؤلف دی (تذکرة الابرار ۲۵۵) یا به مراد اخوند قاسم د عبدالله پاپین خیل شنوار زوی وي. چې د پښتو فواید الشریعت مؤلف او د اخوند درویزه د ادبي مکتب غړی دی. او تر خوشحال خان لړ څه دمخه و. اما ډنګر پیر (پیر لاغر) زه نه پیژنم: دونه ښکاري چې د خوشحال تر عصر دمخه د بنو د شیتکو په قوم کي د خلکو پیر و. شیتک د ککي زوی او د کرلاڼ لمسی و. چې خټک او افریدي او زدراڼ هم د ککي او کرلاڼي لمسیان ګڼل کیږي (خورشید جهان ۲۳۹، مخزن افغاني ۲ر۹۰۵). ایل: مطیع، فرمانبردار. په قدیم ادب کي اېلايي د اطاعت او فرمانبردارۍ په معنا وه.

(۳۵۵) خــټک واړه بــوبــکــري، پــیـر مـنـصـوري وو
لــه بــداعــتــه لــه فــســاده پــه دوري وو [۱]

(۳۵٦) پـه مـذهـب کي درست خټک سني مذهب دی
امــا پــیــر ورتــه لــه جــهــلــه لــکــه رب دی

(۳۵۷) کـه پـه دا سـبـب کـافـر وي، ګونـدي ويـنـه
کــه نــه واړه پــه مــذهــب کــي ســنــي دينه [۲]

(۳۵۸) يــوســفــزيــه هــمــه واړه عــســيــايــي وو
مــلــکــانــو ســره ګډ بــه ســوابــي وو [۳]

(۳۵۹) قــاسـمـي، شاه عـيـسـايي سره پـه جنـګ وو
روښانــي پــيــر مــنـصـوري سـره دا رنـګ وو [٤]

---

۱. ابوبکر او پیر منصور دواړه تر خوشحال خان دمخه (د ۹۰۰ه حدود) د خټک پیران تېر شوي دي. چي د خوشحال خان له دغه بیته يې موږ پيژنو. خو دا چي خوشحال خان غوندي نقاد سړی د دوي پيروان "له بدعته او فساده ليري" ګڼي دا ښکاري چي دوی به ښه خلک وو. د اخوند درويزه په تذکره کي يو "ابوبکر قندهاري پير خټک" ياد شوی دی چي اصلا متي زی خليل او د شيخ کټه له کړوسيانو څخه و بابکر خېل متي زي ده ته منسوب دي. ښايي چي دلته به دغه سړی مراد وي اما پير منصور د پير عمر بابړ زوی او د بنون او پيښور تر منځ د خټکو پير و.

۲. مر: ګنه واړه؟ تر ګڼه دلته "که نه" سم ښکاري چي په (ار) کي چاپ شوی دی. په وينه (وی+نه) دينه (دی+نه) کي "له" د تلرنم او وزن لپاره نښلولی شوی دی.

۳. عسيايي:يعني د هغه شاه عيسی پيروان دی چي دمخه يې نوم په ۳۵۲ بيت کي راغی: عيسايي (د حضرت عيسی (ع) امت=نصراني) ندي. سوابي: سود خوري (وګورئ ۱۱۸ بيت).

٤. د شيخ قاسم سليماني غوريه خيل يادونه دمخه په ۳۵٤ بيت کي تيره شوه.

(۳٦۰) درویــــزه لـــه یـــوه لـــوریـــه را پـــیـــدا شـــو
په لېږ علم په دا ملک کي، لوی ملا شو [۱]
(۳٦۱) چـي يې حـال د دې عـالـم مـشـاهـده كـړ
خـپـل كـتـاب يـې پـه كـاغـذ مـسـوده كـړ
(۳٦۲) د روښان خـيـر الـبـيـان يـې ولـيـدلـی
هـغـه هـم مـجـهـول بيـان و نـا پـسـندلی [۲]
(۳٦۳) ده چي خوشي ميدان بيا موند سخنګوي شو
پـه ويـل كي يې چي زړه و، هسي تـوي شـو
(۳٦٤) هـغـه وخـت پـه پـښتـنـو كـي عـلـم نـه و
درويـــزه تـــر مـــجـــتـــهـــد ورتـــه لا ښه و
(۳٦۵) پـه مـذهـب سـنـي مـذهـب و، خـارجي شـو
د يـزيـد پـه سـتـايـش كـي مـارجـي شـو [۳]

۱. له دې بيته ښکاري چي درويزه پخپله په پښتنو کي نه و روزل شوي او له يوه بل (لوري) را پيدا شوی و (يعني د هند له خوا را استول شوی و) او دلته يې په پښتنو کي د (حال تر مشاهدې) وروسته د مخزن په کتاب لاس پوري کړو.
۲. د فصاحت او بيان په لحاظ او د پښتو ژبي د نثر او نظم په معيار، په رشتيا خيرالبيان مبهمي او ناپسدلي خواوي لري.
۳. خارجي: په ۳۷هجري قمري کال (٦۵۷م) حضرت علي (رض) او معاويه بن ابوسفيان تر منځ په صفين کي جنګ و چي ګرد، اويا زره تنه پکي مړه شول. تر يو سل او لسو ورځو ورسته دواړي خواوي په روښه راضي شوې او د حضرت علي له خوا ابو موسی اشعري او معاويه له پلوه عمرو بن عاص د حکميت (منځ ګړيتوب) لپاره وټاکل شوه. دې دوو منځګړو دا سره ومنله، چي علي او معاويه دواړه دي له خلافته خلع شي او مسلمانان دي په ګډه يو بل خليفه وټاکي. په دې واقعه کي ځني مسلمانان د حضرت علی پر خوا پاته شول چي "شعيه" وو. د شام خلکو د معاويه سره بيعت وکړ. يوه ډله نور مسلمانان وو چي ويل يې "لاحکم الا الله" دوی پر حضرت علی باندي خروج وکړ نو بې دوي "خوارج" وبلل چي مفرده کلمه يې "خارجي" ده او وروسته د نورو اسلامي هيوادو (او افغانستان) په تاريخ کي غټه برخه لري. او د دوي عقيدې هم خاصه ښه درلوده (وګورئ افغانستان بعد از اسلام ۸۷۷). په دوهمه مسرۍ کي مارجي يعني دا وروړ، يا

(۳٦٦) ملنګانو به یزید ته کړي ښکنځلې
درویزه به د یزید ډوزي بللې [۱]
(۳٦۷) خو د نفس او د هوا په کار یې مخ شو
ملنګان چې ورکېدل په ده به سخ شو [۲]
(۳٦۸) ملنګان یې واړه ویستل له ستواته
دم یې وواهه له کشف و کراماته [۳]
(۳٦۹) په دا فن یې د درست سوات عالم مطیع کړ
و عالم وته یې خپل کتاب بدیع کړ [٤]
(۳۷۰) هیڅ یې نه کاته د بدو و فساد ته
نقش یې کښیانوه په مکر خپل اولاد ته [٥]
(۳۷۱) "درویزه" د درویزې اوګره خوړلې
په دا مکر یې حلوا سره لړلې

سیطاني. خوشحال اخوند درویزه ځکه خارجي بولي چې درویزه هسي ویلي و: اوس دي هیڅوک پر یزید لعنت نه وایي، مګر له ګمراهانو چې به رفض غره دینه بې حده ـ دوی وایي دی د حسین په مرګ راضي شو، دی کافر شو. دا خبره بیهوده ده ولي صحیح خبره دغه دی چې یزید اهل قبله و مصلی و دولس امراء یې پر قصاص کړه. د امیر حسین (رض) په مرګ نا راضي و..." (مخزن ٥).
۱. ډوزه: خوشي او بیهوده خبره. ډوزي بلل: ناوړه خبره کول.
۲. سخ: خوښي، بخت. خوشحال وایي: سخ د آینې دی چې دي مخ وته تل ګوري یعني چه ملنګان د علي او حسین (رض) ستایونکي به له منځه وتل د ده به خوښي زیاتیده.
۳. یعنیي د کشف او کراماتو دعوا یې وکړه.
٤. دلته په وزني ضرورت د سوات سین ساکن ویل کیږي. بدیع: نوی او عجیب (غیاث).
٥. یعنی خپل زامن یې هم د پیرۍ او مریدۍ په فکر وروزل. لکه کریمداد چې هم پیر و.

(۳۷۲) چې یې توره وینځه هم نه وه دوړاندي
قچی قچی یوسفزیي شوې تر لاندي [۱]
(۳۷۳) یوسفزیه په دا کار کي بد کیشي کا
چې د هر یوه کم ذات سره خویشي کا [۲]
(۳۷٤) په هغه آوان اکبر پادشاه، پادشاه و
واړه خلق د بادشاه سره ګمراه و [۳]
(۳۷۵) شاه عیسی ته به یې وړې د زرو بدري
و بلوټ لره ور تلې د خلقو سدري [٤]
(۳۷٦) مریدي یې په کلاه په شجره ده
که پیري مریدي دا ده، مسخره ده [۵]

---

۱. د قاف په زیر یعني ډلي ډلي، ټولۍ ټولۍ (ظفر اللغات).
۲. له دې ښکاري چې خوشحال خان اخوند درویزه پښتون نه باله.
۳. جلال الدین محمد اکبر د همایون زوی د بابر پاچا لمسي (۹٦۳-۱۰۱٤ق) د هندوستان لوی پادشاه چې یو نوي غوندي ګډ (دین الهی) یې خپراوه او اسلامي علماوو نه مانه. درویزه وایي: لا رخنه د دین وه پاتي چې پادشاه زموږ اکبرو و ـ دی د نفس په لاره تلي، او له دینه بې خبر و (مخزن ۱۵۷).
٤. بدره: په اول زور او دوهم ساکن د زرو کڅوړه (برهان). بلوټ: په ډېره اسماعیل خان ضلع کي د یوه کلي نوم دی چې ښایي دغه مسرۍ به په ډنګر پیر پوري (د بنو د شیتکو) اړه لري، او سدره هغه شکرانه ده چې پیر یا بل چا ته یې کال په کال ورکوي. په سدری تلل: د دغي کالنۍ شکرانې لپاره په کورو ګرزیدل دي.
۵. پیر چې به څوک په مریدي نیوه، نو به یې خولۍ او د خپلي طریقې د تېرو پیرانو یوه شجره ور کوله، چې چا له چا څخه دغه طریقه زده کړې او را نقل کړې ده؟ دغه نومونه به دوني (شجرې) په توګه کښل کېده.

(۳۷۷) د روښان مـريـد بـه وارن شـو پـه يـقيـن کي
سـل فتـنې بـه يې پـيـدا کـړلې پـه ديـن کي [1]
(۳۷۸) درويـزه د نـا کـشيـسيـنو (؟) دين پر پاي کړو
خـارجي يې يـوسـفـزيـه، ځاى پـه ځاي کـړو [2]

۱. ار: درويشان مريد به وران شه په تعين کي؟ مر: درويشان مريد په وران شه په يقين کي؟ په دواړو ډولو دلته درويشان د درويش جمع سمه معنا نه لري، ځکه چي د دوريزه او روښان او نورو پيرانو بيان دی، زه درويشان (د روښان) ګڼم او سمونه يې کوم.

۲. ناکشيسينو؟: دا کلمه په (ار، مر) او خطي نسخو کي کټ مټ دغسي ده چي هيڅ معنا نلري. په دې بيتو کي د خوشحال خان شکوه دا ده: چي اخوند درويزه په لږ علم، ځان غټ او پيشوا جوړ کړي دی. او لکه خارجيان د اهل بيتو طرفداري نه کوي، او پر يزيد لعنت نه وايي. تاسي د خارجي مذهب لنډه قصه د ۳٦۵ بيت په پايڅوړ کي ولوسته. به لرغوني افغانستان (خراسان) کي چي حمزه بن آذرک خارجي په ۱۷۹ق کال خروج وکړ نو له ده سره ځيني خارجيان د جنګو پر ډګر ولاړ وو. او ځني خارجيان پر کليو او بانډو ناست خلک وو، چي دوی ته يې "خارجي قعدي" وايل (وګورئ د ګرديزي زين الاخبار ۱۳۱). دغه خلک خو په عقيده کي خارجي وو. مګر تش لاسي بې وسلې خواري کښان او دهقانان وو چي را ولاړ شوي او ياغي خلک نه وو. زما په خيال به دلته دغه نا لوستلې کلمه پښتو (نا+کښېنستو) وي. چي د هغه عربي قعدي=کښېنستو شخه به يو پښتو تعبير وي، د کښې ناستل يعني قعود له ريښې شخه. ځکه چي دغه ناست او قعدي کلي وال خلک د سني او شيعي حکومتو مطيع اوايل رعيت وو. نو دوي به د خارجي توب عقايد نه ښکاره کول او په غوڅ ډول به يې لکه نور پر ميدان ولاړ خارجيان، خپل عقايد په توره او زور پر نورو نه ور کوترمول. دلته خوشحال اخوند درويزه لکه يو ولاړ خارجي يعني "نا کښېنستی" معرفي کوي. چي لکه ناست او قعدي خارجي غوندي نرم او خاموش نه دی. د دغي نا لوستي کلمې لپاره زما توجه د تاريخ په رڼا کي داسي ده. که څوک تر دې بله منلې توجيه لري او د سياق او سباقه سره تر دې سمه وي، د اروېدو وړ به وي. دلته دا هم مه هيروئ چي د قاعد (ناست=کښېنستي) کلمه په قرآن عظيم کي د مجاهد په مقابل کي څو څو واره راغلې ده (سوره النساء ۹۵) چي د طبري د تفسير په فارسي ترجمه (۲ر۳۱۲ د تهران چاپ) او د کابل چاپ د شيخ الهند د اردو تفسير په فارسي

(۳۷۹) عـام عـالـم قرآن حديث پـه سـترکو ويـني
لاپـه نـورو کـوڅو ګرزي خـاوري پـيـنـي [۱]

(۳۸۰) عـام وګړي پـه مـعـنـا لـکـه دواب دي
پـه دوابـو کـي د ګڼو پـه حـسـاب دي [۲]

(۳۸۱) چـي يـوه ګڼه روانـه شـي د وړانـدي
هـغـه نـوري ګڼې تـلـه ور پـسې کـانـدي

(۳۸۲) حـقـيـقـت د هـر ابـلـه، د نـادان نـه دی
چي د خدای بـانـدي پـيرزو دی، د هغه دی [۳]

(۳۸۳) څوک پـه پـير او پـه مرشد، څه لـره ويـاړي؟
خـپـل مـراد دي هـمـګي لـه عـلـمـه غـواړي

(۳۸٤) شـکـر دا چي پـه دا وقت، عـالـمان ډير دي
مـدعـي شـيـخـان کـه هـم تـر شـمـاره تېر دي

(۳۸۵) خـدای دي مـا، د مـدعي شـيـخـانو ژغوري
تـل د مـا وي عـالـمـان د سـترګو تـوري [٤]

(۳۸٦) هـر عـالـم چي ربـانـي دی، تـرې ځاريـږم
نـفـسـانـي وتـه غـلـيـم غـونـدي ښکـاريـږم

ترجمه (۱ر۵٤۳) کي يې معنا نشستګان يا نشينندګان ده. پر ميدان ولاړ او جنګي خارجيانو به په دغه آيت: و فضل الله المجاهدين على القاعدين اجراعظيما (النساء ۹۵) تمسک کاوه او ناست کلي وال به يې "قاعدين يا قعدي" ګڼل چي د مجاهدينو سره سم نه وو. لايستوی القاعدون من المؤمنين غير اولى الضرور المجاهدون في سبيل الله (النساء ۹۵). له دې ځايه به له عربي "قاعد" څخه په پښتو کي هم د کښېنستي او نا کښېنستي اصطلاح را پيدا شوې وي.

۱. پينل: کپه کول، ميده شی په يوه پلا خولې ته اچول او اپيلل.

۲. ګڼ؟ د کاف په زوره کي. تر پسه، مؤنث يې ګڼه (جمع) ګڼې.

۳. يعني حقيقت د هر ناپويه په نصيب نه وي. پر چا چي د خدای پېزو وي د هغه به برخه وي.

٤. د سترګو توري=د سترګو تور. د جمع مؤنث په ډول راوړل به د شعري ضرورت له پلوه وي.

(۳۸۷) چې په علم، عمل جوړ دي رباني دي
بې عمله علم، واړه شیطاني دي
(۳۸۸) نیم ملا، بلا د دین او د ایمان دی
نیم طبیب خطر د تن دی، هم د ځان دی
(۳۸۹) مدعي ملا که ډیر علم حاصل کا
دی چې علم په دنیا پلوري، باطل کا [۱]
(۳۹۰) چې په زړه کې یې ذره د دنیا عشق دی
د درویش درویشي نشته، واړه فسق دی
(۳۹۱) یوسفزیه یې ساړه کړه له سیده
ملنګان یې وشړل واړه له ضده [۲]
(پای)

د سوات نامې سمونه او سپړنه او څرګندونه (تصحیح، تحقیق، تحشیه) د کابل په جمال مېنه کې د ۱۳۵۸ هجري شمسی د ثور په لومړۍ ورځ د افغانستان د علومو د اکاډیمۍ لپاره پای ته ورسیده (حبیبي).

---

۱. باطل کا: یعني باطل کار او ناوړه چاره کوي.
۲. دلته له سیده مراد هغه شاه عیسی دی چې دمخه یې نوم په ۳۵۲-۳۵۸ بیتو کې یاد شو.